کابل

THE LIBRARY OF
CONGRESS
SERIAL RECORD
APR 4 1944

(۱۳) کال سنبله ۱۳۲۲ (٦) گڼه

کابل

ادبی ، اجتماعی ، تاریخی

میاشتنۍ مصوره مجله

چلوونکی : کل پاچا «الفت» دپښتو ټولنی مبصر
او دصحافت مدیر
پته : پښتو ټولنه ، دابن سینا واټ
تلگرافی پته : کابل ، پښتوټولنه
ټول لیکونه ع،ص عبدالحی خان «حبیبی» دپښتو ټولنی عمومی مدیر او دمطبوعاتو دمستقل
ریاست معاون ته کېږی

اشتراک

کابل :	۲٤ افغانی
دننه مېنه :	۲٦ «
دباندی :	۱ سترلنگ پونډ
دښوونځیو زده کوونکی ته	۱۲ افغانی

ددې ګڼې لیکونکی

لیك	لیکونکی	مخ
داستقلال ورځ	دصحافت خانګه	۱
دپښتو لیکلو بشپړ اومشترك سبك	ښاغلی «مجروح»	۲
« « « «	« « الفت »	۵
پښتنو اله او خپلوا کی	« «رښتین»	۷
هر نوی شی ستوغ وی	د « « سیفی » ترجمه	۱۰
خلقی ضعف اواغیزه ئی پر اجتماعی ژوند	« « «واسعی» «	۱٤
ژوندون په کوم وخت کښې اهمیت لری	« « «نظامی» ترجمه	۱۷
سپین غر	« «مجروح»	۲۲
« «	« «حبیبی»	۲۳
« «	« «الفت»	۲۵
ساقی نامه	« «حبیبی»	۲٦
ملی بدله	« «جرار»	۲۷
دشیلی جل	د « «حبیبی» ترجمه	۲۸
دادب ګلونه	« « «سیفی» «	۲۹
پښتو چیری بیایو ؟	ښاغلی «حبیبی»	۳۰
دیوی پوښتنی لحواب	« «رښتین»	۳٤
دمینو ستاینه	« «نوری»	۳٦
په تورو تیارو کښې ددرنګونو (معدنو) کینل	« « سیفی لنډونه	٤۰
دافغانستان پخوانی تاریخ	« «کهزاد»	٤۱
تسلیم	« «جرار»	٤۵
رستم	« «پرهیز»	٤٦
ماګډولینه	د « «بینوا» ترجمه	٤۷
ستوری	دصحافت خانګه	۵۰
داصلاح ۱۵ کال	« «	«
دهمایونی اعلیحضرت فوتو (۱) قطعه		

په دې ګڼه کښې ولولئ :

۱ : - دپښتو لیکلو بشپړ او مشترك سبك

۲ : - سپین غر

۳ : - پښتو چیری بیایو ؟

1500B54



زمونږ زلمی ټولواك اعلیحضرت محمد ظاهر شاه چه دخپلوا کی ساتندوی دی ،
او د وطن د لوړ تیا سره ډېره مینه لری .

د استقلال ورځ

شپې او ورځې تولې یوراز نه دی اونه څوك هروخت جشنونه اواختر ونه کوی - دالمر او سپوږمی هره ورځ اوهره شپه داسمان له هسك بامه خپل ځان ښئی مگر کله کله ئی خلق ښه استقبال کوی اودقدر یه ستر گو ورته گوری ځکه چه هرملت یخپل حیات کښی ځینی ځینی ورځی لری چه جشنونه یکښی کوی اوله نورو ورځو څخه امتیاز لری .

هو ! یه هرهواد کښې ځینی تاریخی او بختوری ورځی وی چه له اسمانه دخوشحالی او نیکمرغی پرښتې را ښکته کیږی اودلمر وسپوږمی یه رڼا کښی یو ښه اوسپېڅلی نورځلیږی - کله کله داسې ښه ساعتونه پیښیږی چه دسعادت له هواده استاځی راځی او یوه ملت ته ښه ښه زیری اوپیغامونه راوړی .

همدغه راز ورځې دیوه ملت دتاریخ مهمی بانی وی چه غټ غټ واقعات یکښی ښتیږی او یو لوی ظرفیت پیدا کوی .

لکه چه یه یو کام اوتېر کښې ټول افراد یوراز نه وی اونه گرد وگړی یه یوه ستر گه لیدل کیږی همدغه راز توری شپې او رڼا ورځې هم دی .

لکه چه یه یوه لوی تېر کښې یونیم سړی لوی لوی کارونه کوی او دلویو افتخاراتو خاوند کیږی همدغه راز یه میاشتو او کلونو کښی هم ځینی ورځی وی چه مهم واقعات اوغټی خبری یکښی خرگندیږی او تاریخی قیمت پیدا کوی .

زمونږ یه گران هواد کښی داستقلال گټلو ورځی هم له همدغسی ورځو څخه دی چه دپښتون یه تاریخ کښی ستر مقام اوځلاند موقعیت لری - یوپښتون هیڅکله داسی ښی ورځې نشی هیرولی اونه دنیا ور ځنی ستر گی پټولی شی .

یه دغه ورځ ددی وطن ښاغلی اولاد اوپیاوړی نسل خپل سرونه قربان کړل ، له خپل کور او کهول میندواوپلرونو ، ورونواوځامنو ، اشنا یانو اوملگرو څخه تېر شول اوخپلی ټولی آرزوگانی او راز راز محبتونه ئی دوطن داستقلال اوآزادی له مینی ځارکړه ، هر څه ئی پرېښودل مگر ننگ وغیرت اودپښتونولی وظیفه ئی پری نښوده .

نوځکه داحساس ملت ددغونو موړو یه یاد او ددغو ښو ورځو یه استقبال جشن اواختر کوی اودپښتونولی روح ته سلامونه استوی .

دکابل مجله چه دوطن له هرراز سعادت سره مخصوصه علاقه لری ددې بختورو ورځو تبریك د پښتون ننگیالی ملت اوخپل ځلمی اوگران ټواواك اعلیحضرت محمد ظاهر شاه ته یه ډېره مینه والی او اعلیحضرت شهید محمدنادر شاه اوداستقلال شهیدانو ته له لوی ځښتن څخه لوی لوی اجرونه غواړی . «دصحافت خانگه»

دتیری شماري داقتراح سلسله:

د پښتو لیکلو بشپړ او مشترك سبك

(۲)

دکابل دمجلې په (۱٤۸) گڼه کښې ښاغلی (حبیبی) له دې پورتنی عنوان لاندی د اقتراح په ډول څو اساسی او مهمی پوښتنی کړی او دپښتو دحقیقی او معنوی ژوند په نبض باندې ئی گوتې ایښی دی ـ دهمدی اقتراح په اثر کښې ښاغلی اوفاضل ادیب سید شمس الدینخان «مجروح» چه په ادبی مسایلو کښې ښه بصیرت اوعمیق نظرلری مونږ ته یوخوږ اوپوخ مضمون را استولی دی چه دلته ئی نشروو اوله نورو پوهانو څخه هم غواړو چه خپل قیمتی نظریات ونه سپموی .

«دصحافت څانگه»

ښاغلی فاضل حبیبی !

گران غوندی سوال موکړی چه سړی کولی شی په لږ قدر څټ کږ ولو اواوږو پورته غور ځولو ددې موضوع استقبال وکړی او ځان خلاص کاندې مگرزه هم ددی موضوع سره ډېره علاقه لرم نو به پری وغږېږم زړه به مې غوښته چه که څوك پردې موضوع خبری وکړی اوڅه واورم ، ښه شوه تاسې یاد کړه اوڅه موپری وویل ـ له همدی خبرو موقع په لاس راغله چه څه ولیکم ـ یقین دی چه زما جواب به ستاسی دقول تائید اواکثر به ستاسې دخبرو تکراروی خو هر چه چه دی همدا زما نظریه ده .

ښاغلی شمس الدین خان «مجروح»

سبك څه ته وائی ؟

گمان کوم دلته به غرض له هغه روح ځنی وی چه په یوه نثر کښې مو نده شی اودهغی تحدید و تعریف څه قدر گران دی اودسر دسترگو نه زیات دزړه په سترگو (ذوق) ښه لیدل کېږی ، څه رنگه چه دروح نه دروح په مظاهرو تعبیر کولی شی داسې به سړی څه نه څه سبك ته هم گو ته و نیسی . یعنی سبك هغه شی دی چه لغات او الفاظ داعضاء اوجوارحو غوندې ، صرف ونحو د ضربان قلب اود وینی د چلند په شان دهغی دپاره کارکوی اوچه داټول (اوپاته نور) سره راغونډ شی نو یوموجودیت تری جوړ شی اوڅه رنگه چه د اعضاء دتناسب نه او دطبیعی نظام دښه چلند نه جمال او نشاط پیدا کېږی داسی هم د سبك ښه والی دهغی داعضاؤ پر تناسب او انسجام پوری ، او دهغې د حیاتی نظام په صحت اوښه والی پوری اړه لری .

تاسی پوښتنه کوی ، چه (آیا پښتو دنثر لیکلو بشپړ اومشترك سبك لری ؟ که ئی لری نوا یاد غه سبك ښه او کافی اودادبی ښېگړو وړدی که یه؟). بشپړ اومشترك سبك؟! نه! نه ئی لری ! اوپه سلو کښې سل کیدی هم نشی اوباید توقع ئی هم ونه کړو .

ځکه دوه کسه غبرگونی (توامین) چه خلك وائی په یوه څیره دی بیاهم سره څه توپیر لری ، اوخپل خپلوان اودقیق اوحساس خلك ئی پیژنی ، اوڅه نه څه ممیزات لری چه پرهغه پیژانده شی: په یو مملکت کښې هر څوك دجنوب اوشمال اوشرق اوغرب اوسیدونکی دهغوی له کړو وړو نه ، اوله بدنی ساختمان څخه پیژندی شی .

هو! یو قوم او ملت چه نسبت بل قام ته ، او یو نژاد نسبت بل نژاد ته د قیافی او ساختمان په لحاظ بیل او جلاوی او دومره څه مشترکات چه فردی او ناحیوی اختلافات په هغه کښې سره راغونډشی لری؛ کیدی شی چه داسی یو مشترک او بشپړ سبک هم پښتوولری ، او پیدائی کړی ، د پخوانو د سبک مغایرت د اوسنو سره د اوسنو د سبک بیلوالی یو له بله ډېر ښکاره او روڼ دی ، د عربی تاثیر ، د فارسی اغیزه ، د اردو رنګ ز مونږ په نثرونو کښې له ورا ښکاری . او د سبک اشتراک ئی وران کړی دی ، کله کله لا سړی د ار وپائی ژبو جلوی هم پکښې وو ینی او د تقلید او پیروی لار له سړی نه ورکه شی او هک حیران پاته شی .

ښه نو چه لری ئی نه نو د ادبی ښېګړو د پاره د کفایت سوال ته خو هډو ضرورت پاته نه شو که څه هم څو تنه پیاوړی پیژنم چه ښه څه لیکی او خبری ئی پر سړی خوږی لګی ولی بیا هم زما دا منفی جواب د هغوی بی احترامی نه کوی او رښتیا هم ده .

تاسی بله یو ښتنه داسی کوی ، ! « آیا د سبک تکمیل ممکن دی ؟ - او اوسنی پښتانه د پښتو د نثر د پاره باید څه وکړی؟ » . هو! ممکن دی او دا کمال په لار کښې به ګړندی قدمونه واخلی چه په الوتو الوتو به روان شی - د طبیعت د غیر متغیر قانون په ترڅ کښې (چه موجودیت ته حرکت وائی ، حرکتونه هم د کمال په لور ګڼل کېږی) دا به هم ځی ځی ..

خدا زده چه څه به تری جوړ شی ؟! دا اوسنی سبکونه به یقیناً یو وخت (عیناً) د فواید لشریعه د آهنګ په شان عجیب و غریب بریښی ، او ښه ښه تحولات او تطورات به پکښې وشی او که هغه لږ څه لازمی مغایرت د هغه عصر په سبک کښې بیا هم موجود وی ستر ګو ته به نه راځی او بد به نه ښکاری ، زه د خوشبینی په خوب کښې خبری نه کوم او نه د وریځو او ښان جوړوم ، بلکه د تطور قانون دا جرئت را کوی ! او د ژبو تاریخی سرګذشت پری شهادت وائی . هو! د فنا او زوال ، د انحطاط او ورکید و مثالونه هم شته که تاریخ څه هیر کړی وی د زمانی په یاد دی او شپو ورځو پخپله لمن کښې نغښتی او له ستر ګوئی پنا کړی دی . خو تر څو پښتون او پښتنو اله ژوندی وی پښتو به هم مخ په وړاندی درومی که (لا سمح الله) مونږ نه وو دا به هم نه وی !

پاته شو ستاسی د سوال دوهمه برخه (چه اوسنی پښتانه د پښتو د نثر و د تکمیل د پاره څه کولی شی) دا د مطلب ټکی دی . او هم دا نقطه ده چه له نظری خوانه ئی عملی او حیاتی قیمت زیاد دی . تاسی په جواب کښې هم د موضوع حق ادا کړی او ښه څه مو ویلی دی مثلا په دی نظریه کښې « چه ژبه د خپلی پالنی تر لمړی دوری وو ته او دا د بی نهضت لمړنی پوړونه ئی پری کړه هلته نو یو مشترک او ښکلی د لیک سبک مومی » د سره شریک یم بل ځای وایی : « د ژبی د لیک کوم سبک جوړول یو ارادی او د یوه سړی مخترع کارندی » هو! په دی کښې هم ستاسی ملګری یم .

مګر دومره قدر ده چه یو سړی د یو شاهکار په ایستلو مخترع ګڼل کېږی او په ژبه کښې د سبک مجرا بدلولی شی .. مثلاً - قرنونه قرنونه د سعدی د اسلوب تعقیب خلکو کاوه ، او کلونه کلونه د سالنامی غوندی (رزمی - تاریخی) مثنوی ګانی شعراء ولیکلی ګویا د غو سړو د ژبی په دنیا کښې ادبی انقلاب پیدا کړ ، او د یو نوی سبک طرف ته میلان د دوی د اثارو په راوتلو شروع شو مګر ډیر بطی ! او لا سړی ور ته غیر شعوری هم ویلی شی .

هر کله چه داسی شیان منځ ته راشی نو بیا خلک زړی سندری پرېږدی ، او نوی تال را واخلی . بیا څوک د مطلب آغاز همیشه په (نقل کا ، وائی) - لکه چه څه موده مخ کښې کیده نه کوی او بیا هر مضمون (په څرګنده خبره ده . . .) او یا داسی نور و جملاتو سره نه شروع کیږی څوک غورځی او څوک ولاړیږی او هی پر دغه لار ځی که ځای ته ورشی که نه خو لار (قابو قابو) یوه وی دا لا څه کوی چه داسی آثار په چا کښې د ابتکار قریحه ژوندی کړی ، او د استعداد د خاوند انو د آئینی نه د تقلید

اودمحافظه کاری گردونه پاك کړی او په چا کښې بالعکس نوی جمود پیدا کړی اودخپل ځان دتقلید احساس پری په هرڅه غالب کړی .

خود اسی آثار کله کله دادب په اسمان کښې لکه شهاب ثاقب ځلیږی امارڼائی تر ډیره پاته وی ، اودډیرعالم سترگی مخکښې ، یاوروسته ورواړوی . گوروبه چه داسکه به دپښتو په نثر کښې دچاپه نامه وهل کیږی ، اوداسویه به دچا نصیب شی ؟ ، او داځوی به پښتنه مور کله پښتون قام ته وړاندی کړی ؟ اوس سم دستی زمونږ دافریضه ده چه ډیرڅه ولیکو ! اوهمیشه ئی ولیکواوهرڅه ولیکو !! اودپښتو په خپل رنگ کښې لیکونه شروع کړو دجامعې په مخ کښې به ئی ږدو دهغی ذوق به پخپله په انتخاب لاس پوری کړی ، ښه به اخلی . بد به پریږدی . ورووړو به هغه څه چه دجامعی وجدان ، اوسلیم ذوق ئی ښه قبلوی دیوسبك په حیثیت په میدان کښې ودریږی اوټول به دهغی خواته منډی وهو . دبقای اصلح قانون به په کښې هم خپل رول لوبوی ، څه به فنا کوی ، اوڅه به روزی . دنثر لیکلو اودسبك دښه (واضح) ښکاره کیدلو دپاره ښه زمینه اومساعد میدان ادبی پارچی او دقصو کتابونه دی خوچه ترجمه مرجمه نه وی اودپښتو ددماغ محصول ، اودپښتون دعلم اوذکاء تحفه وی اودپښتون دماحول اوپښتنی روایاتو ځنی ئی الهام اخستی وی بل ددی سیر دسرعت دپاره انتقادات هم ډیر خدمت کوی اوداحرکت تریوحده گړندی کولی ، اومنظم کولی شی . بایدپه دی ضمن کښې له انتقاداتو نه غفلت ونه کړو : اوهمیشه دانتقاد په وسیله دسبك دخرابوالی مخه ونیسو . خوشرط دادی چه لیکونکی به خفه کیږی هم نه ؟

مامخ کښې وویل چه (دپښتو په خپل رنگ کښې لیکونه شروع کړو) زړه می غواړی داټکی په غټ قلم ولیکم ، اویادلته در کلام دفن دقایقو ته لاس وا چوم ، اوخلك خپل مطلب ته ښه ملتفت کړم . خوویریږم چه دا لنډه جمله به زما مطلب ښه ادانکړی ، اوچه زما په زړه کښې څه گرزی دهغی به ښه افاده و نه کړی شی . د پښتو دخپل رنگ نه غرض نامانوس لغات او کلمات نه دی چه څوك دی په خپل لیك کښې هرو مرو راوړی ، د دی دامطلب نه دی چه پردی کلمات دی هډوڅوك وائی نه . رنگ هم عیناً دسبك په شان یوجوهری موجودیت دی چه له ډیره وضاحته ئی تعریف لږ څه گران دی خو جلوه ئی ډیره څرگنده ده دحمید بابادابیت رایادشو .

که می تیره مغلواله درقیب کړه

زه به نه یم زیږ ولی پښتنې

گوری ، ! دلته کوم لفظی صنعت اویاتخیلی ابتکار موجوددی ؟ چه دابیت دپښتنو په ذوق دومره خوږلگی اودومره ډیر خوند تری اخلی ! دلته نور څه نشته دپښتو خپل قدرتی رنگ ځلیږی (ومن احسن من الله صبغة) دلته دیو پښتنی اشکال تصویر باسی اوپښتنی سوگندخوری .

یوه بله مصرع چه معاصرینو ملگروکښی چاویلی زما دومره خوښه شوی ده چه تراوسه می لا خوند په خوله کښی دی هغه داده :

وائی پښتانه په هر چا خپل وطن کشمیر دی ـ

دلته هم نورڅه نشته یوپښتنی ضرب المثل لکه مرغلره چه سړی په ښه تناسب په هار کښی پیی پییل شوی ده .

اوه ! نثرمی پریښو دنظم ته می خوله واچوله معاف می کړی ، ! خونا کام دی غواړم دپښتو دمخه پرده لری کړم چه رنگ ئی ښکاره شی .

اوددغه رنگ جلوه دروښیم هرچرته چه وی مطلب دادی چه پښتنی منطق ، پښتنی امثال ، پښتنی جذبه دپښتو اصطلاحات اومحاورات په خپلو لیکونو کښی داسی ښکاره کړو لکه یو مصور چه تابلو جوړوی اوهلته درنگ امیزی مهارت استادانه وښئی . غرض دادی چه هغه اوږدی اوکږی وږی جملی چه سل موقوفه جملات لکه (راغلی .. وړی ... تړلی) په پوه شوی و تمام نه کړو ، او دمطلب ټکی ته له کږ وو ږ ولارونه رانشو اوله کرغیړ نوترکیباتو نه ځان وژغورو ، اوهغه څه چه د پښتو روح دهغی نه بیزار دی ، بیزار شو اودسلیم ذوق په لارښودنه او قضاوت عمل وکړو .

دپښتو لیکلو بشپړ او مشترك سبك

(۳)

گل پاچا «الفت»

د کابل دمجلې په (۱٤۸) گڼه کښې ښاغلی فاضل حبیبی صاحب داقتراح په ډول دامهمه موضوع مینځ ته غورځولی ده او څو غټی غټی پوښتنی ئی کړیدی چه هغه دادی :

ایا پښتو دنثر لیکلو بشپړ او مشترك سبك لری! که ئی لری نو ایا دغه سبك ښه او کافی دی او دادبی ښیګړو وړدی که یه ؟ ایاد سبك تکمیل ممکن دی ؟ او اوسنی پښتانه دپښتو دنثر دتکمیل دپاره باید څه چاری وکړی ؟ ـ داپوښتنی پدی لحاظ چه په التزامی ډول یوښه تلقین پکښی پروت دی او دنویسندگی سلیقه او قریحه روزی دستایلو اونمانځلو حق لری .

ددی دپاره چه بحث تش خیالی آهنگ پیدا نکړی اوڅوك مشوش نشی چه مونږ سبك څه ته وایو او په څه مفهوم ئی پیژنو څو خبری دسبك په شاوخوا کښی کوو او بیا جوابو ته راځو .

سبك :ـ

زرویلی کول او په یوه قالب کښی ئی اچول دسبك لغوی معنی ده نو معلومېږی چه ز مونږ بحث دژبی دترکیبی اوتالیفی وضعیت په شاوخوا کښی دی او هغه مخصوص رنگ چه هره ژبه ئی دکلماتو او جملو دنښلولو اودتعبیر اوافادی دډول په لحاظ لری سبك ئی بولی .

خبره لااوس هم په تورتم کښی پاته شوه څوك به گمان کوی چه زه سبك هغه شی بولم چه د ژبی دگرامر په پیروی کښی موندل کېږی مگر هغه سبك چه زه ئی پیژنم گرامر ئی سړی ته پوره نه ور ښئی اوکیدی شی چه دیوه گرامر شا گردان هم بېل بېل سبکونه واری .

زه په مجمل ډول ډېری خبری نشم کولی غواړم چه دیوه مثال په رڼا کښی سبك وښیم ، داچه یوسړی وائی مونږ خپله ژبه خرابول نه غواړو اویوبل وائی مونږ خپله ژبه نه خرابوو، دادوه سبکونه دی چه گرامر به دواړه صحیح گڼی مگر څوك چه په ژبه کښی بصیرت لری هغه خپل اوپردی آهنگ پیژنی .

لکه چه هره ژبه دځینو خصوصیاتو په اعتبار ځانته سبك لری دغه راز لیکونکی او شاعران هم بېل بېل سبکونه لری اوهمدغه سبب دی چه شعرشناسان اغلباً یوشعر دآهنگ له مخی پیژنی چه داد چادی او کوم سبك ته ورته دی .

دښاغلی حبیبی صاحب مقصد دژبی عمومی سبك دی چه د مشترك له کلمی څخه هم معلومېږی نو ځکه زه په خصوصي سبکونو باندی بحث نه کوم .

داچه پښتو دنثر لیکلو مشترك سبك لری که یه ؟ معلومه خبره ده چه ټول پښتانه لیکوال د یوه سبك پیروی نکړی بلکه په دوه دری سبکونو باندی بېلېږی .

سړی چه په پښتو کښی یوه عمومی مطالعه وکړی برسېره په وړو او جزئی اختلافاتو چه دیوه او بل لیکونکی دلیك په ډول کښی لیدل کېږی په عمومی لحاظ هم پښتو دنوعیت په اعتبار دوه دری رنگه لری چه سبکونه ورته ویلی شو یعنی لکه قوس قزح دوه دری رنگونه دپښتونخوا په فضا کښې وینو چه یوله بل سره نزدی دی اوڅه قدر تداخل هم لری چه حدودئی یوله بله په قطعی ډول نه بېلېږی ـ ددی رنگونو بېلوونکی یوازی دسبك اختلاف نه دی دلغاتو اختلاف او دلهجی اومحاوری اختلاف هم پکښی ځان ښکاره کوی .

پدی کښی مې مقصد دانه دی چه زه دیوه ځای لغات له بل ځایه ښه گڼم یاداوایم چه ټول باید دیوی لتې لغتونه په تحریر کښی قبول کړی بلکه غرض مې دادی چه لغتونه سره ردوبدل او شریك شی چه دیوه ځای او بل ځای لیك دوه ډوله ونه ایسی او خپل سمتی رنگ ښکاره نکړی - ځینی شیان داسی هم شته چه هغه باید دللون په ډول له تحریر څخه وایستل شی یعنی پدی دوه ډوله افادو کښی چه (پر فلانکی ملاسبق وایم - له فلانکی ملاڅخه سبق وایم) (پزه ئی ورماته کړه - پزه ئی پری ماته کړه) یوشی غوره کړو.

نه نه ؛ پری ئی زدوچه زمانه اودبقای اصلح قانون پکښی یوشی غوره کړی مونږ به اوس یوازی همدومره فکر کوو چه کوم ډول افاده دپښتو خپل اواصلی آهنگ دی او کوم له بلی ژبی څخه اخستل شویدی .

زما په عقیده اوس لا پښتو دسبك په لحاظ یودار از اشتراك لری لکه چه دانواعو اواجناسو تر مینځ شته مگر که داترجمی وی چه نن ورځ خپرېږی ډېر ژر به ئی ښه بل راز واړوی اودډېروژبو اومختلفو سبکونو رنگ به پکښی پیدا کړی زه دحبیبی صاحب ددی فکر ډېر طرفداریم چه هر څوك هر څه ولیکی اودپښتو ټول رنگونه ښکاره شی چه دبقای اصلح قانون پکښی له خپل انتخابی ذوق څخه کارواخلی مگر د نن ورځی تراجم دپښتو درنگونو په ځای ټول پردی رنگونه راوړی نو که په هغو کښی هر رنگ غوره شی بیا به هم پردی وی .

همدغه اوس یوه پښتو جمله زما په مخکښی پرته ده چه د پښتو موجوده دوه دری سبکونو سره هیڅ راز قرابت نلری جمله داده (زماسره دڅه ډول وضعیت امر کوی) دغسی نورې ډېری جملی دکابل د مجلې دادبی لارښودنی په برخه کښې مونږ په وارو وارو لیکلی دی چه ځینی مثالونه ئی دادی :- یو مخرب ئی د تارپید وتر نښلولو لاندی راووست- کله داسی اعمالو او کړو ته مرتکب شی چه ددرانه زیان موجب وگرزی- هغه خدمتونه چه ده له ځانه ښودلی و - ز مونږ ډاډ ته تصدیق ور کوی یا داسی نور . . .

نوداخبره چه هر څوك باید پرېږدو چه هر څه لیکی ددی وخت ضرورت هم مونږ ته وائی اوپری ایښی ئی هم دی چه دغه راز جملی ولیکی اود پښتو دسبکونو رنگ واړوی مگر څه شی چه ډېر ضرور ایسی هغه دانتقاد آزادی ده چه باید منقدین هم پرېږدو چه په هرچا اوهر راز انتقادونه وکړی اونظریات ښکاره شی.

کومه خبره چه زماډېره خوښه شوه هغه داده چه حبیبی صاحب په څرگندواو واضحو عباراتو وائی چه دژبی دلیك کوم سبك جوړول یوارادی اودیوه سړی مخترع کار نه دی- مگر څه نور وضاحت هم لاغواړی. زه دامنم چه یو سړی هېڅکله لکه یومخترع دسبك په جوړولو ارادتاً کله نه دی لگیاشوی یعنی سبك لکه شعر یاتصویر چانه دی جوړ کړی بلکه ورڅخه جوړېږی (مگر داچه دسلیمان ما کونثراو دخیر البیان نثراود خوشحال خان لیکل بېل بېل سبکونه بلل کېږی داخبره ثابتوی چه یو سړی دسبك مالك گڼلی شواوداسی کېږی چه یوقوی اولوی لیکونکی دیوی ژبې دعمومی سبك په احاطه کښی ځینی مفید اوجایز تصرفات وکړی چه دی پکښی دمالکیت اوذوالیدی حق پیدا کړی ، یعنی لکه یو باغوان چه دیوه لوی ځنگله په یوه خوا کښی دځینوونو اوبوټو په تربیت اوروزنه دمالکیت حق پیدا کولی شی اوپه همدغه معنی ورته باغ جوړ وونکی او باغوان ویلی شو یوه لیکونکی او شاعرته هم سبك جوړوونکی ویل کیږی مگر داجوړول دیوه مخترع له جوړولو څخه فرق لری .

یوبل سوال هم شته چه اوسنی پښتانه دپښتو دنثر دتکمیل دپاره باید څه چاری وکړی ؟ که ووایو چه دمطبوعاتو مستقل ریاست یاپښتو ټولنه اودنشریاتو عمومی مدیریت باید د پښتو دنثر د تکمیل دپاره څه وکړی ښه به وی ځکه چه یوخوبه له مبهم اومجهول مخاطب څخه معلوم مرکز ته را شو اوبل به دیوه پیشنهاد حق هم اداشی .

هر څوك پدی باندی پوهېدلی دی چه د پښتو ښه اوبد ، هغه دغه همدوی ته سپارل شویدی او هر څه چه کوی همدوی به ئی کوی نوبهتره ده چه د دعاقبلېدو زیارت وپېژنو او بیا سوالونه وکړو .

لکه چه په نشر یاتو کښې دلیکلو او پښتو لیکلو دزیاتوالی دپاره څه تجویزو نه شویدی او هر یومجبور

(نوریه ۷ مخکښی)


اجتماعیات

داستقلال دجشن په مناسبت:

پشتنوا له او خپلوا کی

« ښاغلی « رښتین »

له کمه وخته چه دخپلوا کی او داستقلال دالوی او بختور نعمت زمونږ لاس ته راغلی دی ، له هغه وخته څخه هر کال زمونږ په گران وطن کښې ددغی ورځی او نعمت په یادو جشنونه کیږی . تاسی پوهیږی، زمونږ داجشنونه او خوشحالی، څه معنی گانی لری؟ او دڅه دپاره دی؟ داددې دپاره دی چه په دی ورځ مونږ دحقیقی او با سعادته او با شرفه ژوند ون خاوندان شوی یو په دی ورځ مونږ حیات او ژوند پیژندلی دی په دې ورځ مونږ په دنیا کښې خلکو په ژوندو شمیرلی یو، په دی ورځ مونږ داسارت دځنځیرونو څخه خپل ځانونه خلاص کړی ، او دماتحتی زولنې موماتې کړی دی ، د اجشنونه او خوشحالی لدغه کبله او دغی وجهه څخه دی. بل موجب یا بل عامل نه لری . ښائی چه ددی ورځی په خوشحالی مونږ خپل مالونه وښیندو. تاوانونه وکړو؛ او زړونه خوشحاله کړو ، داورځ ډیره قیمتی ورځ ده ، ځکه چه داورځ مونږ ته دخپلو سرونو او دوینو په عوض کښې لاس ته

(د ٦ مخ پاته)

کوی چه په کال کښې پنځوس او که پنځوس نه وی پنځه ویشت مقالې خوارو مرو ولیکی کیدی شی چه د پښتو دلیك دښه والی او کیفیت روزلو د پاره هم دغسی ښه ښه فکرونه وکړی او دسبك تکمیل ته څه چل جوړ کاندی . دا خبره ددې دپاره نه کوم چه زه گوندی دلیکونکو دزیا توالی مخالف یم یادا وایم چه دابتدائی لیکونکو دتقدیر دپاره دی څه شی نه وی مونږ کولی شو چه کمیت او کیفیت دواړه وپالو ځکه چه داد واړه خوڅه دبنو مثال نلری چه ددواړو مراعات او زړه سا تل امکان ونلری او نه دوه هند وانی دی چه په یوه لاس کښې ونه نیول شی .

که مونږ د کمیت څه ډیر طرفدار اوسو نوهم دغه دوه کاله مشر توب ئی بس دی ، پس له دی باید ښو مقالو ته هم په جوایز وکښې برخه ورکړو لکه چه تر اوسه موډیرو مقالو ته ورکړیده .

که څوك ئی او ری یوچل بل هم را یاد شو چه د کیفیت روز نه او تقدیر په داسی جوایز ووکړو چه هغه کیفی او معنوی قیمت لری - که داخبره ومنل شوه نو بیا لیکونکی پخپله داسې چاری پیدا کوی او کوی ئې چه دپښتو دنثرد تکمیل دپاره ښه خدمت وبلل شی او هغه وخت مونږ هم کولی شو چه دنثرد ښه والی دپاره لارې چاری وښیو یادنثر لیکلو مسابقی شروع کړو .

راغلي ده ، وينې موتوی کړی دی ، سر ونه موقربان کړی دی، مالونه موتاوان کړی دی، اوداورخ مو کتلی او لاس ته راوستلی ده . نوځکه داورخ ډېره عزیزه اودقدروړ ده، داهغه ورخ ده چه د استقلال اوخپلواکۍ رڼا پکښې خلیدلی ده. داهغه ورخ ده چه دتو رویه برېښ رڼا شوی اوسپین پړك شوی ده . په دی ورخ مونږ دخپلواکۍ دنوم سره آشناشوی ، اوبلد شو ی یو . داخوږنوم په دی ورخ زمونږ خولې ته راغلی اوپه ژبه موجاری شوی دی . پخوا تر دې تش یو نوم وچه په مفهوم نی هم نه پوهېدو. هو! پخوامونږ داسارت په توره تیاره کښې پراته وو ، زمونږ ستر گو هیڅ نه لیدل ، اونه په څه پوهېدو ، دهرڅه څخه موسترگی پټې وی ، خو چه داستقلال رڼا راخپره شوه . او دخپل وا کۍ نمر دوطن په آسمان کښې راوخوت نوپه ستر گومو رڼا شوه، تو لې تیری ورکې شو ې ، ټول و طن ددغه نمر پلوشواوورانگوروښانه کړ ، او هر پلوته رڼا ئی اوروښنائی شوه . په دغه رڼا کښې موچه ستر گی وغړولی نود وطن په هر بو ټی، کانی مو د ا پا کی اوخوږی کلمی ولیدلې : (خپلوا کی ، آز ادی ، استقلال)دا هغه کلمی دی چه دتورویه سرونو په سختو سختو کا نو او تیږو لیکل شوی دی .

دادرې واړه هغه بختوری کلمی دی ، چه خلق ئی په پیدا کولو پسې سر گردانه اولی په لی گرځی .

دا کلمې دهرچا خوښی اوهرچاته خوږی دی ، څوك چه ددې کلمو څخه محرومه وی ، هغوی تل پریشان سرگردان اوپه بدحال وی ، نه د ژوند څخه څه مزه اخستی شی اونه په خوشحالۍ پوهیږی ، دد و ی ژوند دمرگ سره برابروی ، دشرف مرگ تری لاسل ځله غوره اوبهتر دی ، ولی چه دغمونو او کړاوونو څخه به خلاص ، اودروحی عذاب څخه به نجات و مومی ، په دنیا کښې اصلی مال دولت اوجائیداد خپلوا کی اواستقلال گڼل شی که سړی دډېر مال دولت خاوند شی هم د آزادۍ نه په غیر خوشحالۍ اوراحت نشی موندلی . راحت آرام خوشحالی ، مسروریت داټول په خپلوا کۍ کښې پراته دی ، اودخپلوا کۍ په اثر سړی ته حاصلیږی . آزاد قوم آزاد انسان په ټوله معنی بختور اومسعو د دی ، استقلال دقومونو داوړوالی اوترقی لوی عامل اوموجب دی. څوك چه ددې وسلې څخه محروم دی ، دحیات په جگړه کښې دهغوی کامیا بېدل مشکل دی . مونږ ډېر بختوریوچه داستقلال وسله مو په لاس ده ، اودخپلوا کۍ نعمت مونصیب دی. پښتنو، خپل استقلال په غیرت اوپه پښتنواله گټلی دی. پښتنواله دپښتنو هغه سخته او کلکه زغره ده ، چه هیڅ گولۍ پری اثر نشی کولی خرنگ چه مونږ خپل استقلال په پښتو اوپښتنو اله گټلی دی دغسی زمونږ ټول کارونه په پښتنواله گټل کیږی اوحا صلیږ ی . ننگ غیرت ، مړانه ، پښتو ، ناریتوب ، شجاعت ، داټول دپښتنو هغه لازمی اودایمی اوصاف دی ، چه ددوی سره لکه ددوی دروح ملگری اویوځای دی ، داستقلال دجگړی په میدان پښتنو ددې ټولو اوصافو امتحان ورکړی دی اوپه سر ووینو رنگ شهادت نامه ئی اخستې ده پښتون هغه ننگیالی اوتوریالی قام دی ؛ چه دوطن کانی بوټی غرونه ، رغو نه ، ډاگونه . تراوسه پوری ددوی په وینو رنگ پراته دی اوددوی دقربانیو شهادت ورکوی . پښتنواله اواستقلال سره لازم اوملزوم دی ، استقلال په پښتو اوپه پښتنواله گټل شوی دی ، اوپه پښتنواله په ساتل کیږی ، نوڅه رنگ چه پښتنو ته دخپل استقلال ساتل لازم دی ؛ دغسی دوی ته دخپلی پښتنوالې تینگول هم ضرور اوحتمی دوی . مونږ به په پښتو اوپښتنواله پاتی کیږو ؛ اوپه دی واسطه به دزمانی دسیلاب نه په امان کیږو . بایده دی چه دالوړ او قیمتی جوهر له لا سه ونه کاږو ، اوپه پښتنواله باندی ځان کلك اومحکم کړو. داهغه جوهر دی چه دپښتنو روح بلل شی ؛ اود اهغه روح دی چه دپښتنو اجتماعی کالبوت پری ژوندی اومتحرك دی . پښتنواله څه ته وائی؟؟ د ننگ غیرت

پښتو مړانې ، ناريښتوب ، شجاعت ، صداقت ، وفا توري ، همت ، عزم ، ارادې ، مېلمه پالنې ، قربانی ايثار، محبت، شفقت، مرحمت ، غرور ، عزة النفس داټول معانی چه يو ځای شی نو دپښتنوالې مفهوم ځنی جوړ شی پښتواله ددې ټولو اوصافو دمجموعی نوم دی .

پښتواله دپښتنو هغه لوړ عادات او اخلاق دی چه دهغې په برکت دوی دنوی نوم او شهرت خاوندان شوی دی .

پښتون بی له پښتنوالې څخه پښتون نه باله کېږی ، دا ټولو پښتنو قانون دی چه څوك چه په پښتنواله ټينګ او کلك نه وی ، او دپښتنوالی په لار سم نه وی هغه ته پښتون نه وائی او نه ئې په پښتنو کښې شمېری ، نو معلومه شوه چه پښتنواله دپښتنو دتن ګانه او دوجود جامه ده ، دوی په پښتنواله ښه او ښکلی ښکاری ، او ددوی سره هم داجامه خوند کوی . پښتون چه بی پښتو شو ، او پښتنواله ئې پرېښوده ، نو هغه دپښتنو په مذهب له خپله قومه ، نسبه وو ت ، او هغه بیا په پښتنو کښې دشرېکیدو حق نه لری . راغلو اوس اصلی مطلب ته ، مطلب دادی چه خپلوا کی او پښتنواله دواړه هغه شیونه دی ؛ چه له يو بل نه نه جدا کېږی ، څو پوری چه پښتون په پښتنواله او پښتو ټينګ وی ؛ يعنی د غیرت او تريخی څښتن وی هغه پوری به دی دخپلوا کی او آزادی خاوند هم وی . ځکه چه دپښتنوالی قانون هیڅکله غلامی . او اسارت او دبل دلاس لاندی ژوندون تیرول نه منی . او ددی وجه داده چه پښتنواله دداسی کارونو او خو يو نو او اوصافو نوم دی ، چه دهغی کول دنورو دلاس لاندی ګران دی . بلکه هغه خپلوا کی او استقلال غواړی نو کوم وخت چه خپلوا کی نه وی ، آزادی سلب شی ؛ په دی وخت کښې پښتو هم ئې ، پښتنواله هم ورکېږی ، هیڅ نه پاتی کېږی ، اودا دپښتنو مرګ او فنا کېدل دی . نو مطلب دا شو چه زمونږ خپلوا کی او آزادی په پښتنواله پوری تړلی دی . بایده دی چه مونږ تر مرګه پوری پښتو او پښتنواله پری نږدو او دپښتنوالی په اصولو کلك ودرېږو . دقومونو ژوند او حیات ، فقط دهغوی دعاداتو اخلاقو ، ملی عنعناتو ، دودونو ، دستورونو پوری مربوط دی څو پوری چه دوی له دغه اشیا و نه لاس نه وی اخستلی ، هغی پوری دوی دخپلوا کی خاوند ان اوژوندی باله کېږی او هر وخت چه ئې خپل اخلاق او صاف ، ملی عنعنات ، پرېښوول او دنورو قومونو عاداتو ، رواجونو ، پری غلبه و کړه ، نو هغه وخت د دوی حیات او ژوند هم په خطر کښې لوېږی او ورځ په ورځ فنا ته نږدی کېږی . څو مره چه معلومه ده ډېر قومونه هم دغسی فنا شوی ، او خپل موجودیت ئې بایللی ، او دنورو داثر لاندی راغلی دی . نو ځکه دهر قوم پوهان ، علما او هوښیار خلق ، قایدین ، کوشش کوی او زیار کاږی ، چه په خپل قوم او خپل ملك کښې خپل ملی عنعنات ، رسومات ، عادتو نه اخلاق وساتی او په ښه صورت ئې پالنه او روزنه وکړی ، او خپل واړه هلکان په همدغه روح يعنی دملیت په روح لوی کړی ځکه دوی پوهیږی چه د قومونو ، ترقی لوړوالی آزادی ، استقلال خپلو ملی عنعناتو او خپلو تاريخی مفاخرو ترټينګو لو پوری تړلی دی او په دی واسطه سره قومونه په مستقل او باشرفه ژوندون کولی شی . کوم قوم چه خپل اخلاق ، عادات ، رسومات ټينګ نه کړی شول ، او په دغه شیونو کښې مغلوب او پاتی شو . نو هغه قوم نور په دنیا کښې دمستقل ژوند خاوند کیدی نشی او نه خپل استقلال ، او خپلوا کی ساتلی شی ، دژبی مغلوبیت همدغسی مغلوبیت دی . يعنی که په ژبه کښې هم يو قوم بل ته ږ او مغلوب شو ، نو هغه هم خپل موجودیت له لاسه وکاږی او فنا ته نږدی کېږی نو ای پښتنو ! په خپله پښتو پښتنواله او ژبه کلك ودرېږی ، او دا ښیګړی له لاسه مه وکاږی ! ژوندون مو په هم دی پوری تړلی دی خپله ژبه مو وپالی ، پښتو او پښتنواله ټينګه کړی خپل ملی اخلاق ، عادات ، خو يو نه مه پرېږدی ، خپل شرف او ناموس مو وساتی نو هله به په دنیا کښې مستقل او آزاد ژوند وکړی او هله به په خپل واك او اختیار کښې پاتی شی !

دامیر بقطر مصری په قلم :

هر نوی شی ستوغ وی

دښاغلی عزیز الرحمن خان « سیفی » ترجمه

دامشهور متل دی چه هر نوی شی خوندور اواذیذ وی لیکن داقاعده لکه چه دخلکو خیال دی هغومره عمومیت نه لری بلکه کله نوی شی خوند وروی او کله ستوغ اوتریخ وی داخبره صرف په عاداتو اوتقالیدو کښې نه ده بلکه داسلسله په مادی او محسوسو شیانو کښې هم جاری ده. او لکه چه عادات او تقالید په بشر باندی پوره سلطه لری هم دغه شان ئی مادی او محسوس شیان هم لری.

دعلم النفس پوهان وائی انسان چه په کوم شی عادت شی نو ددغه عادت څخه ئی گرځول یو گران او مشکل کار دی . او دیو زوړ عادت پریښودل او یو نوی اوناآشنا شی سره ځان عادت کول ډیر زور اوزیار غواړی، او دیو زوړ عادت پریښودل او دیو نوی عادت سره الفت پیدا کول یوه داراز موازنه اوتفکیر غواړی چه دزوړ اونوی عادت په مینځ کښې موازنه وکړی شی اودهغوی په ښه والی اوبدوالی اوتوازن ځان یوه کړی شی لیکن داکار په اول کښې ډیر زیار او فکر اوتحمل او قوی اراده او متین عزم غواړی، ځکه چه انسان له راحت او آرام او استراحت سره طبعاً ډیره مینه اوعلاقه لری او داراز خلك ډیر کم لیدل کیږی چه هغوی آرام اواستراحت سره علاقه نه لری او دزیار اوزحمت سره دی دپاره مینه اوعلاقه لری چه ددغه زیار اوزحمت په سیوری کښې اصل حقیقت ته ځان ورسوی او ځان اصلاح او حقیقت ته ورنږدی کړی لیکن ځینی خلك دځینی اقتصادی او اجتماعی اویاد یو خپل ضرر اوویری څخه زوړ عادت پریږدی اوله دغه کبله نوی عادت سره ځان اشنا کوی اویا په دغه کار دخپل نفس څخه دضرر دفاع کوی . ریاضیون وائی چه ډیره نږدی مسافه ددوو نقطو په مینځ کښې مستقیم خط دی او فلاسفه او سیاسیون دانظریه لری چه منحنی خط ددوو نقطو په مینځ کښې ډیر نږدی اولنډ مسافت دی ، ځکه چه دفلاسفهؤ په خیال کښې لف اودوران حقیقت ته ډیره لنډه اونږدی لیاره ده . اوهم دالیار مقصد ته در سیدلو د یاره لنډه اواسانه لیاره ده ،او اصولیان دانظریه لری چه جمود یو ځای ته درسیدلو دپاره غوریزه اوښه لیاره ده .

که انسان دانسانی تمدن په خواوشا کښې پلټنه وکړی او په دی مسئله کښې ځیر شی نو هغه به دی نتیجی ته ورسیږی چه انسان دخپل تمدن په اجرا کښې داسی ډیرو مشکلاتو سره مخامخ شوی دی چه هغه ددوی دتقهقر اووروسته کید اوسبب شوی او په ځینو وختو اومراحلو کښې ئی ددوی په فعالیت کښې سکته وارده کړیده او ددوی د مرام او مقصد ښکلې معشوقه ئې د ناکامی په غشو و یشتلی او غلیل غلیل کړیده.

ددی تقهقر سبب دکیمیا پیاوړی یوه « دکتور ادون سلوسین » د « نیو فوبیا » دمرض سره تشبیه کوی چه هغه دخلکو عقلو نه خرابوی اویه خلکو کښې دبرق پشان خیریږی اوددی مرض او « هیدروفوبیا » نومی مرض داخاصیت دی چه ددی رنځونو مریضان دهر شی څخه بیریږی اودابیره په دوی باندی دومره غالبه وی چه دوی ته خپل دارو هم دزهرو په شان ښکاریږی دامنل شوی خبره ده چه په هرقام کښې ددی مرض جراثیم شته دی لیکن ددی بدمرض او مهلکو جراثیمو دورکولو دپاره ښه او کامیاب علاج هغه علمی

اولوړه تربیه‌ده چه‌دهغی تربیې په‌سیوری کښې‌دخلکو په افکاروکښې ددی‌خبری قوه پیداشی چه‌هغوی په خپل‌سود زیان پوه‌شی‌اودنوو افکار ومنلواو قبلولوته تیار اوآماده‌شی . دسنه ۱۸۲۵ کال دمارچ په میاشت دانګلستان په‌پارلمان کښې چه‌اول ځل دریل واور ګاډی دافتتاح په‌مناسبت منعقد شوی‌و دپارلمان یوه‌عضو وویل چه‌دادشیطان‌څرخه یوډیربد اونا پوه سړی اختراع کړی ده ، اوددی‌وینا په وخت کښې دومره په قهرو، چه دخولی څخه‌ئې دډیره قاره ځګونه بادیدل؛ ده‌وویل چه‌داډیربداویوداسی‌مضرشی دی چه‌دده دابدلوګی دډیروخلکو دضرر او تکلیف موجب دی ؛ دغه‌سړی ددی نوی‌شی‌په بدی باندی ډیر اوزد تقریروکړ لیکن‌سره ددی هم‌دی په دغه خپله‌نظریه اوفکر کښې ناکام پاته‌شو اونن هماغه شی دی چه‌دخلکو په استراحت اوژوندون کښې لوړ مقام اوپوره اهمیت‌لری اوخلك ورته په‌ښه سترګه ګوری هم دغه شان په کوم وخت کښې چه په انګلستان کښې‌دنماینده ګانو په مجلس کښې دبخاری‌بیړی‌په‌باب کښې‌یوه نماینده نطق وکړنو یوبل نماینده دده په‌مقابل کښې‌پورته‌شواوپه ډیر قاراو غضب سره ئی ددغی نظریې په‌مخالفت کښې وویل: محترم نماینده ته‌دی داخبره معلومه وی‌چه مونږ خپل‌ځانونه د مرګ په خوله کښې غورځوو او جنګونه کوو او دخپلومقاصدوپه لیار کښې دهیڅ قسم‌تکلیف څخه مخ نه اړوو،اومونږ دانشومنلی چه مونږد داسی عزم او ارادی خاوندان په‌یوه خوټیدونکی کټو کښې کښینو-کله‌چه په روما کښې عصری‌اوه او اته منزله عمارتونه اوبنګلی‌و دانی شوی او داوبو منظم‌نلونه او دخونو تودولوبخاری نلونه جوړ شوه نو د دی ودانیو په‌مقابل کښې دروما یوحکیم-«استشا طسفیکا» په‌ډیرقار اوغضب راپورته‌شواوپه ډیرافسوس اوتاثرئی ددغه کارپه مقابل کښې په دی مضمون په‌خلکو کښې پروپاګنډ وکړچه داکارونه زمونږ دپخوانی تهذیب سره ډیرمنافی او داخلاقو او فضیلت د ښکلی ماڼی دورانولو دپاره‌یوه مهمه خطره ده. باید مونږ دخپلو پخوانو مشرانو پشان په جونګړو اوساده کورونو کښې آزادانه استوګه وکړو اوخپل‌ځانونه دمرمرو او رنګا رنګ پنګلو اوفیشن غلامان‌نه‌کړو .

که‌نن دغه حکیم‌راژوندی شی اود خپل قبرڅخه سررا بهرکړی اوپه نړی باندی یونظر وکړی اود الوړی مناري و وینی نودی به دومره په قارشی چه د خپل قار داظهار دپاره به په لاتینی غوندی پراخه‌ژبه کښې هم توری اوکلمی‌بیا نه مومی اوخپل زړه به‌تش نشی کړی په‌اوه‌لسمه پیړی کښې چه «کوریت» نومی انګلیسی ایطالیی ته ولاړ او د هغه ځای نه بیرته راغی اوځان‌سره‌ئې یوه‌پنجه‌ر اوړه،نودغه‌د ډوډی‌خوړ لومشهوره آله خلکو په ډیر و بدونومونو یاده کړه او اکثروخلکوبه دغی آلی‌ته شیطانی آله ویله او هر کله‌چه خلك‌په دی خبرشوه‌چه‌دی په‌دغه آله‌ډوډی‌خوری نودی به‌ئی لیونی باله او په ده پوری به‌ئې وشتی توقی کولی،اودبی دینی‌نسبت به ئې هم ورته له‌دی‌کبله کاوه چه‌دی دپاك‌خدای دخلقت یعنی ګوتو توهین کوی او دخپلو ګوتو څخه په ډوډی‌خوراك کښې استفاده نه کوی ، دوی به ویل چه داسی سړی به‌چا لیدلی وی چه هغه‌په خپلو ګوتو باندی ډوډی‌نه خوری او شرمیږی؟ داسی افکار په‌بشر کښې‌خوراډیردی،مګر ښه داده چه دعقل په دائره کښې‌دننه دننه‌د بشر داجتماعی مزایا و د میراث څخه هرڅوك استفاده وکړی او په هره وسیله‌چه‌وی دوحشت څخه مدنیت‌ته‌ځان ورنزدی کړی.

په کوم وخت کښې‌چه دبلغاریا خلکو مسیحی دین قبول کړنود دغه دین روحانیانو یومجلس جوړ کړچه آیاپه دی نوی دین کښې زمونږ دپاره داخبره رواده چه مونږ هغه خپل پخوانی پرتوګونه یعنی پتلونونه واغوندو که‌یه؟اوددې سبب‌دا وچه په دغه وخت کښې پتلون په‌نصرانیانو کښې رواج‌نه درلوده لیکن زمانې اوعصر دوی دخپلی سلطی‌لاندی داسی راوستل‌چه‌نن ورځ کوم نصرانیان چه‌په آسیا او افریقا کښې‌دخپل دین تبلیغات کوی هغوی ددغو تبلیغاتوپه ضمن کښې دپتلون وغیره توصیه هم خلکو ته کوی چه دهغوی

هم ددوی پشان شی.

ددینه زیاته د تعجب خبره داده چه کوم وخت کښې چه دعینکو ایښودل نوی پیدا شوه ددی نوی کار په خواوشا کښې خلکو راز راز خبری شروع کړی اودا کار ئی یوه بداخلاقی وګڼله دوی به ویل چه دا ډېر بد کار دی ځکه چه دا کار مساوات ته مضر دی اوخوك چه عینکی په ستر ګو زدی هغوی دنورو خلکو څخه چه په ستر ګوئی نه زدی امتیاز پیدا کوی اودوی به ویل چه د جمال او حکمت دقوانینو له رویه باید ښځه عینکی بالکل استعمال نه کړی. ددغه کار په مقابل کښې دانګلستان مشهور فسیس دا اعلان وکړ چه عینکی ایښودل په اخلاقو باندی ظلم دی ځکه چه په عینکو کښې شیان په خپل اصلی اوطبیعی حال باندی نه ښکاره کیږی. او په عینکو کښې ډېره بده خبره داده چه په عینکو کښې حقایق په کاذبه رڼا کښې ښکاره کیږی.

هر کله چه موټر نوی جوړ اوښکاره شو نو خلکو ددی نوی شی په مخالفت کښې هیڅ کمی ونه کړ او ټولو خلکو به داویل چه داشی دامنیت اودغریبو خلکو دپاره ډېر مضر دی چه پلی په لیارو کښې گرځی.

د ۱۹ پیړی په ابتدا، کښې چه په «فیلادلفیا» کښې اول په اول د تېږو سکاره کشف شوه او چا نه پېژندل او خلکو ته داستعمال دپاره ورکول کیدل هغوی ددغو سکرو داخستلو څخه انکار وکړ او دغه سکاره ئی دبلو لو دپاره نه استعمالول وروسته بیا دغه سکاره دنورو تېږو پشان دسرکو نو په پخولو کښې استعمال شوه.

یو مورخ دغه ښارته یوه سوداگر دغه سکاره په یوه گاډی کښې دخرڅولو دپاره راوړی وچه خلکو دغه گاډی ولیده نو دغه تاجر ته ډېر په فار شوه او ډېر بدرد ئی ورته وویل، او خبر ئی کړ چه که تا بیا داشی بازار ته راووړ نو مونږ به دی بندی کړو د ۱۸ پیړی په نیمائی کښې یونوی (بانیو) نومی شی په امریکه کښې ایجاد شو او دغه دلمبلو طشت په کورونو کښې دلمبلو او استعمال دپاره خلکو ته وړاندی کړشو ددی نوی شی په لیدلو خلك ډېر متاثر شوه او دقلم او صحافت خاوندانو په اتفاق سره په ډېره ترخه ژبه ددی نوی شی په مقابل کښې راز راز مقالی خپری کړی، او په خپلو مقالو او مضامینو کښې ئی داخبره خلکو ته ښکاره کړه چه داشی ددیمقراطیت داصولو څخه بالکل خلاف دی. دا کتر انو په دغه خبرو داخبره هم ورزیاته کړه چه داشی دصحت او روغتیا دپاره ډېر مضر شی دی او باید خلك ددی بدشی داستعمال څخه ځانونه وژغوری، او ددی شی مخالفت په ټولو طبقاتو کښې دومره ډېر شو چه خلکو ددی شی په مخالفت کښې حکومت ته ددی خبری پیش نهاد وړاندی کړ چه باید داشی بند کړشی او محصول ئی دومره زیات شی چه خلك ئی نشی اخستلی او یا خلك اجبار اددی داستعمال څخه منع کړل شی، ددی پیش نهاد په اثر په فرجینیا کښې په یوطشت باندی دیرش ریاله محصول مقرر شو او دبوستن بلدیې دیو مذهبی استناد په اثر ددی شی استعمال په خلکو حرام کړ.

هر کله چه اول اول چاپ شوی کتابونه بازارونو ته راغلل نو خلکو ددغو کتابونو ډېر سخت مخالفت وکړ او دایطالیی یوهانو په خپلو بیانونو کښې وویل چه دا کار دبی دینو خلکو کار دی او دانوی بدعت المانیانو میدان ته راایستلی دی. دایطالیا کاهنانو په خپلو تبلیغاتو کښې دی خبری له ډېر زور ورکړ چه باید چاپ خانی وسوځولی شی او ماشینونه ئی مات کړه شی ځکه چه داشی زمونږ ددین او ژوندون دپاره ډېر سخت ضرر رسوی. کله چه دمالګی لمړی پیړی انګلستان ته راورسیده نو خلکو دغه مالګه قبوله نکړه او دومره مخالفت ئی وکړ چه دغه مالګه دریاب ته وغورځول شوه. او هر کله چه اول ځل لندن ته مالګه راوړل شوه خلکو دهغی داخستلو او استعمال څخه انکار وکړ، بیا ئی غوښتل چه دښار په فقیرانو باندی ئی وړیاو ویشی لیکن هغوی هم قبوله نکړه او عبث شوه.

پخوا پخوا چه انګلستان ته کچالان راوړل شو نو خلکو ددغه شی داستعمال څخه انکار وکړ او وئی ویل چه ددی استعمال دانسانی جامعی دپاره مضر دی.

رومی بانجې خلکو تر پښو لاندی کړل او وئی ویل چه داشی دخلکو اخلاق خرابوی.

کله چه اول اول په مصر کښې دبرق کارخانه جوړه شوه نو د مصر اکثرو خلکو دغه برق قبول نه کړ او دبرق په مخالفت

کښې ئې راز راز پر وپاګنډونه شروع کړل چا به ویل چه دا دستر ګو نظر کمه وی، چا به ویل دا ډېر خطرناک شی دی اوله دی څخه په کورونو کښې اورونه لګېږی؛ ځینی متعصبینو به ویل چه مونږ ولی دخپل پلارنیکه ډیوی او څراغونه پرېږدو او دا غربی بدعت په خپلو کورو کښې ننه باسو. ډېر وکاهنانو برق ته په خپلو کلیساګانو کښې ځای ورنه کړ او ددی شیانو په اثر برق تر ډېری مودی پوری سخت مخالفین لرل او ددی ښکلی رڼا څخه چا استفاده نه کوله لیکن ورو ورو دغی عجیبی اختراع دخپل قوی جمال په مرسته دغه ټول مشکلات دخپلی مخی څخه بېر ته کړل اونن په اکثر وښارونو کښې دبرق ښکلی رڼا څخه راز راز استفادی کېږی. ځینی لوی اوشته من خلك داسی هم شته چه هغوی د ډېر تعصبه تر ډېری مودی په ګاډی او موټر کښې نه سپریدل سره د دې چه دوی په دی قادر ووچه ډېر اعلی موټرونه د خپلی سپارلۍ دپاره واخلی لیکن دوی به په سپینو خرو سپرېدل او په دغه سپارلۍ به ئی افتخار کاوه، او د دوی د دی تعصب به خلکو دومره تقدیر کاوه چه خلك به په بازارونو کښې ددوی د احترام دپاره درېدل او دوی به ویل چه مونږ خپل پخوانی دود نه پرېږدو او په څاروی سپرېدل ډېر ښه کاردی. په دی سپارلۍ سړی محترم ښکاری او داعزت او وقار په موټر او ګاډی کښې نشته، دخره سپارلۍ صحت ته ډېره ګټه لری او موټرونه او ګاډی ډېر خطرناك شیان او د روغتیا دپاره مضر دی.

په کوموقامونو کښې چه عمرانی نهضت پیدا شی او هغوی په نوی عصری ډول داسی ښارونه ودان کړی چه په هغی کښې انسان د لمر دوړانګو او تازه هوا او ښکو باغچو او عصری حمامو او د صحت او استراحت د ټولو لوازمو څخه پوره استفاده کولی شی نو په دغه وخت کښې ډېر ځامن دخپلو پلرونو سره تل په دی خوابدی وی او جنګو نه کوی چه باید دابی اصوله خونی پرېږدو او نوی ښار ته ولاړ شو چه د لمر له وړانګو او پاکی هوا څخه استفاده وکړو، دغه پلرونه تل د خپلو ځامنو ته په ځواب کښې وائی چه مونږ دخپل پلارنیکه مینه نه پرېږدو او دخپل پخوانی طرز څخه لاس نه اخلو زمونږ دپاره دازوړ کور او د خپل پلارنیکه مینه ډېره ښه ده.

امین سامی پاشا په خپل یو تالیف (التعلیم فی مصر) نومی کتاب کښې لیکی چه دمصر خلك دخپلو هلکانو په تعلیم کښې ډېر وروسته پاته وو. او دنجونو د تعلیم ډېر زیات مخالف وو. د دغه مخالفت درفع کولو دپاره محمدعلی پاشا دې خبری ته اړ او مجبور شو چه هغه د کلوت بك په معرفت لس تنه سوډانی نجونی د قابله ګی د فن دزده کولو د پاره په بیعه واخستلې او د خپل حرم دمخصوصونو کرانو څخه ئی د وې نجلۍ د طب او جراحی دزدکړی پاره معلمانو ته وسپارلی.

د دغه اقدام په اثر خلك دنجونو د تعلیم په فائده پوه شوه او ددی خبری ضرورت ئی حس کړ دا ټول هغه تاریخی واقعات وو چه مونږ د نمونی د پاره ذکر او بیان کړل؛ اوس مونږ غواړو چه څه قدر ته فکر وکړو او د فکر نه وروسته پوښتنه وکړو چه آیا مونږ به تل د نو و آراؤ او افکارو سره مقابله او مقاومت کوو؟ او تل به ورځنی بېرېږو؟ هر وخت به افتخار کوو چه مونږ د خپلو زړو لیار تنګه کړی ده او د زمانی او اجتماعی مسائلو ایجابات په مونږ اثر نشی کولی.

پر خلق د تربیت اغیزه

خلقی ضعف او اغیزه ئی

پر اجتماعی ژوند

(۳)

دښاغلی واسعی ترجمه له الهلا له:

دمخه وویل شوه چه په جامعه کښې هر فرد سم دخپل حالت او سویی سره دخلقی ذوق او په دغه ذوق د شعور او احساس یوه برخه اخلې او داهم معلومه او ښکاره ده چه دافرادو داخلاقی ذوق او شعور دبرخی په اندازه سره ټولنی او جامعې چه دهغو افراد و څخه ئی تشکیل موندلی وی د قوت او ملی استحکام او سعادت لرونکی وی ! هو ! یو ملت چه صانع ، او کښتگر ، قاضی ، معلم ، عالم ، عسکر حاکم ، او په آخر کښی ئې هر فرد دخپل واجب او وظیفی مراعات په هر شق کښې کوی ، او سر بېره پردې ئې دافرادو څخه هر فرد تعاون او یو په بل درحم او پېرزوینې د قانون او واجب څخه ځان نه سپموی آیا دغه ملت قوی او غښتلی او مستحکمه او نیکمرغه ندی؟ .... مگر دی. مقصد ته چه په ملتونو کښې داسی کسان ډېر کړای شی چه دخپلو واجباتو تر عهدی ووزی او خلقی شعور ئې قوی وی پر کمه لار سړی و رشې او څه شی سړی ددې غرض په موندلو سره کامیاب کولای شی. ؟

زما په خیال ددې چاره چه مونږ په خپل واجب د شعور احساس تېره ، او خپل خلقی ذوق واضح او هغه وجدانې لمبه چه دهغی په ذریعه دژوند په تورو او تاریکو لیارو کښې روان یو ښه روښانه کړو داده چه مونږ دخپلی عمومی تربیی اصلاح چه دټولنی ژوندون او اجتماعی حیات په هره ناحیه کښې لیدل کیږی داسی اصلاح شی چه زمونږ خلقی ذوق او شعور ژوندی او تازه او روښانه کړی .

مثلاً په کور او کاله کښې باید کچنی ته دلمړی ورځی څخه دمور ویلار دخوا دواجباتو او وظایفو په شاؤخوا کښې وخت پر وخت تلقین وشی او دخپل کچنی په غوږ کښې ، همیشه دواجباتو دپر ځای کولو اهمیت ور کو او تل ئی کو ښښ داوی چه کچنی ددې واجباتو دپر ځای کولو یو ممثل او نماینده میدان ته راوباسی همدغه ډول په مکتب او مدرسه کښې باید هلك ته په تلمیذی محیط کښې دواجب پر شعور تمرین ور کړه شی او دا یکښې راسخه شی چه دواجب تر سیطری او حکم انسان هیڅ کله ورتلای نشی. په رسمی چارو او دعمومی مفاد په چوکۍ کښې ناستو کسانو ته هم باید پدغه موقع کښې د واجباتو اهمیت تر غوږه شی بلکه پر لیاره باید یو بیدار پولیس دخپلی وظیفی دپر ځای کولو پر موقع مونږ دخپلو واجباتو دپوره کولو خواته چه په دغه فرصت کښې ئی زمونږ څخه تقاضا کېږی ملتفت کړی.

چه هغه عبارت ، دهغو شرطو څخه دی چه پر عمومی لیارو ئی د تردد په وخت کښې مراعات ضرور دې ، سهارنی او ماز دیگری پاڼی هم باید دجامعی دافرادو سره ددې پلو څخه مرسته و کړی او همیشه د خپلو اخلاقی مضامینو په خپرونو خلقی شعور لمبه تازه کړای شی . دغه رنگه په مسجد ونو او نورو عبادت ځایو کښې باید دواجب د شعور زمینه آماده او دا جتماعی حیات په هره جنبه کښې دخیر او جمال مینه دجامعی دافرادو په زړه کښې اچول کېږی لنډه دا چه جامعه باید په خپله هره قیافه او بڼه کښې یوه داسی مدرسه وی چه دهری خوا چه سړی

ورته گوری پخپلو افراد وکښې دخلق د روزنی تاکید اود اخلاقی شعور استحکام اوټینګول ځنی اوری هغه ملتونه چه هر ډول مدنیتونه او مختلف حضارتونه ئی تیر کړی دی دمعارفو تر وسعت او د علمی معلوماتو تر حاصلولو ئی اخلاقی جنبی ته ډیر زور ورکړی او خپل مدنیت او تهذیب ته ئی دخلقی شعور پر اساس تمرکز وړ کړیدی ، دا ځکه چه د یوه ملت دلوئی او عظمت لمړی بنسټ همدغه شی دی ، او د حضارت او ملی نجابت مهم اساس خلقی شعور دې .

دمترقی ملتونو د تهذیب پلانونه هم د دغی نقطی څخه راشروع شوی او د دوی پر هر فرد دتعلیم صبغه په هغه واضحه اندازه لکه دخلقی تربیی صبغه چه پر معلومه ده نده څرګنده . او په همدغه واسطه دغه ملتونه دبشری ترقی په لیار کښې تر نورو ملتونو ښه وړاندې تللی دې .

نو زمونږ داخبره چه د مخه مو وکړه چه په افراد و کښې دخلقی ذوق په تندولو کښې د عمومی او خپری تربیی دو سایلو څخه مرسته اخیسته کیږی ، دا یوه جوته او فیصله شوی مسئله ده چه خلقی ذوق دعمل او تطبیق په ذریعه شدت او تیزوالی مومی او عمل او تطبیق هغه پر سړی اسانه وی چه اراده او عزم متانت او کلکوالی ومومی او همت لوړ او هسک وی نو له دغه جهته زما عقیده داده چه باید لمړی او تر هر څه دمخه ضعیف او سست عزیمتونه متانت او کلکوالی ومومی او مړاوی ارادی ژوندی کړی شی چه دخلقی معنی ؤ څخه استفاده کول پر اسانه شی ، او داخلاقو په تقاضا تعمیل او تطبیق سخت نه پرلګیږي .

زمونږ دخلقی ضعف بعضی نقطی:

اوس به ښه داوی چه مونږ دخلقی ضعف بعضی نقاط سره دهغو نتیجو چه داجتماعی حیثه څخه پر مر تیبیږی څرګند کړو ، داخلقی ضعف زیاتره په دوو ځایو کښې ښه څرګندیږی :

اول : پخپله خوښه او هواپسی تله او دخپلو شهوتونو متابعت .

دوهم : تراندازی زیاته غوړ ژبی او تحمل کول .

دریم : دغیرت دشعور ضعف .

دخپلی خوښی او هوا دمتابعت نخښی زیاتره په هغو کسانو کښې معلومیږی چه یو داسی مرکزیت ورله تهیه شوی وی چه دهغه سره دی کولای شی چه سم دخپلی خوښی او تمایلاتو سره که څه هم عمومی مصلحت او دنورو حقوق ضایع شی اقدامات وکړی .

نو که فرضاً دجامعی داټیپ کسان هر څونه دهسکو صفاتو او فاضلو اخلاقو څښتنان او د کلک عزمه او ژوندی ارادی او ذکاوت خاوندان هم وی مګر چه ددوی غایه او مقصد دخپلو تمایلاتو او هواؤ تر سره کول وی نو ټولی ښیګڼی پکښې ورکی ، او دصفاتو او فاضله اخلاقو قیمت ئی کښته او دهغی مغشوشی روپۍ غوندی وی چه شرنګی ئی خیژی مګر ارزیدنه او قیمت ئی بایللی وی دا ځکه چه خیر او ښیګڼه په هغه ځای کښې پیدا کیږی چه هلته دخیر اندیښنه او روحی وجود مومی او فضیلت هلته ښاخ ؤ پاڼه او سیوری اچوی او ریښی ځغلوی چه دفضیلت خاوره او منبت ورله موجود شی .

تر حد زیاته غوړ ژبی او بیځایه تحمل:

دوهمه ناروغی چه په زیاترو ټولنو کښې خپره ده بی ځایه تحمل او تر حد زیاته غوړ ژبی ده تر دی حده چه ادبی شجاعت ئی ترشاکړی او داحتساب او نصیحت فضائل ئی ضعیف کړی دی او نزدی دی چه ورو ورو دجوامعو او ملتونو د اجتماعی حیات ماڼۍ د اوینو غوندی څومده وروسته داساسه څخه اچولی او ړنګه کړی .

داسی کسان ډیر شته چه ددوست سره داسی پستی او نرمی وراشی کوی لکه ددښمن سره چه مقابل شوی او خورا ځینی بیریږی او سر بیره پردی چه دیوه سړی نیمګړتیاوی او نواقص ورمعلومه وی او باید اخطار پرور کړه شی مګر بیا به هم داسی وضعیت ورسره کوی لکه هیڅ یو نقیصه او بدی چه ئی نه وی ورمعلومه او دهره حیثه څخه داحترام او درناوی وړوی داسی کسان هم ډیر شته چه تل پر کږه لیاره روان ، او قدمونه وګامونه چپ اخلی ، او نیتونه ئی کرغیړن وی مګر سره دهغه څوک څه نه ورته وائی او نه ئی تعقیب کیږی ، ددی کرغیړن او بدخلقی دحالت علت چه زیاتره اوقات انسان دنصیحت او احتساب دمهمی وظیفی

دیر ځای کولو څخه محروموی بی ځایه غوړژ بی او ناجائز تحمل دی .

کله کله دځینو کسانو داخیال وی چه دا یو دفضایلو اودانسان دپاره دادب او تهذیب دشرطونو څخه دی حقیقت دادی چه دخلقو سره مجامله داخلاقی لوړوالی یوه نوعه شمیرل کیږی او تهذیب د صورتو څخه یو صورت دی خو یدی شرط که مجامله دیوه بد وصف او رذیل خوی دتینګیدو باعث یه هغه چا کښې ونګرزی چه مجامله ورسره کیږی، او یاددی دپاره چه خوک دځانه څخه راضی او خوښ کړو عمومی مصلحت خراب نشی، یادیوچا حقیقت ته تغیر نه یه ورکړه شی، روروځان تصویر او تخیل مخالف له هغه څخه چه یه حقیقت کښې دی پر هغه صورت باندی وی یه نظر نه ورشی او دخپل قیمت څخه ناخبره یاځنی ورک شی .

هو! اغراق ستا څخه هغه وخت قبول دی چه دخپل یوه دوست ملګری سره ئې یه غم یا ښادی کښې وکړی هغه وخت اغراق او مجامله پروانلری چه ستا یه اغراق او مجامله سره دیوه سړی داسی شی ستایل کیږی چه دهغه یه ستاینه سره بل خوک نه زهیریږی او نه ئې موقعیت ته صدمه یه رسیږی لکه ته چه دچاد کالو اولباس تعریف ډیرورته وکړی او دریشی ئې ډیره وستایی چه خورا فوق العاده ښه جوړه شوی او تو ته ئې ډیره اعلی ده دا نوعه مجامله او اغراق چه عمومی او مشترك ذوق نه یه مجروح کیږی څه باك نلری، مګر داسی مجامله او اغراق یه هیڅ صورت نه در څخه قبلیږی نه دادب او نه دتهذیب یا تحمل پنامه او نه یه بل عنوان چه تا نه دیوه سړی یه شلو بد خویونه او رذیل اوصاف درمعلومه وی او تا مجامله او اغراق ورسره را اخستی وی.

ماته خپل یو ملګری معلوم دی چه ډیر متدین او دسپیڅلی زړه خښتن دی، ددی ملګری می دا عادت دی چه دداسی سړی احترام او درناوی به وکړی چه یه زړه کښې به ئې دی پخپله هم ددرناوی طرفدار نه وی یو وخت می یه زړه کښې راوګرزیده چه ددی خپل دوست څخه ددی وضعیت پوښتنه وکړم، نو چه ومی پوښته ده راته وویل: چه یوه روځ دپیغمبر صلی الله علیه وسلم دروازی ته دعربو دمشرانو څخه یو سردار راغی او دملاقات اجازه ئې وغوښته حضرت چه دده یه راتګ خبر شو خیلو چاپیریانو ته ئې وفرمایل: «دخپل قومه بدوروریابد اولا ددی» مګر چه هغه سړی مجلس ته راغی او کښینا ست رسول الله صلی الله علیه وسلم ئې یه مخ کښې خوشالی وکړه او تندی مبارک ئې ورته ورین کړ، سړی چه دحضور ره څخه رخصت شو او ولاړ حضرت عائشی رضی الله عنها حضرت ته عرض وکړ چه: «یارسول الله (ص) دسړی یه راتګ چه خبر شوی هغه دی وویل چه دخپل قومه بدور ور یابدزوی دی او یه مجلس کښې دی تندی ورته ورین کړ، رسول الله صلی الله علیه وسلم ورته وویل» ای عایشی تا کله زه فحاش لیدلی یم؟»

دقیامت یه ورځ دخدای یه حضور کښې تر تو لو خلقو بدسړی هغه دی چه خلقو دی دفحاشی او ده دبدی خولی دجهته پری ایښی وی نو ددغه حدیث شریف مفادزما ملګری دځان دپاره سند ګرزولی او دشریرو او ناوړو وخلقو سره ئې مجامله ځان ته جائزه بللی ده. مګر دا باید وویل شی چه زما ملګری دحدیث یه فهم کښې ژورفکر ندی کړی او «رسول (ص) یه موقف او حیثیت کښې پرسمه ندی تللی او که پرسمه تللی وای دا به ئې نه وای هیره چه د رسول (ص) دعایشی مبارکی دیو ښتنی فلسفه او علت څه ؤ او دا به ورمعلومه شوی وای چه دهغی مقصد دیو ښتنی څخه داؤ چه بد او شریر سړی ته باید دبدی او شرارت مظاهره ورښکاره کړه شی. او بیا که زما ملګری فکر کړی وای دا به هم نه وای ځنی یاته شوی چه رسول الله صلی الله علیه وسلم دزړ ونود را جلبولو او د دینی د غوت د موثر ولو دپاره یه ښو ښوو سایلو پوری لاس نیوه او علاوه پردی تولو هغه قدسی صبغه چه ده صلی الله علیه وسلم درلوده اود هغی یه واسطه چه هغه شیان ده ته مباح اوجائزوه عاموو ګرو اومونږ او تاسی ته ندی مباح او نه اجازه را ته شته.

هو! رسول الله صلی الله علیه وسلم دهغه سړی یه ستاینه کښې اغراق او مجامله لکه زمادملګری چه عادت دی نده کړی او نه ئې پداسی شیانو سره چه ثابت ئې نه ورله بلل و ستایه او زما ملګری خو د هغو کسانو سره مجامله او اغراق کوی چه د

دامریکائي مجلا تو څخه :

ژوندون په کوم وخت کی

اهمیت لری ؟

د ښاغلی « نظامی » ترجمه

څو کاله دمخه په امریکا کښې لږ خلك و، چه ژان ارسکین ئې پېژانده ، داسړی په ختیه انګلیس و ، او خپل تعلیم یې دنیویارك په یو نیورستی کښې پای ته رسولی دی او دګمنامی په نړی کښې ئې تر ډېرو مودو ژوند کاوه.

داسړی چه تر پرونه پوری هیڅوك ورته په کوم اهمیت قایل نه و ، نن دده شهرت توله امریکا نیو لی اولږ خلك به وی چه په دې پراخه دنیا کښې ئې دده بې نظیره آثار نه وی لوستلی ، او خوندئې ور څخه نه وی اخستی ؛ « تجدد هلن » او « کالاهاد » چه دده معروف شاهکار او آثار بلل کیږی ، او په ملیونو خلکو له دې کتاب سره خپل عشق او علاقه سر ګنډ کړی ده او دده په بې نظیره قلم او دنویسندګی په قدرت ئې اعتراف کړیدی.

« پاته د ۱٦ مخ »

« ویحبون ان یحمدوا بما لم یفعلوا » دډلی څخه دی ، او بل داچه حضرت (ص) خو دهغه سړی ستاینه بالکل کړې نده او صرف په ورین تندی ئې خبری ورسره وکړی .

ډېر داسی کیږی چه یو سیاسی مشر او زعیم دیوه بل سیاسی سره چه مذهبی خصومت یا سیاسی اختلاف ترمیانځ سره و لری مخامخ شی مګر علاوه پر خصومت یا هم دوی یوله بله ور اشه نرمه سره کوی او په خبرو کښې دمجا ملی څخه نه وی سره وتلی بلکه هر یو ددې کوښښ کوی چه ډېره مجامله او زښت اغراق وکړی. نو اوس باید زما دملګری څخه پوښتنه وشي چه آیا ستا موقف هم دیوه سیاسی سړی موقف دې چه اغراق او مجا ملی ته مجبور ئې ؟ په ! ز ما دملګری او دیوه سیاسی دموقف ترمیانځ خورا ډېر تفاوت دی چیری زما ملګری او چیری یو سیاسی زعیم چه دیوه مقابل په جمال خپت شوی او هر ډول مجاملی او حیلی ورله میاحی وی زما ، ملګری او ستا او دنورو زما و ستا غوندی کسانو د ټولو دموقف دا تقاضا ده چه احتساب و کړو خطا کار ته مخامخ او په غونډه خوله ووا یو چه دا کاردی بد دی او بد دی کړیدی او دښو خښتن ته وو ایو چه ښه دې کړیدی پدی شرط چه مونږ ته دبد کار بد او دښو دخښتن ښه یوره را معلومه وی . دا هم دلیاقت او فوق العاده ګې دفنونو څخه یو فن دی چه سړی باید داحتساب او نصیحت په لار کښې دتندی او سختې څخه په امان وی او د اخلاقی احتساب وظیفه په عصبانیت سره نه بلکه په سړه سینه او نرمی سره اجرا کړی .

نن ورځ دمجا ملت او غو ډ ژبی کر غبرن خوی داسی عمومیت موندلی او دونه د اسراف حد ته رسیدلی دی چه اوس ئې دچارومعیار خراب کړی او د هر چا حقیقی قیمت او ارزښت نه ورکه ده ، زیاتره دداسی کسانو دستاینی خبرونه اورویده کیږی چه د دومره ستاینی لیاقت نلری او نه ئې هغه کسان چه ستاینه ئې کوی د دغونه هسکو ستاینو وړ بولی ، زیاتره یو عالم یا یو ادیب یا یو پوه او دانشمند په خولو کښې لویدلی او تر قلمونو لاندی راغلی وی د د واړو پذریعه ئې تعریفونه او ستاینی کیږی مګر په حقیقت کښې به نه عالم پوره عالم او نه به ادیب په رشتیا ادیب او نه به دانشمند زړه دانشمند وی او پدغه صورت سره به عمومی رایه او فکر تیر باسی او کله کله تاریخ ته هم خدعه ورکړی او خطائی باسی. (نوربیا)

داشهرت اوموفقیت دکومه و خته څخه ارسکین موندلی دی ؟ اوکوم عوامل دده د شهرت باعث ګرځیدلی دی .

داسړی ترڅلو پښتوکالو پوری بی‌دخپلودوستانو اومعدودو خپلوانو څخه بل‌چانه پیژانده‌اوهیڅ اعتناورته نه کیده .

ارسکن دالوړ مقام اومنزلت څرنګه په (۵۰) کلنی وموند ، اوخپل‌ځان یې د لیکوالو په ډله کښې داخل کړ ؟

آیایوه خارجی عامل‌دی ، دې موجوده مقام ته ورساوه ؟ آیاهر سړی او هره ښځه دکهولت په سن کښې کولای شی چه‌دی کامیابی اوموفقیت ته خپل ځان ورسوی ؟

څووخته وروسته‌چه‌زه دارسکین ملاقات ته ورغلم ځینی‌سوالونه مې‌دهغه څخه‌وکړه ، اوده زما په‌ځواب کښې وویل :

زه‌بلکل دکهولت په‌سن‌ښه عقیده لرم ، ځکه چه په‌دی‌سن کښې دهر سړی اوښځی ویده احساسات وینبیزی اومتفکره قوه‌ئی بیرته ګرځی ، اوددوی تعقل اومتانت دجوش اوخروش ځای نیسی ، او د کمال نقطې ته رسیږی .

ځوانی د ژوند او جلال موقع ده ، ځکه په دی فصل کښې دانسان شګوفی دزړه په‌بوستان کښې و ده کوی‌اودکهولت په‌سن‌کښې پخیږی اومیوه نیسی .

زه‌چه‌دډیرو وختوخخه‌دکلمبیا په‌یونیورستی کښې دارسکین ترلاسه لاندی‌تربیه‌شوی‌وم اوبیادکامیابیدلو څخه‌وروسته مې‌دده سره‌تینګه آشنائی شوه ، اوددده دخصوصیاتو اومفکورو څخه‌خبر شوم وپوهیدم چه‌ددې سړی‌دګمنامی علت ترڅلوپښتو کالو پوری څه‌شی‌و ، اوولی دده شهرت داسی وځنډیده .

لکه‌چه پخپله ارسکین وائی ، اودکهولت په‌باره کښې‌یوه عجیبه‌عقیده لری ،چه‌دده عقیده‌په دې‌لاندینی کرښو کښې معاومیږی،ده‌دخپل شهرت دپټولو دپاره‌ئی په‌ځوانی کښې ډیر کوښښ کړیدی .

ارسکین معتقددی‌چه‌دځوانی تول افکاراوآلام اومه‌اوغیر منظم دی ، منګر دکهولت په سن کښې دانسان فکرونه پخیږی ، اویو تعادل اوتوازن په خپلومعنوی قواوکښې ښکاره کوی ، اوهرڅه‌چه‌په‌دې وخت کښې‌وائی صحیح اودقبول وړ دی .

که‌څوك دژان ارسکین‌دګمنامی‌په‌وخت کښې‌دده ملاقات ته ورغلی وای دی به‌ئی لیدلی‌و ، چه‌دښار نه دباندی دیوه‌سیندپرغاړه ناست‌دی اودطبیعت‌په‌مناظرو کښې په‌ډیرغور دقت اوفکر کوی ، او په دې حال دده‌فکر هیڅ څیزنشی‌مختل کولی ، منګر دځینی زده کوونکو اومحصلینو سلام‌به ئې چه کله کله دده دمخه تیریدل په‌ډیره‌مینه اخست اوپه‌ډیر ملایمت اومحبت‌به‌ئی دهغوی ځواب ورکاوه .

علاوه‌پردې به‌چه‌دتعلیم په‌وخت کښې ښوونځی‌ته ولاړ ، تول‌زده‌کوونکی‌به‌ئی چه‌زه‌هم‌دهغو شاګردانو څخه‌یوشاګردوم دخپل‌خطابو په اثر کښې جلبول ، اومهم مطالب‌به‌ئی په‌ساده الفاظو او عباراتو بیانول .

په‌هغه‌وخت کښې ارسکین دیونیورستی نه‌بهر هیڅ معرفت نه‌درلود، منګردقناعت ، اودښواخلاقواودمهر اوشفقت په‌اثرکښې ئی چه‌دده‌خاصه وه ، شاګردان جلب‌کړی اودهغوی په‌زړوکښې ئی تسلط موندلی و ، چه‌بی‌دکومی حیلی‌او ساخته کاری څخه نوموړی ته تولوشاګردانو په‌ښه‌سترګه کتل .

ځینی‌بیباك اولټ‌شاګردان‌چه‌دنورومعلمانو ددرس په‌وخت‌کښې‌به‌ئی‌بی دمسخرو اوبیبا کی څخه نور هیڅ نه‌کول ، ارسکین هغوی‌هم لکه‌نور صالح شاګردان ځانته جلب کړی و .

زمایوه ملګری په‌هغه وخت کښې ماته په وارو ، وارو وویل : چه ددې افسوس ځای دی چه زمونږ نړی داسی‌لوړ اوباکماله‌شخص لکه‌ارسکین نه‌پیژنی ، اونه پوهیږی چه‌دده‌علمی اواخلاقی مقام څونه اوڅه دی .

ددې لامله چه خلکو ده سره معرفت نه درلود، اوهیڅ څوك دده په‌علم اوکمال نه وخبر ، مونږ ډیر متأسف اوغمجن‌وو ، ولی‌دلاسه موهیڅ نه کیدل .

ارسکین (۸) جلد کتابونه په نثر اونظم لیکلی او خپاره کړی دی ، سره ددې همددنیاځینی نا پوهو خلکودی دلیکلوالو پهډله کښې نهقبلاوه .

مونږ ډېر گمان کاوه چه دی به په همدغه حال اودښوونځی په گنج کښې بې لهدی چه کوم مقام او منزلت پیدا کړی ددنیاڅخه ولاړشی .

ولی څومودهوروسته ددهپهفکر کښې یو تازه حس پیداشو ، اوخپل په زړه کښې ئې وویل ، چه پاك خدای (ج) ستاد پیدایش سرهسم مسئولیت هم پیدا کړیدی ، کهته دهغه پهانجامولو کښې زیارونه باسی گویاخپل انسانیت اووظیفه نهپرځای کوی بلکه ددنیا اودجامعی پهنزد یوخائن اوبیثباته سړی حسابیږی .

ارسکین ددی فکر پهاثر نور انتظارو نه کښې چه دنیادی وپیژنی ، بلکه جدی کوښښ ئی وکړ چه خپل شخصیت اولیاقت خلقوته ښکاره کړی .

دهمدی نظر په اثر کښې ئی دتعلیم او مدرسې نه لاس واخست اوادبیاتوته ئی مخهکړه ارسکین وروسته تردې پهلږ موده کښې خپل ځان اعلی مدارجوته ورساوه اودخاصوعاموپه نزدیوممتاز شخص معرفی شو چه تراوسه بوری دلیکوالو په نصیب شوی نهدی .

نن ورځ په هره ټولنه اومجلس کښې چه جدی او فاضل خلك یوځای کیږی ، په ټولوادبی، اجتماعی عشقی ، . . . او نوروعلمی مباحثو او مسائلو کښې چهدبشر ژونددهغوی مرهون دی دارسکین نوم یادیږی .

دارسکین بدیع او برجسته افکار په پورتنی مسائلو کښې داسی ژور اودمعنی څخه ډك دی چه بې لهدغه نوموړی څخه بل چاداسی غامض مسائل تراوسه نهدی حل کړی .

دارسکین لیك اونظریې پهدې راز مسائلو کښې لکهروښانه لمرځلیږی .

لکهچهوائی :« زهدخپل ژوندنتیجی تهرسیدلی یم » او دده پهنظر ځوانی د (۲۰) څخه تر (۳۵) کالو بوری دژوند سرپوښ دی .

نوموړی پهدې باره کښې داسی نظریه همړلری لکهچه وائی : جرئت او زړورتوب چه متانت سره یوځای وی دایوازی دکهولت پهسن کښې دسړی په وجود کښې پیدا کیږی .

زمونږ ژوندون پههغهوخت کښې سمسور اودمیوی ډك کیږی ، چهخپل سیوری شاوخوا خپورکړی اوهری خواته خپلی نیلی وځغلوی .

ډېرخلك وی چه تر (٤٠) کالو بوری پخپل ژوند کښې نیلی نهدی ځغلولی سبب ئی دادی چه ددوی قواترهغه وختهنهوی تکمیل شوی او افکار وبې ثبات اومتانت نهوی موندلی .

دکهولت پهسن کښې دانسان بشاشت کمال ته رسیږی او ټول دژوندون مظاهرپې هم تکمیل مومی اوهغه کسان چهدځوانی لیار طی کړی اودکمال په دائره کښې پښهایږدی داسی خلك ناڅاپه په کامیابی او خپل مقصد رسیدلای نشی ، کهدځوانی لهابتداڅخه چه دژوندون دپسرلی موسم دی دمیوهدارو نیالگیوتخم دخپل وجود پهځمکه وشندی ؛ ارو مرود کهولت او کمال پهسن کښې کولای شی چه میوه یې لاس ته راوړی .

ددې دپاره چهدا مطلب ښه څرگندشی ، پخپله ژان ارسکین دمثال پهډول راوړو :

دا صحیح اومشهوره خبرهده ،چهدژان ارسکین ژوندون ډېر وروسته سمسورشوی اومیوهدار شویدی ؛ منگر پهدې هم بایدپوهشو ،چه پخپله ارسکین ددیری مودې ، یعنی دځوانی له ابتدا څخهدښواخلاقو اودښو صفاتو تخمپه خپل زړه اووجود کښې کرلی واوپهدی دومره موده کښې ئې لکه یو داناواوبا تجربه کاره باغوان دحوادثو او آفتونو څخه حفاظت کاوه .

که پهحقیقت غور او کتنه و شی دارسکین سعی اوعمل اودده دښو اخلاقونتیجهوه ، چهدی دانسانیت کمال تهورسیده .

دالاندینی کرښوتریوی اندازې دده معروف او مشهور لیکونکی د کامیابی اسرار مونږ ته ښئی .

په ۱۹۰۲ کښی چه ژان ارسکین د کلمبیا دیونیورستی څخهفارغ التحصیل شو ، او په فلسفه کښې ددا کتری تصدیق اوشهاد تنامه ور کړه شوه ، ډېر کوښښ ئې وکړ چه په هغه ځای کښی دفلسفی په عالی

ښوونځی کښې معلم مقرر شی، منګر ځای خالی او معلم کمبوت نه وو ، نودی مجبور شو چه په ابتدا ئی ښوونځی کښې قناعت وکړی ، اوعلاوه پر معین درس دشاګردانو دمقالو ، تهیه او تصحیح یې هم پخپله غاړه واخسته، اودی مجبور وچه ۹ میاشتې هرشپه تر دوو بجو کښینی اود زده کوونکو مقالات تصحیح کړی .

پرته ددې چه دار سکین کار او وظیفه ډېره درنده وه، منګر داوظیفه ئی هم په ډېر رغبت اوذوق ایفا کوله ،او هیڅ شکایت یې نه درلوده .

پخپله ار سکین وائی چه : « زه له یوه پلوه مایل وم چه په ډېری آزادی سره دلیکلو په کار بوخت شم اوهغه مطالب چه زما په نظر اوفکر کښې را ځی خپاره کړم منګر وظیفی اود مسئولت حس زه نه پرېښودم اوپه دی ئی مجبور ولم چه خپل وخت دزده کوونکو دترقی او کامیابی دپاره صرف کړم .

دزده کوونکو په لیك اومقالو به مې ډېر غور اودقت کاوه که ددوی په لیك کښې به لږ څه اشتباه پیدا شوه هغه به مې په ډېر ښه شان اصلاح کړه . او هره ورځ مجبوروم چه د مختلفو موضوعاتو (۷۵) مقالې ولولم او تصحیح یې کړم ؛ ددې زیار اوزحمت نتیجه وه چه زما دصحت دخرابوالی باعث وګرځیده . »

بایدپه دی هم پوه شو : چه ددی زیار اوزحمتو نو نتیجه وه چه په هماغه کال د ښوونځی له طرفه دپروفیسوری نښان ورکړشو، اوپه همدغه وخت کښې چه د کلمبیا کالج د « بجوانی نیکلا مورای بوتلر » تر ریاست لاندی شو ، ار سکین ئی دهغه ځای دمعلمی دپاره وټاکه .

نو موږ ی رئیس وائی: « مایه دی سبب ژان ار سکین په معلمی وټاکه ،چه هره ورځ دده عمر تیر ېږ ي دی یوه ګام انسانیت ته نژدی کېږ ی »

دانوی وظیفه دار سکین په طبیعت موافقه وه اوپه ډېر شوق اوخوشحالی ئی استقبال کاوه اوخپل قدرت اولیاقت یې ښکاره کړ .

دهوسائی اوراحت په موقع کښې ئی کله د موسیقی په نغمو خپل ځان مشغولاوه ، او کله ئی د « تانته » « هومر » او « شکسپیر » کتابونه مطالعه کول، او خپل را تلونکی وخت دپاره ئی ادبی ، اخلاقی اوعلمی پا نګه را ټولوله .

ار سکین داعقیده لری چه د ښوونځی تعلیم دانسان اساسی ژوندنه شی تشکیلو لای ، انسان ته ښائی چه دژوندون درس دعمل په موقع کښې زده کړی . او تر څوچه انسان په فردی اواجتماعی ژوندون کښې داخل نه شی ، دی تر هغه وخته پوری دفردی او اجتماعی ژوندون داساس په شاو خوا کښې غور او تعمق نشی کولای . ځکه دفرېك په ښوونځی کښې په عمومی طور دا پروګرام نه دی وضع شوی چه مونږ ته اجتماعی مسائل راوښئی. دښوونځی دوره یوه دلار ښودنی دوره ده، چه زده کوونکو ته دتهذیب نفس لیار ښئی او ورزده کوی یې . ار سکین په دغه عقیده ټینګ او قایل دی، چه د ښوونځی تعلیم څخه باندنی تعلیم چه دچانصیب شی ډېر ښه دی، ځکه داراز تعلیم یوخصوصی تعلیم دی چه یوازی په زده کوونکو تعلق لری اوپه ښه شان انجام مومی اولمن ئې د ښوونځی نه پراخه ده ، اوهیڅ حد نه لری ، ځکه که انسان غواړی چه د خپل فراغت وختونه دیخوانیو علماؤ په آثارو صرف کړی اواستفادی ځنې وکړی ، په ډېر اطمینان دا کار کولای شی .

ار سکین په دې باره کښې وائی : زمونږ په شاو خوا کښې دمتفکرینو خورا قیمتی کتاب خانی موجودی دی ، اوهر څوك کولای شی چه د خپل همت په اندازه سره دهغوی نه استفاده وکړی : اوددې فضل او کمال له فیضانه برخه واخلی . زه په کلمبیا کښې د هلن په یوی خطی نسخی په لیدو موفق شوم ، نوموړی ، دډېرو مود وراهیسی ترنظر لاندی نیولی و چه دهغو اشخاصو په باره کښې چه دژوندون واقعی قدر اوقیمت یې موندلی دی ، یوه مثبته نظریه غوره او یو کتاب په دې باب کښې ولیکی او نشر ئې کړی .

دهغی نظریې نتیجه وه چه داپورتنی کتاب ولیکل شو ، منګر لیك یې یو کال وځنډیده ځکه چه ده په شپه ورځ کښی دوه ساعته وخت در لود چه د خپل کتاب په لیك کښې ئی صرف کړی .

دارسکین اساسی نښه د دې کتاب په تدوین اود «کالاهاد» په کتاب چه دلمړی کتاب نه ئی وروسته خپور کړی ، دعشق اهمیت اودده د ثبات ښودنه وه د کهولت په سن کښې ، ځکه نو دی معتقد دی چه د ځوانی عشق لکه دنور ځوانی افکار ټینګار اودوام نه لری ، برعکس هغه عشق اومینه داعتبار اواعتماد وړوی چه دکهولت په موقع کښې په زړه استیلا وکړی .

لنډه دا ارسکین وائی : «ټول فکری او اخلاقی مظاهر دانسان دځوانی ددوری نه وروسته تکمیلیږی اوټینګار مومی »

په یادمې دی چه یووخت دصحبت په ضمن کښې می دارسکین نه داپوښتنه وکړه : علت څه دی چه تاد ۵۰ کلنی نه وروسته دلیکوالو په ډله کښې داخل شوی .

نوموړی داسی ځواب را کړ چه دده عقیده اوایمان بالکل د کهولت سن ته راجع دی چه مفا دئی پدی ډول اداکوی :

«که ما دځوانی په سن کښې د «هلن» د سرګذشت په لیکلو اقدام کړی وای ، هغه «هلن» چه تاسوئی نن پېژنی داسی به نه ومعرفی شوی .

ځکه چه هغه وخت په دې دائرو کښې زه قطعاً اشنا وم هغه عوامل چه دکاملو اشخاصو روح اواحساسات اوس پرماتاثیر کوی پخوائی نه کاوه ، له دی لامله لازم و چه ددې کتاب دتهیه کولو دپاره دځوانی مراحل طی کړم اود کهولت سن ته ورسېږم . آیا پوهېږی چه د «فردوسن مفقود» کتاب نښه په ۲۱ کلنی کښې د «ژان میلتن» په دماغ کښې رسم شوی وه ، اونوموړی په ۶۵ کلنی کښې ولیکه .

ډېر اشخاص ماته وائی چه ولی پس دډېرو مودو څخه دلیکوالو په ډله کښې داخل شوی ، منګر زه ددې نظریی مخالف یم .

ځکه څوك چه دځوانی په وخت کښې په یو کارلاس پوری کړی اوخپل شهرت غواړی ، داسی خلك لکه ژرپخیدونکی میوی دی چه دعمر دوره ئی ډېره لنډه وی .

ارسکین یوازی دخپلی نویسندګی په مقام نه دی قانع شوی ، بلکه په دی سن یعنی ۵۰ کلنی کښې چه ډېر اشخاص ګمان کوی چه زمونږ عمر تېر شویدی ، ناڅاپه د کنسرت ورکوونکو اشخاصو په ډله کښې د «نیو یارك سیمفونی» دتیاتر په صحنه کښې ښکاره شوه ، اوخلکو ته ئی خپل خارق العاده مهارت چه په پیانو کښې یې درلوده وښود وروسته خلك وپوهېدل چه ارسکین په موسیقی کښې هم مهارت لری ، ولی اوس چه محقق شوی دی ، نو موړی د ۳۰ کلنی څخه دموسیقی په تحصیل پیل کړی ، اوپه دې موده کښې ئی سره له دی چه په پیانو کښې ئی ډېر مهارت حاصل کړی و ، ولی دهمدغی عقیدی په اثر ئی چه د کهولت په سن ئې درلوده ، خپل ځان نه ومعرفی کړی اوتر ۴۰ کالو زحمتو وروسته ئی ددې فن په مشاهیرو کښې ځان داخل کړ اودخپلی پلټنی په نتیجه کښې ئی یو نوی رنګ په موسیقی کښې پیدا کړ ، چه اوس دمشهورو اشخاصو په ډله کښې حسابېږی .

شاید ځینی کسان ووائی چه هره ورځ دامتعدد اومختلف کارونه څرنګه انجام کیدای شی .

ددی ځواب دوه کلمه دی چه : «دوخت تنظیم »

داعجیب سړی دسعادت اوآرامی دتحصیل دپاره چه دبشر دژوندون اساس تشکیلوی څه نظریه لری ؟

بایدپوه شو چه دارسکین په نظر سعادت اوآرامی چه دبشر مرکزی آمال اودمجاهدت نقطه ده دوه شیو نه ورته ضرور دی ، چه هغه قناعت اوکاردی ، چه د بشر سعادت تامینوی .

ادبیات

سپین غر

یوه ورځ چه څو تنه پاخه لیکونکی او دادبی ذوق خاوندان په یوه ځای کښې ټول شوی و، د صحافت د څانګی له خوا د یوې مشاعری خبره او چته شوه او وروسته له څه مذاکری و منل شوه چه په سپین غره باندې یوه مشاعره وشی. څوك چه هلته حاضرو او دهغوی له قریحی څخه زیاته هیله کېده دائی قبوله کړه چه یدی مشاعره کښې برخه واخلی. کوم مضامین چه تراوسه رارسېدلی دی هغه یدی ګڼه کښې نشرو واونور چه وروسته تر دی راورسېږی په بله ګڼه کښې به نشر شی. «د صحافت څانګه»

ښاغلی سید شمس الدینخان «مجروح»

(۱)

سپین څادر دی غوړېدلی — په څه توره شبحه باندې
که خیمه ده چا و هلی — داسما نه لږ څه لا ندې
که د اوسپنو دېوال دی — جړا و شوی زرو باندی
یا ښامار دی اژدهار دی چه پرېوتی له شتابه
یا نهنګ دی راوتلی داسمان له شنه دریابه

د عظمت مجسمه ده — که یوې خواته ولاړه
یا د برید ګټی بېل کړی — هسك او ځمکه سره دواړه
یا د غرو سپین سرې مورده — چه بچی ئی دی دا واړه
دا سپین غر دی سپین سپېڅلی له هر غره نه مونږ ته زیات دی
د قدرت له خوا پښتون ته پو پیغام دا د ثبات دی

په افق کښې ئی نیو لی — له پخوانه د ابندر دی
باج خراج له ورېځی اخلی — پاس اسمان پری ښه خبر دی
په یوه پښه ولاړ دی — ښه همزولی د خیبر دی
نه له تا لندې وېرېږی نه په تندرئی پرواشته
نه له تلو راتلو دورځو یا د شپوئی څه سوداشته

پاس پر سر ئی سپینی واوری — په لمن ز یړی گلو نه
هلته ژ می دلته او ډ ی — یو ځای شوی موسمو نه
د او لاد په خبر سا تلی — په آغوش کښې ئی رودونه
روڼ تندی له ورایه ښکاری د آسمان په کنارو کښې
تماشه د ننگر هار کا په څه ناز او په نخرو کښې

آسمان هره شپه په سر ئې — کا د ستورو نثا رونه
اوقیانوس په لاس دوریځی — و ر ته لېږی سو غا تونه
(۱) بادامې ئی سر دیاسه — همیشه کوی ر قصو نه
هندوکښ په دې ملگری سرلوئی کاندی نازېږی
د سحر د باد په لاس تل خپل د رود سلام وریږی

د ایه دغه ځای ولاړ دی — خدای خبر له څه مو دې نه
ور په یاد په څه کیسې وی — لا د تیری زما نې نه
هډو هیڅ پر وائې نشته — نه تو دې نه د سړې نه
حوا د ئو مقابل کښې ئې ټیټ نه کړ چری سر خپل
ته به وائې پښتنو ته ده ور کړی دا اثر خپل

سر درو کښې ئې طوطیان دی — په هر بڼ کښې ئی بلبلې
نه و پر ېږی له شا هینه — زر کې نه دی هلته غلی
شی په لوړه پرښه با ندی — د عقاب ځا ئې لید لې
له هر سمڅ له هره کړمه غر یو خیژی د پړ انگانو
نور صفت ئې تاسی و کړی، اې د غر ونو شاعر انو !

(۲)

ښاغلی «حبیبی»

دا سمان پر څنډ وښکاری — د سپوږ می رڼا له لیری
د جگ غره پر څو کولو ېږی — ته وا لو نی مر غلری
هو لته سپینی څو کی بر ېښی — څو رڼا وی دی ملگری:
یو خو سپینی واوری ځلی
هم لمبې د شفق بلی.

وا ښکاره سپینی سپوږمی کړ — مخ له ورا یه د دې غر ونو
هلی، راسی، ورته گوری، — سبل کړی، نند اره کړ ونو
ښکلی غر ئې لا ښایسته کړ — سپو ږمی کار کړ د ښکلو نو
سپینی وا وری ویلېده کا
که نقرې د ی بهېده کا

دا کم ځای دی او کم غر دی ؟ — چه ئې محو نند ار و کړم
د لته څو ك او سی د چا دی؟ — زه بې هم په دوی پېر زو کړم
دا منظر د کم جنت دی ؟ — نند ارې به ئې تر څو کړم؟
څو ژ وندی یمه دلې یم
«د سپین غره» په نند ارې یم

---

(۱) بادامه د باد طوفان ته وائی چه واوره له یوه ځای نه بل ځای ته وړی.

خلق وایی دا سپین غر دی — زه وام یه دامی مأمن دی
پښت په پښت مو د نیکو نو — هدیره ده، هم وطن دی
لوړو څوکو باندې گرزو — دامو کور، دامو مدفن دی

سپین غر زموږ دی موږ دده یو
په لمنو کې میشته یو !

ستادی وی سپینکیه غره ! — راته و وایه قصه ستا
خورا زوړ راته ښکار یږې — سپین دی ټول دسر وېښته ستا
کله را غلې و نړۍ ته — هم له کمه دی راتله ستا؟

تل ولاړ یې موږ ته گورې !
مو فر یې کله ښو رې !

اې سپین ږیرې ! تا لید لی — زمو ږ نیکونه تور یالی و
تل ئې ژو ند کاوه په ننگه — دې زنگلو کی شنه زمری و
درناوی کی تا ته ورته — هم به لوړ هم بریالی و

ستا په یادهغه داستان دی ؟
که له تا هم هېر افغان دی ؟

اې سپین ږیرې ! راته وا یه — ولی لوړو زمو ږ نیکونه ؟
ولی زه ذلیل یم پروت یم — دذلت په گړ نگو نه ؟
نه هغه جاه او جلال سته — نه مو هغه پر تمو نه

ټوله ولاړل که کمال و
که ثروت و ، که جلال و

راته وا یه سپینه غره ! — تېر دا ستان د لوړ تیا څه و ؟
که علت و که معلول و — ټول دی لاندی تر کا ته و
ولی مو ږ کښتی ته پر ځو — ولی دوی په لوړېده ؤ ؟

راسه زما سره خواله کړه
داسبب راته ښکاره کړه

«له مازده کړه اې پښتونه ! — در ته وا یم څو خبری
ښې په غو ږ کی ټینگی نیسه — دی بېشکه مرغلری
لوړو ځو ړ می ډېر لید لی — تجربې می ډیری ستری

واوره داچه ښې نکتې دی
گټی هم پکښې پرتې دی »

ددنیا حو ادث و اړه — سولوی پاسته جسمونه
زه چه ټینگ یم نوولاړ یم — په زروتېر شول کلونه
څه چه کړی اسمان دې کړینه — زه یم کلك ټینگ می هډونه

که برېښنا که واوری ، ټکی
هیڅ تغیر راته پېښ نکی

گل پاچا «الفت»

خلقو وېلی کوه قاف نه — هغه خوا یوه کلا ده
ښا پېر یان پکښې او سېږی — پکښې بل شانته هوا ده
پیره دارئې یو سپین دیو دی — ورنه وېره د هر چا ده
څوك پر دی نشی ورتللی لارئی سخته ده بېشا نه
دا قصه مې اورېدلې په یو وخت کښې وه له چانه

هغه د یو چه خلقو وېلی — دا سپین غردی ننگرهار کښې
د خیبر له د روازې نه — دې خوا پروت دی سخته لار کښې
بې پښتو نه بل څوك نشی — گرزېدلی دې گلزار کښې
چه له شنو زمر یانو ډك دی لری هسی لوی ځنگلونه
په هوا کښې ئی تل گرزی سپین بازان کوی څارونه

ښا یسته له هر وطنه — او له هر ملکه زیبا دی
تور نښتر ئی توری زلفی — تك سپین مخ ئې د لیلی دی
سپین سپېڅلی ښکاره کېږی — ته به وا ئې سپین سبا دی
د سپوږمۍ او د لمر کوردی ځکه هومره دی روښانه
هر سحر ئې له کنډوه لمر را خېژی له آسمانه

پاس د غره په سر ځلېږی — تجلی د پلو شو ده
لمر سپوږمۍ پکښې ځان گوری — آئینه د پر ښتو ده
تکه سپینه رڼا برېښی — درحمت د نور، ور شو ده
هسی ښکاری لکه دا چه د ملکو کوه طوروی
یا آسمان نه ورېدلی پدې ځای سپېڅلی نوروی

دجنت د باغ وږمې دی — چه هرو خت پکښې لگېږی
درڼو ستورو ډیوې دی — پکښې هره شپه بلېږی
له صیاده ویره نشته — زرکی خاندی هو سېږی
د پښتون د کام ځانگو ده کانو گټو نه تیاره
خدای د نه کا چه پر دی به کله مومی ورته لاره

هری خواته ئې بهېږی — جړو بی او ابشارونه
دشرابو او عسلو — پکښې شته دی ډك رودونه
ښه لمن لری سر سبزه — پکښې میشت دی السونه
ښا یسته ښی منظرې دی پښتانه ئی ننداری کړی
د سپین غره توری لښکری د نښترو ئې پیرې کړی

دامتل دی پښتنو کښی — په لوی غره دخدای نظروی
د سپین غره د پاسه ځکه — تجلی شام وسحر وی
لمرلا څرك نه وی وهلی — در نماهلته اثر وی
کوه طورغو ندی رڼا دی خوا فسوس چه موسی نشته
چه الهام ور ځنی وا خلی هسی پیرو پیشوا نشته

پاته د «۲٤» مخ

هسی ټینگ په پرتم اوسه ! — لوړ همت کړه مستقیم سه
زما په څېر زړې دنیا ته — په کلو کلو ندیم سه
حوادث د دنیا تېر کړه — پکښې ټینگ سه مه په بیم سه
تل به لوړ پردې دنیایې !
مستقیم که په څېر زمائې !

ساقی نامه

زرغون‌خان دنوزاد نورزی چه‌په (۹۲۱ه) دقندهار په دېراوت کښې وفات شوی‌دی ، دپښتو ادب له پخوانیو استادانو څخه دی، چه‌دپټی خزانې په تذکره کښې‌ئی دغه خورا بدیع اوخوږ دساقی‌نامې‌دوه‌یځ (مثنوی)شته «حبیبی» .

ساقی پاڅه پیاله را کړه — مرور یارمی پخلا کړه
اوبه توئی په‌لمبو کړه — اورمی‌مړ په‌دې اوبو کړه
پسرلی سوغنچه گل کا — زلفی تاوی دسنبل کا
بلبلان شوروفغان کا — کړېدن (۱) په گلستان کا
زاهد وزی صومعې څخه — شراب پېری (۲) میخانې څخه
هر سړی په میومست دی — دې‌بهار کی گلپرست‌دی
په‌راغو کی سرې لمبې‌دی — دغټو لو نند ارې دی
جهان‌ټول سوراوزرغون‌شو — وچ راغه (۳) ښکلی گلگون‌شو
سړی ټول شورو شغب کا — یارانې کاندی طلب کا
بهار وقت دیار انی دی — ښه موسم د پیمانې دی
نو ساقی پاڅه بهار دی — نن‌ژوندون سبارفتار دی
دنیاپاته موږ به‌ځو نه (٤) — تورو خاورو کی به‌یونه (٥)
پیمانه ډکه له‌می کړه — بزم‌تود په پیاپی کړه
چه یو دم سمه آزاد — ناښاد زړه‌می سینه (٦) ښاد
ساقی پاڅه‌وقت دگل دی — په‌جوشش کی‌خم دمل‌دی
وقت دمیو دوېشو دی — دپیالو دډ کېدو دی
هغه څوك اوس دپېغوردی — چه‌ئې جام‌تش ونسکوردی
مستان گرزی‌په‌باغو کی — مستی کاندی په‌راغو کی
لاس په‌لاس‌دی یارانې کا — یوپه بل نازو نخرې کا
مجنون وصل له لیلادی — دجمال په تماشادی
نه‌غمجن سته نه بېلتون سته — نه‌مهجور نه‌ځگر خون‌سته
ترتاو گرزمه (۷) راسه — ساقی یوگړی پخلاسه

---

(۱) کړېدن : گردش اوطواف . (۲) پېری : یعنی‌رانیسی دپېرل (خریدن) له‌مصدره (۳) راغه : دغره‌لمن، دامنه(٤ـ٥) ځونه ، یونه دځو اویومزید علیه دی ، چه دترنم (نه) ئې پای‌ته ملحق شوی دی .
(٦) سینه : دسی (شود) مزیدعلیه چه‌دترنم (نه) پوری‌نښتی‌دی(۷) دادپښتو یوه‌خوږه اصطلاح ده یعنی ترتاقربان شم .

ماته جام دربل ولوررا (۱) — چه یوتش سی ډك ئې نور را
اورمی بل دزړه په کور کړه — له هر چا هر څه ئې تور کړه
چه بل څه نه وی الفت وی — ټوله - مهر و محبت وی
ټول اخلاص وی او صفاوی — تیاره ورکه سی ، رڼاوی
له زړه کم غش او دغل سی — جهان ټوله گل او مل سی
ساقی ستا مهر مطلوب دی — نو بهار ځکه مرغوب دی
که ستا لور ، پېرزو ، نه وی — نو بهار به په څه ښه وی ؟
خوند به نکا رنگ د گلو — بې مستیو بې له ملو
نه به بزم په شور تودسی — نه نغمې نه به سرو دسی
جام به تش د آرزو سی — ورك به مهر او پېرزو سی
نو ساقی یا څه بهار دی — بزم تا له امید وار دی
یاران ناست ستر گی څلور دی (۲) — ستا د جام په امید نور دی
ته هم راسه عنایت کړه — بزم تود د محبت کړه
له سرو ملو څخه ډك جام کړه — د یارانو ئې انعام کړه
چه سوړ بزم په می تودسی — درندانو غوږ وسرود سی
د جهان ویروغم هېر کا — یودم ښه په عشرت تېر کا
چه په مخ کې مو بېلتون دی
له جهانه سبایون (۳) دی — (پټه خزانه)

ملی بدله

ښاغلی « جرار »

دادې ځنگېږی د کو گل دپا سه هار - که مار - چه لری زار - په خوار ، کوی تاثیر
چه دې ځنگېږی په سینه کښې لو نگین - نازنین دین و آئین - متین - وړې له یار سانه
سره اننگی شونډی شربت صفا جبین - مئین ، له نمره سپین - یقین - و کړه انسانه
دچاله قصده دې وربل کړ په مخ تار - پتار - و کړه اتبار - چه یار - به کړی اسیر

❀ ❀ ❀ ❀

چه دې روپۍ کړی دوربل په قط خوری - ورې - خوند کړی پرې - سورې - په سره چار گل
په سپین مړوند کښې دې پرتې دسرو کرې - آری - منگلې سرې لرې - لکه قاتل
چه نن ئې جوړ کړ دچاقتل ته سنگار - نگار - لکه خونکار - په قار - ځی هوا گیر

❀ ❀ ❀ ❀ ❀

درب دپاره یاره مکړه ظلم زور - چه نور - سوزم په اور - دتور - ستی کباب شوم
داستاله لاسه پرما اوری لور په لور - پیغور - دشرمه کور - شواور - خراب تراب شوم
چه را کړ تا د گل مېخو په مخ گذار - سهار - شومه پرهار - دلدار - وایه تقصیر

❀ ❀ ❀ ❀ ❀

پرماشوې تېرې ستا په مینه کښې خوارۍ - زارۍ - لاس دیارۍ - جارۍ - را کړه محکم
پرسان مې وکړه ساه مې راغله ترمرۍ - پرۍ - زلفی چورۍ - نرۍ - رقم رقم
ورکړه چه بایلو دزړه صنم ستا په رخسار - انار - سینه گلزار - جرار - مکړه تاخیر

---

(۱) ربل : یعنی پېرزو ، لور : مهربانی ، روا داری . (۲) ستر گی څلور : له شدت انتظاره کنایه ده
(۳) یون : سفر ، رفتار .

د شیلی جل

دانګریزی ادب یوه خورا مشهوره قصیده چه په دنیا کښې په خوږوالی او خوندوری منله شوې ده، د معروف شاعر شیلی هغه قصیده ده، چه د عمر پر (۲۸) کال ئی په ایتالیا کښې وویله، دده ماند ینه وایی: «چه شیلی ددوبی په یوه ورځ په زنګله کښې ګرزیدی، د جل خوږ ږغ ئې واروېد اودغه قصیده ئې پرزړه راغله» اوس هغه شعر په پښتو د کابل ویونکوته وړاندی کیږی. (حبیبی)

ستړی مسې! اې ښادمن روحه!
روغه اوسې، اې هغی مرغۍ چه پر مځکه نه ګرزی
اود آسمانو له لوړو طبقو څخه دسو چه فن رڼې چینې ستا پرزړه راتوئیږی، اوپکښې څرخی!
له مځکی څخه وبهیږه، هسکه ولاړه سه، خورالوړه،
لکه سور اوره، او د صافی هوا په لوړو کښې خپل وزرونه ورپوه!
څرخه اولوړ یږه، لوړیږه او څرخه!
لمر چه داوړو په دریاب کښې ډوب دی، ته ئې سپینو وړانګوته والوزه، اوپکښې ولامبه!
اې مرغۍ! که څه هم ته زموږ له ستر ګولیری ئې، خوبیا هم ستا د خوښۍ اوښادۍ سندری اروم.
هغه وقت چه شپه داوریځی کالی له ځانه وکاږی، اودسپوږمۍ سړې وړانګی راولوېږی، ستا په ږغ مځکه اوهوا ډکیږی. او کائنات مستوی اماته، موږ دی نه پېژنو، چه څه شی تاته ورته دی؟
داو بو څاڅکی چه اوریځی ئې راتو یوی، موږ داسی نه خوښوی، لکه دغه دسندرو څاڅکی چه ستاله خوا راباندی څاڅی.
ته داسی ئې، لکه هغه شاعر چه دفکر په رڼا کې دابدیت اوخلود سندری غږوی، څوچه عالم خبر کی اوخپلو هیلو ته نژدی سی، اودبیر وله ځایو څخه ووزی.
یاداسی یې: لکه شها چه پخپله ټینګه ماڼۍ کې کله کله له ځانه یو ګړی وخت تروښوی، اوپخپلو خوږو سندرو چه په بڼ کښې شاوخوا ځی، دمینی مر کی تودوی.
یا داسی یې: لکه روڼ اوراور کی چه په لنده مځکه کې خپل سپین رنګ په خامو شی اوپټه له هغو ګلانو او بو ټو څخه څر ګندوی، چه دی ئې پټ کړی وی.
یاداسی ئې لکه ګل چه په زرغونو پاڼو کې پټ وی اوبادئې کله کله ښکاره کوی، اوپه نورو ئې وینی.
دپسرلی داوروڅاڅکی چه پر زرغونو شنیلو څاڅی ږغ ئې ښه خوند کوی، مګر ستا سندری بل راز دی.
ماته ووایه، ای خیاله، یاای چغو کی، چه ستا فکرونه څونی لوړ دی؟ ستا ژبه دمینی ترژبی، لوړه اوښه ده.
که دسندروالو سندری اودبری بدلی ستاله سندرو سره پر څنګ کښېږدو، نو به هغه خوشی ناري سورې وی.
ته دخپل سعادت او به له کومی چینی څخه چښی؟ له کښتو څخه، که له څپو څخه؟ له غرو څخه، که له هواؤ که له دښتو څخه؟
ستا سو چه اوژوره خوښی هیڅکله نه لږیږی.
دویربسی، هیڅکله تاته نه نژدی کېږی!
ته مینه کړې، خودویر منی مینی تریختوب دی ندی لیدلی.
ته په ویښه او خوب کې دمرګ فکر کوې، اوډیر نور لوړ اورښتینی شیان چه کله ئی موږ په خوب وینو لیدلای سې، که نه وی په دی بلوری جو کی به څنګه څرخیدلای سوای؟
اماموږ، دمخه ګورو، ترشا ګورو، دهغه پټ او ګران شی فکر موویلوی، اوخوښی اوښادی مو په ویر اوناورین را الیشوی.
که رخی اولوبی پرېږدو، نو به زموږ ترټولو خوږه سندره هغه وی، چه له خوراویرجن فکره را وتلې وی.
که موږ داسی پیداشوی وای. چه یوڅاڅکی اوښکی به نه تووو، نو به مو کورټ ستاد خوښۍ دنژ دیوالی

«پاتی په ۲۹ مخ کی»

دانگلیسي مطبوعاتو څخه :

دادب گلونه

دښاغلي سیدیوسف : پریش ترجمه

بایدهر فرد دخپلی ترفیع په‌وسایلو ځان پوه کړی . اوخپله وظیفه په‌ښه شان‌سره ادا کړی ؛ اوهر کله چه مونږ تل دمسعود ژوندون هیله کوو ، نو باید مونږ ددغو وسایلو دتامین‌دپاره ډېروتکلیفونو اوزیارونو ته‌غاړه کښېږدو اودزمانی تودی سړی‌وګالو. « بیارد »

نیك‌مرغی‌اوسعادة‌تل‌دتقوا په‌پاکوجامو کښې‌پټ‌وی؛ نوتاسی پرېږدی، چه‌چېغی سوری ، او ازونه ، شپی ورځی دآبشار پشان په‌شوراخته وی. « تنی سون »

سهار چه‌په‌ورین‌تندی دنیاته‌دشپی دتللواودسهار دراتللو زیری‌ورکوی ، اودبشر هرفردته دپاك لمنی اوتقوی دعوت ورکوی ، دشپی توره تیاره دفولادو د قلف پشان‌ده چه‌مونږ دبدوچارو او جنایتونو څخه منع کوی . « وزسکیر »

که غواړی چه تاد سعادت اونیك مرغی مارغه په‌خپلو وزرو کښې ونغاړی نو دسترګی‌رپ قدردخپل خدای څخه مه‌غافله کېږه . « ناپلیون »

ددبلیو وردسورت انگلیسي شاعر اثر :

دپسرلی نغمه!

بلبلان په‌خپلو خوږواوازونو اوجذابو نغمو کښې دپسرلی دراتلو زیری کوی اودپسرلی دراتلو بدلی وائی ، ویالی اورودونه او آبشارونه په ډېره مستی بهېږی اودډېری مستی‌څخه رازراز اوازونه کوی اوټوپونه‌وهی .اوددوی څاڅکی اوڅپی دلمر په پلوشو کښې‌دالماسو په‌شان‌ځلېږی ، ددی پسرلی دراتلو په خوشحالی کښې ورشوګانو او چمنونو ډاګواورغو شنی‌بخملی جامی اغوستې‌دی،دنیادکار او آزادی اوعشق اومینی اوخوشحالی نوم‌دی . . . . . زاړه اوځوانان لوی‌واړه ټول‌سره راغونډ شوی په خپلو خپلو چاروبخت دی ، اوپه شنو ورشوګانو کښې مالونه‌څری . . . شپون ورته‌یوه‌خوا بله‌خوا ګرځی راګرځی اودرودونو اوآبشارونو اوویالو په غاړه خوږی خوږی بدلې‌وائی اوشپیلی‌وهی‌اوپه خپلو خوږو نغموئی په‌دغه شنه فضا کښې دموسیقی نغمه‌ګرمه کړی ده، په‌اسمان کښې نری‌نری‌وریځی ګرځی ،اودو اورو اوبارانو پته‌نشته ، ددی‌شپانه څخه‌څه قدرته بیرته یوځوان په‌خپل کاربخت اولګیا دی او خولی پری راماتی‌اولاسونه‌ئی تنا کی‌دی اوده‌ته دغه‌دخپلولاسونو تنا کی‌او دخپل تندی خولی‌دهرشی‌څخه ښکلی اوښی ښکارېږی . . . .

په‌دغه‌ارته اووسیعه‌فضا کښې چه‌انسان‌هری‌خواته مخ‌اړوی ټول‌شیان په‌خپلوخپلوچاروبخت وینی اوهریو په‌زیاربخت دی . . . . ای‌ځلمیه تاته چه خپل پاك اومهربانه خدای روغ صورت اوقوی‌وجود درکړی دی دکائناتو په‌دی تابلوکښې‌غور اودقت وکړه‌اوته‌هم خپله‌وظیفه‌وپېژنه اوپه‌خپل کاربخت‌شه اودغفلت دخوب څخه‌سر راپورته کړه‌اودخپل ځان‌غم وخوره اوخپل موجوده اوراتلونکې وقت‌په‌نظر کښې‌ونیسه اودهغی دپاره تیاری وکړه . . . .

« پاته د ۲۸ مخ »

لارهم نه‌وای میندلې .

ستافن‌یوشاعرته ترخوږو سندروزیات دی اوترټولو هغو خزانو ورته ښه‌دی، چه‌دکتابو په‌منځو کې‌سته ؛

دغه‌خوښی چه ستا په زړه کې ده ، نیمی ئې ماته راوښنده! نوبه‌زماله شونډو څخه هم دغسی سندری راووزی !

اووګړی به‌ئې اروی ،لکه چه اوس‌ئې زه‌اروم .

دلیکو الوسره خبری :

پشتو چیری بیایو؟

کښته که پورته؟

ښاغلی حبیبی

دغه دوې پوښتنی چه ښاغلی ویونکی ووینی، لیری نده چه ددوی فکر ځانته را کش کړی، او یو کړی ددغو پوښتنو پرځوابو هم غور وکړی.

دلمړی پوښتنی په ځواب کې به ښایی چه ټول خلق دغه راته ووایی، چه: «پورته»

ځکه چه اوس له ښه مرغه ټول همو طنان د پښتو په ښېګړو پسې دی، اولکه حکومت چه د پښتو لوړ توب غواړی، دغسی هم دملت افراد که پښتو ژبی که پاړسو ژبی دی، اوس دخپلی ملی ژبی ښې غواړې، او هر کله ئی دغه زیار دی، چه دا ژبه په ښکلیو ګېڼو آغلیه سی، او ښکلائې رازیاته سی، چه دملت ټول عصری او علمی او ادبی ښېګړی تأمین کړی.

رشتیا خود اده، چه یوه ژبه تر هغو نه ژبه کېږی څو کتابونه ونلری، علمی ذخایر ونلری، مترقی ادب ونلری، دهر راز علمی مضمون د ادا کولو د پاره بیانی او ادبی استعدادو نلری.

دا ټوله لوازم چه یوه ژبه حقیقتاً ژبه کوی، هری ژبی ته د ژبی والی دپاره پکار دی، او که دغه استعداد یوه ژبه ونلری، نو هغه ژبه ددې وړ نه وی، چه د ژوندیو او علمی ژبو په ډله کې ودرېږی! پښتو ژبه که اصلاً خپل استعداد لری، کې نلری، که دا ژبه له پخوا څخه غلیچه او غښتلې ده، که نه ده، خو اوس ئې موږ غواړو، او قوی کوو ئې!

نو چه مو مخی ته د ژبی دارتقاء دپاره دغسی ګران مراحل سته، او ملاوی موټرلی دی، چه په زیار او مښود دغه منازل په پی کړو، خو دا طبیعی خبره ده، چه د ټولو هیله داده، چه پښتو لوړه ولاړه سی، نه کښته! جګه سی، نه ټیټه! روغه سی، نه رنځوره! کلکه او کروړه سی نه سسته پسته!

مګر دا خبره هم د څېړنی او پوښتنی وړ ده، چه آیا ژبه څوک لوړی درجی ته رسوی؟

آیا څوک په دې لار کښې خدمت کوی؟ او څوک دی، چه دوی د ژبی جوړوونکی یا ورانوونکی ګڼل کېږی؟

ددغو پوښتنو په ځواب کې به هم ښایی، خلق داووایی، چه ژبه دملت مال دی، ملت ئی جوړوی او ملت ئی ساتی، او ملت ئې لوړوی!

زه هم ددی خبری پرخوایم، په رشتیا هم ژبه دملت

دپاره‌ده ، اوهر اولس دخپلو احتیاجاتو دپاره،لخانته ژبه‌جوړوی ، اوهر څونی چه‌ئی اړتیاوی‌ډېر یږی ، هغونی‌خپلی ژبی ته‌هم ارت والی ور کوی ، نوژ به دمدنیت اواحتیاجه سره‌یو ځای پرمخ ځی ، اویو ځای ورسره مړی !

مګر دملت په منځ کې لخنی‌داسی طبقات سته ، چه دوی‌د ژبی سره‌تر نورو ډېره او ټینګه اړه لری ، اودغه‌طبقات هم‌ادباء ، شعراء ، لیکو نکی، خطبا ، دی ،چه‌داټول تریوه‌عنوان لاندی‌جمع کیږی،اودوی ته‌ژبوران وایو !

شاعر ژبوردی ، ځکه‌چه دده‌شعر دژبی غوره اساس‌دی،لیکونکی ژبوردی ، ځکه‌چه دده‌لیکد ژبی دناموس ساتند وی‌دی ، خطیب ژبوردی ، ځکه دده ویناعین‌ژبه‌ده !

ژبور ژبه جوړوی ،ژبه سموی ، ژبه لوړوی، هره ژبه چه ډېر ژبوران ولری ، هغه ژبه ، په رشتیا ژبه‌وی،اوپه‌ژبه‌والی کی‌دنورو‌سره سیالی کولای‌سی.

ژبور او وګړی

لکه‌لوړچه می‌وویل،ژبه دو ګړیومال‌ده،هروخت وګړی لخانته یوه ژبه لری ، دو ګړیو ژوندون اود حیات عواید اواړتیاوی ژبی ته‌تطور ور کوی ،ژبه نوې کوی ، ژبه ارتوی .

ترڅو چه‌د وګړیودژوندانه سویه جګه نسی ، او دژبی ارتوالی ته‌یو عمومی احتیاج حس نسی ، په‌ژبه کی نوی عناصر نه ګډیږی ، اونه ار تیږی !

دمثال په‌ډول : خلوپښت کاله‌دمخه مو طیاره‌نه‌وه لیدلې ، نوددې شی دپاره‌دیوه‌نوم ضرورت نه‌وو،چه یو الو تو نکی شی مو ولید ، اوعام شو ، نوئې‌نامه ته اړسوو ، اوو ګړیو وغوښته چه‌نوم پر کښېږدی . نه پوهیږم چه‌طیاره چاوبلله ، وخنګه دانوم عام‌سو، خو اوس داروپائی ایرو پلان‌دپاره طیاره یو عمومی نوم دی.اودانوم هم‌ضرورت‌اواړتیا ایجاد کړی دی.

که څه‌هم‌وروسته‌په‌پښتو کی دطیارې سره‌الوتکه هم ضمیمه سوه خو طیارې داسی غلبه کړی وه ، چه الو تکه لاتر اوسه نده‌پر غالبه سوې .

داولی ؟ یو لغت او کلمه چه یو وار دو ګړیو خولوته‌ورسیده ، اود تداول‌دګرته راغله ، هغه کلمه دو ګړیو ذوق منی ، بیا ئې ایستل او پرېښوول ډېر ګران کار دی !

له دې خبری‌څخه تاسی ته ښه ښکاره کیږی ، چه که ژبور دژبی روزونکی اولوړوونکی دی،خوو ګړی‌هم دژبی څخه لیری ندی ، اوژبه دو ګړیو دپاره ده !

هروخت ژبه‌د وګړیو په‌لاس ده ،دخپلو احتیاجاتو سره ئې برابروی ، نوی‌تعابیر، نوی لغات او کلمات پکښې پیدا کوی ، او عاموی ئې !

مګر دغه دو ګړیو ژبه جوړول، تل تریوه علمی اساس ، یا ادبی اوذوقی اصولونه وی لاندی ، عوام خو عامیانه کار کوی ، و ګړی‌دو ګړیو په‌خبرد خپلو اړتیاوو د پوره کولو دپاره ژبه ارتوی ، مګر دوی هیڅکله دژبی دښېګړی اولوړتیا په‌غم کی نه‌دی ، ډېر ځله ناوړه او غیر نافع مواد هم ژبی ته راوړی . ددې دپاره‌چه دو ګړیو غیرذوقی اوبې اساس تصرفات له‌ژبی څخه کم‌سی،اوژبه دوګړیود مبتذل اوغیر اساسی ذوق ملعبه نسی،نوژبی‌ته‌ژبور پکاردی !

هو کې ! دژبو روتل‌دژبی واګی په‌لاس کی‌وی، اونه ئې پرېږدی ،چه‌پر هره خواو لاړه سی،اوهغی خواته مخ کړی ،چه‌دژبی ښه‌والی اوګټه نه‌وی‌پکښې.

په‌بل راز وایم؟ چه‌دژبی بېړی هر کله‌دوګړیو او عوامو د جریان سره تلو نکې ده ، ددې جریان اصلی مقصد اوهدف‌هم غالباً نه‌وی معلوم،خوفقط ځی اوحرکت کوی ،مګرژبور دژبی دبېړی‌مانو اوبېړی‌چلوونکی دی ، چه‌دکښتی واګی ئې په‌لاس کی‌وی، له حرکته څخه ئې کاراخلی ، اودا بېړی‌پرداسی خوا بیایی چه هلته مقصد اوغایه وی نه‌ئې پرېږدی چه‌د ژبی بېړی‌دطوفان ګرداب ته ولوېږی، یادخطر اوضرر په‌خپو کی‌لاهواو توکرې‌توکرې سی!

نوله دې مقد مې څخه دانتیجه اخیستلای سو ، چه‌دژبی دپاره‌هم دعوامو او وګړیو قوه لازمه‌ده هم دژبو رو او ادیبانو اولیکو نکو توجه !

که له دغو دوو قوو څخه یوه نه وی دژبی طبیعی سیر او ارتقائی حرکت درېږی، او دسقوط خواته مخه کوی.

دژبو رو دندی:

لکه چه ومی ویل: ژبور دژبی دبېړۍ مانوګان او چلوونکی دی، دژبی په ارتقائی سیر کی خووګړی او عوام دونی مسئولیت نلری، لکه ژبوران چه ئې لری.

ژبور دژبی دښېګړو، دژبی داد بی لوړ تیا، دژبی دعلمی ذخایرو مسئول دی، عوام خو په دې لار کی فقط له حرکی پلوه څه نه څه کولای سی، مګر د اساس دټینګار او د بنسټ دایښو ولو او استحکام دپاره خوڅه نسی کولای.

ژبوران هرکله دژبی دارتقائی سیر لاری سنجوی، وسایل تهیه کوی، او دوګړیو پلاس ئې ورکوی، چه وګړی هغه وچلوی، او دژبی د پاره د ژبو رو په لارښو ونه او هدایت حرکت وکړی.

نو ګویا دژبی اصلی جوړو ونکی او بیاروزونکی او پالونکی هم دغه ژبوران او ادباء اولیکونکی دی. ژبور باید دژ بی دپاره هسی اساس کښېږدی. او هسی ټینګه سته ورته وضع کړی چه هغه دژبی دپاره خورا مفیده وی، او دژبی اساسی عناصر په خوندی سی او د ادبی او علمی ښېګړوور تل پر ژبه راخلاص وی.

ژبو ر باید تل دو ګړیو ذوق ته وګو ری، دعوامو محاوره او تکلم او اداء ئې ترنظر لاندی وی، سره ددې چه دعوا مو پرسویه اولار به نه ځی، خو بیاهم نه ښائی چه له هغو څخه غافل وی.

مثلاً که یوژ بور دپښتونثر لیکی، باید چه دی پخپل نثر کی د ملت عامه محاوره او خبری اتری هیری نکړی، خو بیا هم نسی کولای چه دعو امو دمحاور وهر وچ اولا نده را وا خلی. بلکه دی به زیار کاږی، چه رکاکت او د محاورې ناوړه شیان له لیکه وباسی، مګر دابه ئې په زړه کی وی، چه دمحاورې ترعمومی سطح لوړ نسی، او پربله خوا ولاړ نسی.

اوسنی ژبو ران او پښتو

داخبری ټولی دمقدمې په ډول وې، زما اصلی مقصد همدغه دی، چه اوس پیل په کوم. پښتو دادب اولیك له پلوه که څه هم خورا زړه ژبه ده، خو بیاهم اوس نوې راته ایسی. اوموږ لکه چه نوې شروع په کوؤ.

په دې حال کی لکه پښتو چه نوې او دځینو په خیال ابتدا ئی ده نوئې لیکونکی او ژبوران هم لږدی خو بیاهم دغه اوسنی لیکونکی ددې ژبی په جوړولو اولوړ تیا کی غښتلی لاسونه لری، اوهم دغه لیکونکی دی چه اوس دژبی دبېړۍ مانوګان ګڼل کېږی! او دغه ژ بوران او لیکوال دی چه آینده پښت ته دهدایت ډیوې بلوی او دژبی د «نوی ژوندون» لاری ورښئی!

دلته باید داخبره هم وکړم چه دد ې لیکو نکو سعی او زیار مشکور او د ستاینی وړ دی مګر بیا هم نه ښائې چه دوی اوموږ خپل ټول کا رونه ښه وبولو او دتنقید او څېړنی پلټنی لار وتړو!

زما په فکر خو لیکوال او او سنی پوهان او ژبوران دژبی سره ښه هم کوی، مګر کله کله دښو په ترڅ کی، په غیرارادی څیر ژبی ته ځنی تاوانونه هم رسوی. دوی خو دژبی مانوګان دی، مګر ډېر مانوګان دګټی او ښېګړی په خیال چه له آ ینده طوفانه اوګر دابه بېر ېږی، بېړۍ ودر وی، دغه درېدنه خو بالذات ګټه وره یابده وی مګر دمانو عقیده خو بالکل ښېګړه اوګټه ده.

ډېر ځله دا سی پېښېږی، چه مانو پخپل اجتهاد کی تېر وزی، او بېړۍ خطر ته نژدې کړی، بېړۍ هم ورانه، او ځان هم ورسره په ګرداب کی لاهور کړی.

دا وسنیو پښتنو ژبور انو په مخ کی هم دغسی هولناك مراحل سته، نو ځکه زه مجبور سوم، چه دوی دې خپل نازك موقف ته متو جه کړم، او دا پوښتنه ځنی وکړم چه آیا «ژبه چیری بیایو؟ کښته که پورته؟»

ښاغلی لیکوال او ژبو ران او ادباء دی ماوبخښی چه زه ددوی څخه ددې پوښتنی جرأت کوم، او دوی یوازی دژبی لوړ وونکی نه، بلکه کښته کوونکی هم ګڼم ځکه چه زماد خبرو مخ ادبا و اولیکوالو ته دی، نو باید په ډېر احتیاط پردې ډګر پښه کښېږدم او د تاریخ

په‌رنا کی خپل مطلب دوی ته‌روڼ کړم .

ماوو یل : چه‌یو لیکو نکی اوژبور کولای‌سی ، چه‌ژبی ته‌خدمت‌و کړی ، مگر داهم ورسره تړلی‌ده ، چه‌ژبی ته‌دی تاوان ورسوی ، تروټه دې کړی !

دژبی تاریخ ته‌وگوری ، : تراوسه‌چه موږ ته‌ښکاره شوې‌ده ، دغه‌ژبه په‌خورا مشعشع او ځلاند ډول زر دوه‌سوه کاله‌دمخه‌ژوندی‌وه ، اشعار او ادبیات ئې درلودل ، اوهغه ادبیات هم‌داسی مترقی او لوړوه چه‌باید تر دغو دمخه‌ژبی‌یو زر کاله‌پخواهم ادبی‌مراحل طی‌کړی وی !

نظم‌اوشعر به‌پرېږدو ، نثر ته به راسو ، لمړی نثرچه دژبی له‌لمړنیو وختوڅخه زموږ په‌لاس کښې‌دی ، دسلیمان ما کو تذکره ده ، چه‌تر (۶۱۲ه) و روسته لیکلی شوې‌ده ، ددې‌کتاب نثرخوږ ، روان ، سلیس له‌خونده‌ډك دی . یعنی خوراډېر دمحاورې له‌اوسنۍ سطح‌څخه لیری‌ندی ، څلورسوه کاله‌وروسته چه بیا دپښتوادبی آثار اودنثر نښی‌راپاته دی ، خیرالبیان اوداخونددرویزه مخزن اسلام‌اونوردی ، دغو لیکوالو دلیکنی یونوی سبك جوړ کړی دی ، چه‌په‌هغه‌وخت کی به‌ښایی ددوی په‌ذوق ډېرخوږ ؤ ، اوددوی به‌خوښ هم‌ؤ ، مگراوس چه‌ورته گورو ، دالیکونه نه نثر دی نه‌نظم . اوپه‌اوسنی‌ذوق بی‌خونده‌ښکاریږی خوکه دغو لیکونکوله ځانه دغه‌نوی‌سبك‌نه وای‌راایستلی ، اولکه سلیمان ما کودژبی دمحاورې‌اووینا‌سره سم‌تللی‌وای ، نوبه‌دوی‌د ژبی هغه‌پخوانی‌سبك‌نه‌وای‌وران کړی ، او آثار به ئې هم خوازه اوترابده مقبول وای ،

مگرداسی نه‌وشوه ، هغه‌سبك چه‌خیرالبیان ئی بنسټ ایښی ، اوبیا اخونددرویزه تعقیب‌کړ ، که‌څه‌هم تر ډیره وخته‌موجود وو ، خوگردو خلقوهغه ناوړه‌لیك‌خوښ نه‌کړ ، بلکه‌نیم قرن وروسته مرحوم خوشحال خان بیرته‌هغه زوړسبك ژوندی کړ ، یعنی د سلیمان ما کو په‌ډول‌ئې دمحاورې‌پراساس‌نثر وکیښ ؛ چه‌بیانوروهم دده‌په تعقیب دغسی‌نثر څه‌نه‌څه وپاله ،

مگر دخیرالبیان‌نیم‌منثورسبك‌پرد ماغودونی اغیزه کړې‌وه ، چه‌خوشحال خان اوملگریو ئې ځان‌له اثره نسوای ژغولای . څوچه‌په ۱۱۴۰ه مرحوم محمدهوتك خپله‌تذکره په‌داسی‌ډول وکښله ، چه‌له‌هغو ناوړواغېزو څخه‌ئې‌بالکل خپل‌لیك پاك کړ .

نودخیرالبیان دسبك‌لیکونکو که‌له‌یوی خواژبی ته‌خدمت‌وکړ ، اوآثارئې یکښې موجود کړل ؛ له‌بلی خوائې‌د ژبی طبیعی دنثرسبك څوسوه کاله‌ور وسته کړ ، که‌خوشحال خان مرحوم ژردی نقص‌ته نه‌وای ملتفت شوی ؛ ښایی‌چه تراوسه‌به‌هغه‌ناوړه‌سبك پرژبه غالب‌وو ؛ اود ژبی نثر په‌بالکل له‌موږه ورك‌وو .

نودیوه ژبورا ولیکوال تېرواته اواجتهادی خطا ممکنه‌ده ؛ چه‌څوپېړۍ پرادب اوژبه اغېزه وکړی ؛ اوله‌طبیعی سیره‌دی راوگرزوی .

له‌دې تاریخی‌مثاله زما مقصد داوو ؛ چه او سنی ښاغلی‌لیکوال او ژبوران په‌خپل‌مهم موقف پوه سی ؛ اوداومنی ؛ چه‌ددوی لیکونه آیندگانو ته‌پا تېږی ؛ اوپرهغو باندی ښې‌یابدی اغیزی کوی .

ځنی‌معاصر لیکوال‌او ژبوران به‌وی ؛ چه‌ددوی لیك‌او تحریرژبی‌ته‌ښی گټی لری ، دژبی‌ادبی‌ناموس ورساتی ، مگرداسی‌لیکوال به‌هم‌وی ، چه‌ددوی‌لیکونه اوتحریرات به‌د ژبی‌دپاره‌ډېر مضروی ، یعنی‌اساسی تاوانونه به‌ورته لری .

مثلا هغه‌لیکوال چه‌دوی دژبی‌د نثرلیك‌خاص‌دنورو ژبودترجمی‌تراغېزه‌لاندی‌کوی ، اود ژبی‌خپل‌خصوصی تعابیر اوښېگړی هېروی ، داسی‌لیکوال‌ژبه‌هم‌ورانوی اوکښته‌ئې بیایی .

مگرهغه ښاغلی‌چه پخپل لیك کې دژبی عنصر ته گوری ، اودنورو ژبو دترجمې اثر ئې په‌لیك کښی نه‌ښکارېږی ، اوهرکله دمحاورې اساسی ښټوته‌په‌لیکلو کی تقویت ورکوی ، داسی‌لیکوال ژبی‌ته لوړخدمتونه کوی ، اودوی دژبی‌دبیړۍ‌هغه‌پوهان‌اوغښتلی‌اوگړندی مانوگان دی ؛ چه بیړۍ‌دمحاورې په‌عمومی جریان کی‌اچوی ، مگرهیڅکله ئې‌نه‌پرېږدې ، چه دا بیړۍ دخطرپه گرداب کی‌ولوېږی ، یائې‌هغه جریان‌دضرر خواته بوزی !

پاته‌ده « ۳۴ » مخ

کابل اوویونکی ګې

دیوی پوښتنی جواب

۱ ـ هرچاته معلومه ده چه افعال یه ژبه کښې دمصدره جوړیږی ، مګرد (وم ، وو، وې، وی،) مصدریه پښتو کښې زماله نظره نه دی تېرشوی اوځینی کسان چه ددغو افعالو مصدر « ول » کښې اودفارسی دبودن یه مقابل کښې «ول» ته مصدر وائی داخبره څنګه ده ، صحیح ده که یه ؟ .

۲ ـ دویمه پوښتنه داده چه ځینی کسان د (لحم لحي لحی) مصدر (لحل) ګڼی او وایی چه (لحل) درفتن یه معنی پښتو مصدردی دغه صیغی ترې اشتقاق شوی دی اوماضی اواستقبال یې خلاف القیاس رالحی هر کله چه د (رفتن) دپاره یه پښتو کښې د (تلل) مصدرموجود اومستعمل دی له دغه کبله (لحل) راته ناآشنا معلوم شو نو ځکه امیدلرم چه دپښتو یوادیب دیورته پوښتنو ځواب راکړی

(فداحمدفدائی)

❀ ❀ ❀

ځواب

ځواب ـ ګرانه پوښتنو نکیه ! لمړی ستا دیوې داسی علمی پوښتنی او پښتومینی څخه تشکر کوو ، او وروسته غواړوچه ستادپښتنو یه خواوشا کښې څه ولیکو .

۱ داخبره تریوې اندازې مسلمه ده چه افعال دمصدرلحنی جوړیږی اودافعالو دپاره یومصدر ضرور دی . مګر دالازمه نه ده چه هرمصدردې خاځا مستعمل وی . یه هره ژبه کښې داسی ډېر مثالونه پیدا کیږی چه دیوه مصدر استعمال کم ،اویابالکل نه وی اوافعال یې مستعمل وی . مثلاً یه فارسی کښې د (هستن اوباشیدن) مصدرونه ډېر کم استعمالیږی بلکه لا استعمال نه لری

پاتی له ۳۳ مخ

داسی لیکوال ژبه پورته بیایی ، اولو ړوی ئې ، اوددوی نومونه دادب یه تاریخ کی تل ژوندی پاتیږی. ښایی چه زموږ ښاغلی لیکوال اوقلموال تل دې خواته ځیروی ، اوهر کله دوی ژبه پورته بو زی نه کښته .

زه دښاغلو لیکوالو سره خبری کوم ، اولکه چه ماته څرګنده ده ، داډله ډېرحساس خلق دی ، او ډېر بېرېږم ، چه دازمالیك بر دوی تریخ ونه لګیږی، اوله لیکه لاس وانخلی .

خوزمامقصد داندی ، چه دوی میدان پرېږدی ؛ اومایوس سی یه.... ښایی چه دوی ډېر محتاط وی ؛ اوهر کله پخپلو لیکلو کی دژبی اصلی عنصر یعنی دعمومی محاورې او تعبیر اساس ټینګ کړی ، اوپه لیك کی هیڅکله دپردیو ژبو دتعبیر اواداوانشاء تقلید و نکړی .

یوه ژبه چه دادب مراتب طی کوی ؛ اودادبی ارتقاء پرپوړو خیژی، بایدددی خپل عنصری خواص اومز ایا ټینګ سی ، اوهغه دتعبیر لاری او دوینا اصول اود بیان اوخر ګند ولوستی چه لری .په لیك کی پوزه وساتلی سی .

که یوه ادیب اولیکونکی دغه خواص درلوده ،او قلم ئی دژبی د ادبی ناموس یه ژغورنه کی ګړندی ؤ نودا ادیب او قلموال ژبه پورته کوی لوړوی ئی ، اوس دی نو هر څوك خپل لیك ته ځیر سی چه دده قلم ژبه لوړوی ؟

که ئې کښته کوی ؟ . . . . . .

او افعال ئې لکه (هست هستم هستی، باشد باشم باشی) مستعمل او مشهور دی . کله داسی هم وی چه په یوه مصدر کښې صرف خو صیغې مستعملې دی او نورې صیغې ئې نه وی اوریدل شوې لکه دفارسی په بایستن مصدر کښې (باید ، بایست، می باید) استعمال ، او نور صیغې لحنی نه دی جوړې شوې . په پښتو کښې هم دغسی مثالونه ډېر پیدا کیږی . مثلاً (درومم ، درومې درومی، درومه) چه دحال اوامر صیغې دی مستعملې دی اوماضی کانې یې مستعملې نه دی، حتی چه قیاسی مصدر (درومل) ئې هم استعمال نه لری . دارنگ (مری مره، وبه مری) دحال ، استقبال اوامر صیغې موجودې اومستعملې دی او نوری صیغې یې نه دی مستعملې شوی اومصدر یې چه (مرل) دی هم غیر دمستعمل دی دغسی نور مثالونه هم شاید پیدا شی چه افعال یې موجود وی اومصدر یې مستعمل نه وی ، نومطلب داشو چه دمصدر نه استعمال دهغه دنه وجود دلیل نه دی . کله داسی هم وی چه افعال اومصدر یې تول سره له استعماله اویدلی وی لکه یونل (رفتن) درملل (تیمارداری زخم) چه اوس یې یوالحی ماده یعنی یون اودرمل پاتی شوی دی اومصدر اوافعال ئې په استعمال کښې وجود نه لری . بحث می لحکه اوزد کړ چه دپوښتنی لحواب ښه واضح شی . پوښتونکی وائی چه (دبودن) په معنی په پښتو کښې ما کوم مصدر نه دی لیدلی داخبره صحیح ده ولی چه په دغه معنی کوم مستعمل مصدر نشته ـ مگر ظاهراً غیر مستعمل مصدر چه د «ول» څخه عبارت دی . موجود دی اوداکلمی (وم ، وو وې، وی، و، وو، وه ، وی وای) تولې له دغه مصدر څخه جوړې شوې دی. دغه کلمی که څه هم دحکم دثبوت کلمی دی اوپه افعالو جوړولو کښې دضمیرونو کارورکوی لکه (هغه ولا ړو هغه راغلی و ـ داراغلی وه) مگر هر کله چه دافعالو شکل لری اوامدادی افعال هم بلل کیږی له دغه کبله لازم دی چه یو ماخذ اومصدر ولری اوهغه بی له «ول» څخه بل شی نشی کیدلای .

د «ول» مصدر که څه هم لحانله اوجلا استعمال نه لری مگر د «ول» والا په ترکیبی مصدرونو کښې ضمنا استعمال اوموجود دی لکه (په سپینول او تورول کښې) هو! دومره خبره ده چه دغلته بیاد «بودن» په معنی نه دی بلکه د کول مخفف اود (کردن) په معنی دی مگر دا خبره ز مونږ اصل مطلب ته څه ضرر نه رسوی . کوم «ول» چه په سپینول کښې موجود دی بعینه هغه «ول» دی چه «بودن» په معنی دی . صرف د ترکیب په وخت کښې په بله معنی استعمال شوی دی . لکه وتل چه لحانله د (برآمدن) په معنی دی اوپه (کښیوتل، پرې وتل، ننوتل) کښې بیابلی معنی ته اوښتی دی .

ددې دپاره چه «ول» دبودن په معنی دی یو بل دلیل هم لرو . هغه داچه (ول) دوالی اووال سره ارتباط لری او د دوی په منځ کښې هم لفظی اوهم معنوی تناسب موجود دی . لفظی تناسب خوښکاره دی. او معنوی تناسب دادی چه (موږوالی، توروالی ، سپین والی) دادرې واړه کلمی په فارسی کښې په سیر بودن، سیاه بودن . سفید بودن سره ترجمه کیدی شی . دارنگ ددې جملې په عوض (دردراز بودنش هیچ شك نیست) داسی ویلی شو چه (په اوږدوالی کښې ئې هیڅ شك نشه) په دغه ډول د « وال » سره هم معنوی تناسب لری ولی؟ چه «وال» کله دسکونت او استوگنی دنسبت دپاره راځی ، اوپه (بودن) کښې چه د « ول» معنی ده هم دسکونت معنی شته کامه وال هغه څوك دی ؟ چه په کامه کښې استوگنه او بود وباش لری هر کله چه د (ول ، وال ، والی) په منځ کښې تناسب ثابت شو ؛ نو کیدی شی چه وال اووالی هم د «ول» څخه جوړ شوی وی ، او « ول» نه د « بودن » په معنی ظاهراً غیر مستعمل مصدر ووایو ـ لنډه داچه «ول» په پښتو کښې دبودن په معنی یو غیر مستعمل مصدر دی اود (وم وو) ډله ورڅخه جوړه شوې ده .

۲ ـ د(لحل) دمصدر په باره کښې وایو چه که څه هم (لحم لحو لحی . .) ظاهراً د (لحل) سره ارتباط لری اوله هغه څخه مشتق معلومیږی ـ مگر خبره داده چه د (لحل) وجود او مصدریت ته قایل پدل یو بی مطلبه کاردی . یو خودا چه په دغه معنی یو بل مستعمل مصدر یعنی « تلل» موجود دی ، اوله هغه څخه (لحم لحو لحی..) دیو قانون موافق جوړیدی شی دمصدر (ت) په (ح)

د مینو ستاینه

(٤)

سپین کټه باز :

زمونږ یوه ملی شاعر دالپوری حافظ چه مین ځنی بیل شوی دپښتون په حال کښې دخپل مین دوصلت په مایوسی کښې خپل مین په سپین کټه باز ستایلی اووایی :

سپین کټه باز می په منګل ناست و ناخایه و الوت .
له درست جهان پسی پر ه کړم را پیدا به نشی .

اغلی مخ:

اغلی - یعنی ښایسته ، حسین ، مقبول ، اغلی مخ ښایسته مخ ښه اغلی ، بسیار خوبصورت ، اغلې پیغله ، دوشیزهٔ خوب صورت . یوپخوانی زوړ شاعر ښکار ندوی وائی :

پښتون خواښکلی ځلمی چه ځغلی هندته
نو اغلیه پیغلې کاندی اتیو نه

لکه ښکلی مخ چه دمخ صفت او خاص د محبوب ښاغلی محمد ګل « نوری » :

په معنی ئې پښتانه ادیبان استعمالوی ، اغلی مخ هم دمطلقی مین او محبوب په معنی استعمال او محبوب ته خطاب په کوی.

شیخ تیمن چه د ۵۰۰ تر ۵۵۰ هجری کلو په حدو دو کښې د سلطان علاء الدین حسین په وخت کښې دپښتنی او پښتو ملی شاعر او ادیب و، وایی:

دخپښتن پاردی هیر می نه کړې
اغلیه مخ چه په یانه کړې
اوربل دی پرېښووی واته کړې
پرمادبل اور ، کړو ون راغی

کښلی مخ اواغلی مخ دواړه په یوه معنی دی یعنی طلعت زیبا، روی مقبول منګر زمایخیال ښکلی اواغلی دونه فرق سره لری چه ښکلی یا کښلی هغه ښایسته شی ته وایې چه لکه دیوه پوه او قابل نقاش په نقش سره

« پاته د ۳۵ مخ »

بدلیږی اودحال ، امر ، استقبال صیغی ځنی جوړیږی لکه (ځه ځم ، ځم به) دغسی نور مصدرونه هم شته لکه له وتل څخه وځی ' له کښېوتل څخه کښېوځی . له ننوتل څخه ننوځی چه ددغه قانون موافق جوړې شوی دی . او (ت) یې په (ځ) بدله شوې ده (۱) .

بله خبره داده چه په مشتقاتو کښې دمصدر دماهیت او مفهوم موجودیت ضروردی .

نوداسی کلمې ته مصدر ویلی شو چه هغه معنی او مفهوم ولری ، او حال دادی چه (ځل) هیڅ مفهوم او معنی نه لری.

په دی صورت کښې چه « تلل » یو مستعمل مصدر موجوددی او زیاتې صیغی ورځنی دقانون موافق جوړیږی نودبل مصدر پیدا کولو ته ضرورت څه دی؟ داوبالفرض که ځنی صیغی ورځنی جوړی نشی هنو ته خلاف القیاس ویل هم څه ناروا خبره نه ده . دخلاف القیاس افعالو ځنی ژبه نه خلا صیږی . لکه له کتل څخه (کو ر ی) چه خلاف القیاس بلل کیږی د« تلل » له مصدر څخه صر ف ولا ړ . اوراشی (خلاف القیاس صیغی دی .خوك چه (ځم ځو) داشتقاق دپاره د (ځل) مصدر ته قایلیږی هغه بایدد(ولاړ اوراشی)داشتقاق دپاره (راشل اوولاړل) ته هم قایل شی او په یوه باب کښی څلور مصد رونه یعنی دهرې صیغی دپاره بیل بیل مصدر پیدا کول یوه نامعقوله خبره ده، په ځای ددې چه یوه بی معنی کلمه لکه (ځل) د(ځم ځو ...) دپاره ماخذ مقرر کړو دابهتره ده چه دامر کلمې (ځه) ته چه یوه بامعنی کلمه ده ماخذو و ایو اود حال صیغی ورځنی جوړی کړو . په فارسی کښې هم دحال صیغی دامر څخه جوړیږی لکه له روب څخه روبد ،می روبد اونورې لنډه داچه د« ځل » قایلید وته هیڅ ضرورت نشته . د(رفتن) دپاره یومستعمل مصدر یعنی « تلل » موجوددی اوله هغه څخه دغه تولې صیغی دقا نون موافق جوړیږی . صرف ولاړ اوراشی دووت او راو ځی دالتباس له وجهی څخه خلاف القیاس راغلی دی ، اوبس نوراحترام !!

(صدیق الله رشتین)

---

(۱) هرچیرې چه د تلل او وتل مصدرونه یا ځانله او یادبلی کلمی سره راشی په حال او امر کښې ئی (ت) په (ځ) بدلیږی.

چه‌ښه منقوش او کښیده شوی وی دهر چا خوښ وی،
او که دځینو خوښ وی دځینو نه‌وی خوښ او اغلی هغه
ښایسته شی ته وایی چه طبیعی ښایسته اوطبیعی جذاب
وی ، په‌هسی لید وسره دهرچا خو ښیږی .

ژیړمین:

دلته دژیړ څخه مراد مطلقی ښایسته او اغلی‌دی
که ژیړوی که نه‌وی ؛ دمحبوب درنګ دپاره په
پښتو کښې اکثره ژیړ یاسپین استعمالیږی ، وایی
سپینه مینه ، ژیړه مینه ،سپینه‌لیلا،ژیړه لیلااونور . . .
کله کله لږلږ تور صفت‌هم‌وراچوی لکه دالنډۍ :

خلك به وایی رنګ ئې توردی
توری زمایه زړه چړی منډلی دینه

کله کله ترسپین رنګ تورته‌ترجیح ور کوی لکه
ددې لنډیو په مطلع کښې

تورلونګین تور دی پرسپین به ئې‌ورنه کم

دلته دلو نګین څخه مرادمین دی‌نه دلو نګوامېل
ځکه چه سپین لونګ نشته بل ځای‌هم دلنډیو
په‌مطلع کښې‌وائی :

لو نګین تور یاری ئې ګرانه

له‌دې پورته بیان‌څخه معلو میږی چه پښتانه ژیړ
اوسپین اوتور رنګ ترنورو رنګو ښه خوښوی . په
ممزوح رنګو کښی سور وسپین ترټولوښه خو ښوی
چه‌دې رنګ ته خلك غنم رنګ وایی .

دقندهار دبغنی‌پخوانی نوموړی شیخ اسعد پښتون
شاعر چه‌په ٤٢٥ هجری سنه کښې ئې د دنیا ګلونه
بویول داسمان څخه‌په ګله کښې وایی :

څه تیری څه ظلم کاندې ای فلکه
ستا له لاسه نه‌دی هیڅ ګل بېله خار
په ویرژلولورنه کړې په‌زړه کراړیه
پر نتلو اوروې دغم نا تار !
هیڅ روغی می په‌زړه نشته‌ستاله جوره
بېلوې په ژړا ژیړ مین له یار

دزړه دسرګلاب :

مراد ورځنی مطلقی مین اومحبوب دی .

لنډۍ:

زما د زړه د سر ګلابه
رب‌دی دغم دباده‌وساته مینه
زما د زړه ګلابه را شه
پر نوروخلکو پسرلی پر ماغمونه

نامراده:

دپښتو په‌بدلو کښې ومحبوبی ته‌وایی لکه داتڼ
په‌دې ناره کښې چه‌وایی :

سترګی دی آهودی، نامرادی پر سینه‌دې شفتالودی
یو شفتالوراکه، نامرادی درنځورسړی دارودی

د کشمشو دانه :

دانه کشمش - یومین وخپلی‌مینی‌ته داتڼ په‌ناره
کښې دکشمشوددانې خطاب کوی او وایی :

په یزه دی د تور لونګ دانه ده
دانه ئې دکشمشو، دکشمشودانه څه‌بده خوږه‌وه

خالوره :

خال‌دار ، زما په خیال ، دالغت خالوره نه دی
بلکه‌خیالوره‌ده، ځکه‌په‌پښتو کښې پرته‌له دې‌ځایه مابل
ځای دخالور یاخالوره لغت‌نه دی اروېدلی اوخیالور
یاخیالوره په‌پښتوادبیاتو اومحاوره کښې ډېراستعمالیږی
وایی خیالور سړی یاخیالوره ښځه ده - خیالور یعنی
نازو فخر کننده داتڼ په ناره کښې وایی :

آمستی نادری! ترداغوټ کجك‌دی جارشم خالوری
ستاخوله‌دمرط کلاده!دمرط پر کلاتل‌دسپر ودوړی

بور یابوره :

بوریعنی‌خاکی وسرخ ، نسواری‌رنګ، مونث‌ئې
بوره - داصفت ماپرته دشینخالی په‌نارو کښې بل‌ځای

په ادبیاتو کښې نه لیدلی او نه می اروېدلی دی د شینخالۍ ناري چه لکه ملي لنډۍ د دغو نه ډېرې او همدغسی په دې اوستری کلو کښې رواج شوی دی ؛ په دې نارو کښې وایی :

د کلا پر سرا نار دی
نن د بوری زړه ولاړ دی
را و څکیږه زما بوری
صورت می نه دی پرله پوری
ته چه زما په گناه بار شې
بوره حج لره به ولاړ شې

بوره، بور ځینی پښتانه پرخپل زوی او لور نوم ایږدی.

گل :

گل که څه هم د پښتو او فاړسی سره شریك دی منگر د پښتو په اشعارو او ملی لنډیو او بدلو کښې مین په گل سره بیخی ډېر ستائی او خطاب ورته په کوی، اکثره پر خپل زوی د گل نوم ږدی .

د گل په صفت مین په لنډیو او شینخالۍ په نارو کښې بیخی ډېر ستایلی شوی دی، د دې د نمونې د پاره به مونږ صرف د شینخالی هغه څو ناري ولیکو چه په هغو کښې ومین او مینی ته په گل سره خطاب شوی دی :

چه زه مړه شم گل خبر کی
زما دغا ډی امیل ور کی
د کلا و د ېوا له ته
گله د ر به شم دا لته
گله و لو ېږی له اسه
له ژاو لن دی نکړم خلاصه
د گو ټو تنۍ تړ ې !
گله پر کمه را څخه ځې ؟
د گا ډۍ پر پیچ در خیژم
گله لاس را که ښو هېږم
د گل ناوی ناز کی
گل خو تازوړ کی لایقی
په گل مه کوی لوی
په لاس بې جگه شی ناړی
د کلا په سا ړه سیو ری
گل می پروت باران پراوری
شینخا لی په ژ ړا ژا ړی
دا د مو ر څخه گل غوا ړی
گله ! جگه ! لو ړه !
تو یك ډك که د ښمن وله
دا د گل یاری دا و ره
زه ئې کړم ترتبۍ تو ره
اسمان شین سو مځکه شنې سوې
زما د گله اند ېښنې سوی
رنگارنگ بېت ئې په لاس کښې
گل په کم غره کښې اوس ناست دی
چه زما گل په کلی نه وی
کلی بارو ی ږغ ئې نه وی
چه زما گل کلی له راشی
کلی بیا نو ی با زا ر شی
گل می مړدی که ژ وندی دی
په کوټه کښې ئې زگېروی دی
تور گو ټو نه سپین نا لو نه
گل ر یبی د ز ړ و سرو نه
زما پوړ نۍ دجا لې د ی
گل لا یق در سالې د ی
ز ما د گل د نا میندۍ
تبی را و لو ېدې ژ یړی
آ سپو ږ می رو یدا ر ی
گل پر کور دی که پر لا ری
نه پر کور دی نه پر لا ری
گل خو سو ترخاور ولاندی
ز د کلی تهمت و ړ م
د گل ما نی نه قبلو م
تو به د ی و نړ ېږ ی
د گل بیا کډ ی باریږی

زما مور دی جنتی شی
تر مادا په گل راضی شی
زماموردی دوزخې شی
گل راځی رضائې نه شی
نه می توان کیږی نه صبر
پر گل جوړ کښې یو لوی قبر

چنارو :

چنار خو مشهوره ونه ده ، مونث ئی چناره ، ه ئې په واو بدله شوې چنارو وایه کیږی ، ځینی چنارونوم پر لور ایږ دی او ځنی ئې په ادب کښې مطلقی د محبوبی په معنی استعمالوی، د لنډیو په مطلع کښی وایی :

تر دیوال دوې گوتی سر لوړ که
چر بانگ دی چنارو خانه
د زنی خال به دی دیوال وسو لوینه
چر بانگ دی چنارو خانه
زلفانی دی زنگیږی د سینې په انارو

مړاوی گل :

گل پژمرده ـ په دې لنډۍ کښې ئې دبې درده او بی عشقه معشوق تعبیر په کړی دی:

مړاوی گل په لار کښې پروت وو
ماد یارۍ لوبی په کړې په نازېدمه

زلمی :

په لنډیو کښې ډېر ځایونه و محبوب ته خطاب په شوی دی

سپینه سینه در ته پرته یم ـ
دبی ننگۍ زلمیه خوب دی زنگوینه

اشنای :

اشنا دوست ، دپښتو په اشعارو کښې دا څو صفتونه او القاب دمین دپاره ترټولو القابو او تعبیراتو ډېر استعمالیږی مثلاً اشنای جانان، یار، په زیاته بیا په لنډیو کښې بیخی ډېر مستعملیږی .

ددې په باره کښې خو په زرو اشعار او لنډۍ مثال راوړلای شو، منگر هیڅ حاجت نشته چه پاڼه په ډکه شی وهرچا ته معلوم دی، همدا یوه لنډۍ بس ده :

اشنایه ولاړې اسمانی شوې
اسمان چه مځکی له راځی قیامت به شینه

یار :

یار خو عیناً محبوب او اشنای دی دمخه مو هم وویل چه دپښتو په اشعارو او لنډیو کښې ډېر استعمالیږی ددې نمونه هم دادوی لنډۍ بس او کافی دی :

یار می په گلو کښې بیده دی
د سپینی خولې شبنم به زه پر اورومه
یار می د ژیړو گلو باغ دی
ټولۍ ټولۍ نجونی ورځی گل بویوینه

جان :

روح، ځان ـ د جان بیان مو د جانان د لغت سره وکړ، جان دپښتو په اشعارو کښې دمین او محبوب په معنی استعمال او مراد ځنی مین دی، ددې مثالونه ډېر دی و ډېرو ته حاجت نشته همدغه داعلیحضرت احمدشاه بابا دغه یو بیت به دلته ولیکو :

راشه جانه زما جانه بل جان نه لرم
که روزی شوې زمانور به ارمان نه لرم

ببو :

ببو یو مخصوص داسانو مرض دی چه اکثره داس ساغری او اوستر بل وهی او د آس اوستر بل بی حسه او د حرکته څخه ولویږی .

ځینی وگړی ومشری خوراو خواښی ته ببو وایی ، گمان کوم چه په دې وروستۍ معنی سره دالغت دبی بی څخه اخیسته شوی دی په هر صورت دلغاتو تحلیل دفقه الغة دعالمانو وظیفه ده، ببو په اشعارو او ملی بدلو کښې دمعشوقی په معنی دی، دلنډیو په مطلع کښې وایی :

زمادی ټول عمر په دار کی ببو جانی ببو جانی
لکه هوسی پرمیږ تون شپې تېرومه ببو جانی

(نور بیا)



په تورو تیارو کښې ددرنګونو (معدنو) کینل

نن دمخصوصو ډیو واوخراغونو په رڼا کښې په زرګونو امریکایان دخپل هواد په مخکو کښې د « تنګستن » په معدن اودرنګ پسی ګرځی او شپه ورځ ددرنګو په پلټنه بخت او مصروف دی ، تنګستن یوراز فلز دی چه دعصری فولادی وسلو په کلکوالی کښې مخصوص اهمیت لری ، اوهر کله چه دافلز په جنګونو اوعصری وسلو کښې ډېر لوړ مقام لری نوله دی کبله دافلز د جنګ په وختونو کښې ډېر احتیاج اوجګ نرخ پیدا کوی اوتل ددرنګونو د کینلو پوهان ددی فلز په پیدا کولو او پلټنه کښې ډېر زیارونه باسی اومخترعین ددی فلز دایستلو او استخراج داسانتیا دپاره رازرازاختراعات کوی او ددی فلز دایستلو دپاره دخپلو تازه تجربو اونو وماشینو څخه کارونه اخلی .

ددی فلز دایستلو اوپیدا کولو تازه او نوی کار دادی چه ددی د کشف دپاره یوراز مخصوص خراغو نه جوړ شوی دی اوهر کله چه دغه ماده په کټوو اود یګیو کښې واچوی اودغه کټو اودیګی داوبو څخه ډک کړی نو په دغه اوبو کښې توري شګی اوتوری توری وړی او کچنی کچنی تیږی هم واچوی اوپه دغه دیګو باندی دغه مخصوصی ډیوی لګوړندی کړی په دغه مخصوصه رڼا کښې دغه فلز دالما سو اوبلورو دټوټې په شان ځلیږی اوپه دی چم دوی دتنګستن قیمتی ماده لاس ته راوړلی - نن ورځ په امریکا کښې داراز ۳۰۰ معادن شته چه په دی چم سره له دغو معادنو څخه دغه ماده را ایستل کیږی ؛ د تنګستن نومی فلز رنګ اکثر زړ او کله کله لږ سور بخن وی .

پخوا به ددی فلز په ایستلو اوپیدا کولو باندی غټ غټ خرڅونه کیدل اوډېرې روپی پیسې اوتاوانونه به پرې کیدل لیکن نن ددغه مخصوصو چراغونو په مرسته دغه فلز په ډېره اسانتیا سره کشف کیږی نن ددی فن پوهان په لمکه باندې ددغه چراغو رڼا اچوی اوددغې مخصوصی رڼا په مرسته دوی ته دغه فلز معلومیږی او چه دغه ماده کشف کړی نوفی الحال دهغې تیږی او ګټی په ماشینو باندې میده کوی او په مخصوصو عملیاتو دغه ماده لاس ته راولی ؛ په دی مقام کښې به داخبره هم بی ځایه اوبی موقع نوې چه دامریکی دمتحده ولایاتو په یو ولایت کښې ددی مخصوصو اشعه ؤ او چراغونو څخه پخوا دسروزرو په یو درنګ کښې پنځوس کاله کار شوی واوپه دغه موده کښې ددغه کار په ضمن کښې تنګستن نومی فلز هم دغه خلکو ته په لاس ورغلی و ، لیکن ددغو خلکو په دغه کار دومره روپی لګیدلې وی چه دغه شی هغوی ته ډېر ګران تمام شو . په امریکه کښې یوبل شرکت دخپل هواد په غرونو کښې دسروزرو ددرنګ پلټنه کوله په دی ضمن کښې هغوی ددغه غرونو په ناوونو او درو کښې دا راز ډېرې تیږی ولیدلی چه هغه خلکو غورځولی وی اودتنګستن نومی فلز ډېره ماده ئی درلوده .

لیکن نن دغه مخصوصو شعاعو ددی فلز په کشف کښې دومره ښه نتیجه ور کړی ده چه نن دپلټنی څخه داشی ددغی رڼا په مرسته تصادفاً ډېر زیات پیدا کیږی؛ دکلیفورنیا په جاف نومی ډاګ شدونومی غره به خوا کښې ددغه مخصوصو شعاعو دنتیجی اخیستلو مدیر «مستر توماس وارن» دتنګستن ددرنګ دکتلو دپاره یوه شپه دکتنی او معاینی دپاره لاړاو

«پاته د ۴۱ مخ»

دافغانستان پخوانی تاریخ

(٦)

ښاغلی «کهزاد»

پەدغەځای کښې یوه بلەودانۍ هم شوی وه چه صرف ددغی ودانۍ پەیو گوټ کښې څەقدر ځای کینل شوی و ، اودحفریاتو نورعملیات دیووختەپوری معطل پرېښوول شوی و .

ددغی ودانۍ ددیوالونو پەخارجی برخه کښې صرف اومی خښتی اوپەدننه داخلی برخه کښې او مې اوپخی خښتی گډی وډی لگیدلی دی ، کوم کودړی چەپەلمړی لمبرودانۍ کښې موندل شوی دی هغەبیخی ساده اودخاور ینو معمولی لوښو توټې دی ددغه ځای دلوښو خاورەسره اویانسواری اویاخا کی وه . ددغو لوښوختەپەښەشان نده پخەشوی اوددغو لوښو ژۍ غټی دی ، دغه لوښی پەخرخ جوړشوی دی .

پەچوونی شیانو کښې دغشو دری گوټیزتو بری ډبرمهم دی ، پەدغوتوبرو کښې یوتوبری چەغاښ هم لری دسیتی عصر دتوبرو یادگارتازه کوی ، دو سلو پەاقسامو کښې دچوونی خنجرخوکه هم کشف شو بده اودکور پەشیانوکښې پەدغه ځای کښې یوەستن موندل شویده چه سرئی اوار اوسپم ئی غونډ دی ، او یوه

(پاته د ٤٠ مخ)

مستر «اولیفرآدسز» ئې هم دخپل ځان سره بوته ؛ دوی دو اړه د خپلو تحقیقاتو پەسیوری کښې دی خبری تەور سیدل چەدهغو شعاعو داستعمال دپاره ئې یوراز قوی ماشین تیار کړ او دد غه ماشین عملیات ئی دشدو دغر ه پەلمن کښې وازمویل اوپەدغه ازموینه کښې ئې خیلی ډیری کامیابۍ ولیدلی ، دوی نه وروسته بل یودریم سړی پیداشواوهغه ددوی پەکار کښی ځنی ترمیمات وکړل اودهغې ترمیماتو پەاثر دغەشعاع دو مره اصلاح شو چه ددی فلز پەکشف کښې ئې ډیره اسانتیا راوستله .

هر کله چەدې کارته دطبقات الارض پوهانو ډیره اړه در لوده ، نودوی دغه شیانوته پوره ترقی ورکړه او اوس شپه ورځ ددغی اختراع پەمرسته پەخپلو کارونو بخت او پەډیره اسانتیا سره دځمکو اوغرونو څخه پەملیونو تنو قیمتی فلزات راوباسی او د خپل ژوندون دمشکلاتو داسانتیا پەچارو کښې ور څخه لوړ لوړ خدمتونه اخلی ؛ او پەلږ زیار او کم مصرف قیمتی شیان دځمکواوغرونو څخەراباسی .

(له خارجی مجلو څخه دښاغلی سیفی لنډونه)

دسپینوزرو والی هم کشف شویده .

داول لمبر ودانی په مخکه دتیزو دلو ښو توتی اودبشقابو اوکاسواو اوغرونو (چتو گانو) توتی هم کشف شویدی ، دغه لوښی اکثره دتوری او یاخاکی رنگی ډېری کلکی تیزی څخه ډېر ښکلی جوړ شوی دی په دغه ځای کښې دهډوکو شیان ډېر کم لیدل شوی دی اوپه دغه ځای کښې بی دیوه پن اویوی تکمې نه دهډوکی بل شی ندی موندل شوی .

په دوهم لمبر ودانی کښې راز راز اوقسم قسم رنگارنگ کودړی لیدل شوی دی چه دغه کودړی موسیو گریشمن په خلورو برخو ویشلی دی اول: عادی کودړی چه هغه عبارت دی دهغو مرتبانونو او گیلاسونو څخه چه دهغی بیخونه اوار اودزړی یاسرې خاوری څخه جوړ شوی اوکرښې پری راښکوول شوی دی .

اووړی خاکی رنگی آب خوری اولوی لوی بتلونه اوبرغولی دی چه د پریکړو پریکړو کرښو گلونه پری اچول شوی دی .

دوهم : سره کودړی چه لوښی ئی ډېر کم موندل کیږی ددی قسم څخه چه ځینی لوښی مونږ ته په لاس راغلی دی هغه ځینی ښانکونه دی چه بیخونه ئی پلن اویاخه قدر پورته راوتلی اودهغی ژی یاتنگی اویاخه قدر ارتی دی دغه لوښی ډېری صافی میده خاوری څخه ډېر صاف اوښکلی جوړ شوی اوډېر پاخه دی ، ددی لوښو رنگونه سره اویانسواری دی .

دریم : خاکی تور کودړی دی چه ددی راز لوښو نمونې هم ډېری کمی موندل شوی دی ، ددی راز لوښو څخه دځینو گیلاسونو توتی چه بیخونه ئی اواردی ، او یو جام اویوه بله دکوم یو شی اوزده غوندی توته موندل شویده .

خلورم : رنگ کړی کودړی (۱) داراز کودړی اوخاورین لوښی دداسی خاورو څخه جوړ شوی دی چه دهغی خاورو رنگونه زیړ ، گلابی ، اویاسوروی توراوسره لوښی ډېر کم دی ، ددی راز لوښو په رنگونو کښې ددېرو رنگونو څخه کار اخستل شویدی اوددی لوښو په رنگونو کښې کلالانو ددی خبری ډېر کوښښ کړیدی چه دروښانه رنگ په مقابل کښې ډېر ټینگ رنگ استعمال کړی لکه چه په دی لوښو کښې سپین اوزیړ رنگونه متناوباً له تور اوسور رنگ سره استعمال شویدی ؛ په دی راز لوښو کښې مختلف رنگونه استعمال شوی دی ، اوپرته ددغه پورته رنگونو څخه په دی لوښو کښې نارنجی اوسره اوزیړ رنگونه هم گډ وډ استعمال شوی دی ، اوپه دی لوښو کښې سره اوزیړ بخن اوجگری رنگونه هم استعمال شوی دی ، ددی لوښو نقش دساده هندسی کرښو څخه عبارت دی چه دلوښو دپاسه رسم شوی دی او عموماً ددی لوښو دایروی خطوط نیغ اویامنحنی اویامثلث اویادداییرو په شکل دی ددی رنگه کودړو څخه صرف دوه قسمه زمونږ لاس ته راغلی دی چه یو قسم دداسی مرتبانونو کودړی دی چه دهغوی خولی ارتی اومنځونه ئی بهر ته راوتلی اونور ساختمان ئی بالکل اواردی ، اونور یوراز برغولی دی چه دهغوی په منځ کښې دنیولو دپاره غوټی هم نشته په دوهم لمبر ودانی کښې دوسلی دقسمو څخه غشی اوتوبری چه دولې دپاڼو په شکل جوړ شوی ډېر موندل شوی دی چه په دوهم لمبر ودانی کښې دغه راز شیان نه دی موندل شوی .

دری گوتیز غشی اوتوبری دکمربند گلداری تکمې ، پن ، او بازو بندونه هم موندل شوی دی دسرخ داغ نومی غونډی دوهم لمبر ودانی کښې دری دسروزرو شیان موندل شوی دی چه دغی جملی څخه یو دپیش قوزی لاستی دی دغه لاستی دیوی محدبی تکمې په شکل دچوون څخه جوړ شوی دی اوددغه لاستی په اطرافو کښې خلور سوری هم نشته ، اوددغه چوون دپاسه دسروزرو گلټ کاری شوی ده اوپه دغه لاستی باندی یو بر جسته شکل په صورت معلومیږی په دوهم شی باندی کوم شی نصب او دمارپیچ په شان برجسته ترئینات لری دریم دیوی کوچنی قطی سره یو پوښ .

دتیزو دشیانو څخه په دغه ځای کښې بی دیوه اوغر (چتو) او گلدان څخه اوبی دچتو ددوومولیو اولاستو نورشیان نه دی کشف شوی .

---

(۱) داراز لوښی او کودړی دکاشان په خوا کښې سیالک نومی غونډی کښې ډېر موندل شویدی .

خارجي ارتباط اودهغې نتيجه .

په مخکښې مضمون کښې موداخبره ښکاره کړه چه په افغانی سیستان کښې دقبل التاریخ په زمینه کښې تجسسات نوی شروع شوی دی او کوم حفریات چه دسرخ داغ په غونډۍ کښې شوی دی دهغې نه هم دکار شروع معلومېږی ، لکه چه ددغی غونډۍ د(۳۱)متره جګوالی څخه صرف ۱۲/۵۰ متره یعنی تقریباً دریمه برخه کینل شوی او (۲۱) متره ئې دجلګې پوری رسیدلو ته باقی پاته دی ، اوپه تجربو سره داخبره ثابته شویده چه پخوانی ودانی عموماً دجلګی دسطحی څخه کښته دی ، له دی کبله کوم معلومات چه مونږ ئې نن لرو هغه دسرخ داغ دغونډۍ ددووپېړیو ددوو ودانیو سره ربط لری چه دزرنج دخلکو دژوندون په لمړۍ زرو، ق ، م کالو باندی لږه رڼا غورځوی ، نوهمداسبب دی چه مونږ فی الحال دومره شواهد نه لرو چه هغې سره مونږ دیو بل خارجی افق مقائسه وکړی شو، او که مونږ ددی خبری مقائسه هم وکړو نو ددی دوو وروستو دورو مقایسې مظهر هم دادسرخ داغ ودانی ده چه دهغې پخوانو برخوته تراوسه لاس ندی ورل شوی ، لیکن سره ددی مونږ دومره ویلی شو چه دسرخ داغ ددوهم لمړ ودانی رنګ کړی لوښی د(انو)دخاورینو رنګارنګ لوښو سره شباهت او نزدېوالی لری ، لکه چه دا دواړه موسیو ګریشمن دیو بل سره په خپلو کښې مقائسه کړېدی ، اومستراندروس په عمومی ډول سره په تخنیك اورنګ اونوروتزئیناتو کښې دکلکولی تپك سیستان او (انو) په لوښو کښې ډېر مشابهت وینی . دموسیو ګریشمن دنظریې له قراره دسرخ داغ په خاورینو لوښو او خصوصاً هغه دتورو خاورینو لوښو اودکوزوچوښتی او مینو کی چه پورته مو ذکر کړل له هغو شیانو سره چه د کاشان په خوا کښې دسیالك (۱)دغونډۍ په B قبرونو کښې پیدا شوی دی ډېر مشابهت لری ، اودمعماری داصولو له قراره هم موسیو ګریشمن دسیالك اوسرخ داغ په مینځ کښې ډېر مشابهت وینی .

دسرخ داغ په خصوص کښې دموسیو ګریشمن وروستنی رپوټ او نظریه داده . کومه برخه چه تر اوسه کینل شوی ده له هغې څخه ددی غونډۍ داوسېدونکو دژوندون دوه وروستنی دوری معلومېږی چه دواړه په لمړی زر، ق، م کلو کښې تېر شوی دی . کومه غونډۍ چه ۳۱ متره جګوالی لری او ۱۲/۵۰ متره ئې تراوسه کینل شوی دی امکان لری چه دجلګی دموجوده سطحی څخه کښته ډېری پخوانی زړی ودانی وموندل شی لکه چه دفارس په غونډیو کښې غالباً دانظریه حقیقت ته رسیدلی اوثابته شوی ده . هر کله چه تر اوسه ددی غونډۍ شل متره لاندی کینل شوی نومونږ دد ی کینل شوومترو دمعلوماتو له رویه داویلی اوفرض کولی شو چه په تحتانی طبقاتو کښې به دخاورینو لوښو دری یا څلورو زرو کالو پخوانی کوډی وموندل شی اودهغې له رویه به دفارس دغونډیو اوسند دوادی له کوډو سره دارتباط مسئله ښکاره او روښانه شی .

ددی پورته خو کرښو څخه معلومېږی چه سره ددی چه داراز تحقیقات نوی شروع شویدی لیکن سره ددی دسند دوادی دکلکولی تپك دوری او دبلوچستان اوداکسوس دشمالی خواودخلیج فارس اوخزر دلمکو په مینځ کښې او دهغې څخه بېرته دسوزیان او عیلام پوری په بین النهرین کښې دهلمند دوادی ا و سیستان دحوزو دمدنیت سره ارتباطلری .

«سرا ورل استن» دا راز نظریه ښکاره کوی چه دهلمند اوسیستان حوزو د کلکولی تپك ددوروتول مدنیتونه لیدلی او تېر کړی دی دسیستان موقعیت چه کوم رول په دی زمینه کښې لوبولی دی دیو مدقق انګلیس توجه ځانته جلب کړی ده دغه مدقق لیکی چه دسیستان موقعیت چه د«سوز» په مینځ کښې په لمر پرېواته خوا کښې اوپه (انو) کښې په شمالی خوا او دبلوچستان اواندوس په کوزنی حوزه کښې پروت دی ډېر اهمیت لری اوداتول نقاط په قبل التاریخ وختونو کښې دیو مدنیت څخه مستفید شوی: (۲)«سراورل استن»

---

(۱) دسیالك حفریات دموسیو ګریشمن دوهم جلد

(۲) دسراورل استن دتالیف اینرموست ایشا ۹۶۵ ـ ۹۵۵ مخ وکتل شی .

ددی مدنیت دظاهری تشابه په باب کښې هم ځیر شوی لیکن داخبره معلومه نده چه ددی مدنیت دقرابت مظاهر دمهاجرت په اثر میدان ته راوتلی دی اویا فتوحات او دوستانه مراودات په دی مدنی قرابت کښې دخیل دی په دی ځای کښې واضح او ښکاره شی دمدنیت عمومیت دی ، اودسند دحوزی «موهنجو ویرو» دپنجاب جنوب (هریه) بلوچستان (نال) خخه داسی آثار لاس ته راغلی دی چه دمختلفو خواوشخه دیوی خوانه دسومری بین النهرین نه دپخوانی مدنیت دسوزدلمړی اودوهم مدنیتونو سره اودبلی خوانه دبحیرهٔ خزردپوری غاړی شمال اکسوس دمدنیت سره زیات شباهت لری اوهر کله چه سیستان ددی ټولو نقاطو په مینځ کښې طبیعی لیاروه نوداخبره امکان لری چه ددغو نقاطو په ارتباط کښې دی دنورو رنګونو خخه یو رنګ دخیل وی . که نقشه وکتل شی نوداخبره به معلومه شی چه دهیرمند دلتای د (انو) او موهنجو ویرو خخه تقریباً ینځه سوه میله لری پرته ده دسیستان دکلکولی تیك یا انه اولی تیك قبل التاریخ دوری دخاورینو لوښو او کودړو - تر مینځ په شکل او تخنیك او رنګ کښې او دهغو لوښو تر مینځ چه امریکائی هیئت پومپلی د (انو) خخه کشف کړی دی ډیر مشابهت موجود دی لکه چه دا نظریه دمسترا ندروس دخواهم تصدیق شویده : (۱)

ددی پورته بیانو خخه داخبره ښکاره او معلومه شوه چه سره ددی په افغانی سیستان اودهیرمند په دلتای کښې قبل التاریخ تحقیقات نوی او تازه شروع شوی او تراوسه ئی دمملکت په ټولو صفحاتو کښې ادامه نده پیدا کړی بیاهم ددی مقدماتی تحقیقاتو اوهغو کشفیاتو له رویه چه اندوس او داکسوس په شمال او دآریانا دتاریخی سرحداتو په شاوخوا کښې سره تماس لری اودهغو لویو مدققینو دعمومی نظریاتو له رویه چه په دی لیار کښې مطالعات لری دا خبره ثابتیږی چه آریانا یوالحی د کلکولی تیك په مدنیت کښې چه دسند دحوزی نه ئی دنیل دوادی پوری انبساط درلود شمولیت نه لاره بلکه دی ځای دحقیقی مرکزیت حیثیت درلود اودالحای دمختلفو خواو دارتباط عامل ؤ چه مونږ به په راتلونکی مضمون کښې دیو کچنی مشال په مرسته په دی موضوع رڼاوغورځوو .

«نوربیا»

(۱) په دی موضوع کښې باید دسرا ورل استن اینر موست نومی تالیف دیرشم فصل د آخرم پوری وکتل شی .

تسلیم

بنا غلی جرار

داشاعر تسلیم نومیږی دمشرقی دمهمنددری دهزارناو دی. دعشق په اورسوی مجلسی او غزلی شاعر دی مونږدهته دروانی اوبې تکلفې طبع خښتن ویلای شو. په ملی وزنئی دیری چاربیتی اوغزلی ویلی دی. په خپل محیط کښې ښه شهرت لری. اشعارئی تول عشقی دی لحینی شاگردان هم لری پخپله امی سړی دی مگر شعرئی دامیا نو په څیر نه دی لحکه چه دی په خپل شعر کښې لحینی داسې جملې استعمالوی چه هغه دیوه عالم شاعر په شعر کښې هم لیدلای شی دوفات نېټه ئی معلومه نه ده. مسودې اونور آثارئی پاته نه دی. دشعر نمونی ئی دادی.

ملی چاربیته :

در ته زاری کوم شما له دیار خبر که را وړې ماله کورو مالت په ما زندان دی
خلکه بې یاره ژوند ون گران دی

ته چه له مانه په رفتن شو ې ته مسافر د بل وطن شو ې
داپاتې عمر څنگه تېر کړ مه ! ستا پخوانی مجلس به هیر کړ مه ؟
دا ستا له لورې چه خبر راشی په ما هغه ساعت اختر راشی
زړه مې پتا باندې رو ښان دی
خلکه بې یاره ژوندون گران دی

❀ ❀ ❀

شما له ورشه یار ته وایه آشنادې غوښتی ئې له خدایه
ستا په فراق ئې زړه ناسور شو غم دهجران ورته منظور شو
یتادې خپل اشنا سلام وایه بیا ئې وتاته دا کلام وایه
لحما دتن په باغ خزان دی
خلکه بې یاره ژوندون گران دی

❀ ❀ ❀

زه چه جدا شوم ستا له څنگه ووتم تول د نام او ننگه
د خپل پردې را ته پیغور شو د لحمکی سر را باندی اور شو
زه نه صبر یږم نه طاقت کومه ستا په بیلتون اوفراقت کومه
او ښکی مې سیند په مخ روان دی
خلکه بې یاره ژوندون گران دی

تسلیمه بس کړه وفادار راغی — چه تا لېږلی و ریبار راغی
تابه دیار په حال خبر کاندې — د تللی یار زیری به درکاندې
دهزار ناو په لمر کښې وریت شولې — بل دتهمت په جرنده چیت شولې

د ناکام شپې دی چه هجران دی
خلکه بې یاره ژوندون گران دی

❀ ❀ ❀

دبېلتون په جرنده دل شوم الهی — زه ترور او مبدل شوم الهی
دا آزار دمور وپلار او که دبل دی — که بدبخته په ازل شوم الهی
کور کمیس راته زندان او جېلخانه شوه — چه د مینی په کورغل شوم الهی
لوغړن دوامې نشی په هېڅ شان — په لنبه دعشق جل بل شوم الهی
مقرره له تقدیرده پری رضایم — چه ټپ سوری دارزل شوم الهی

زه تسلیم د بېلتانه فوځ ته تسلیم یم
زه مغلوب ددې یرغل شوم الهی

❀ ❀ ❀

رستم

ښاغلی عبدالقدوس خان پرهیز

رستم خان دخدایداد ځوی په کام عثمان خیل دکوز کنړ په قلعتکه کښې د(۱۲۷۰ هـ ـ ش) کال په خواوشا کښې تېر شویدی دی په شعر وشاعری کښې دتوکل شاگرد دی رستم خان دتوکل په شاگردانو کښې یو حساس پیاوړی پښتون وو ، دی هم لکه خپل پیاوړی استاد (توکل) امی شاعر و ، چه دتوکل ناستی ولاړی په ده کښې اغېزه کړی نو دشعر ویلو ملکه اوښه قریحه ورته پیدا شوی وه لکه چه ویل کېږی دده دشعر ویلو منشاء همدغه ټکی دی درستم غزلی هم لکه دتوکل غزلی دهغه ځای په خلکو کښې پوره شهرت لری اودقلعتکی اوښېوی دلویو اووړو په خولو جاری دی دالاندینی غزله درستم خان دشعر نمونه ده .

باب دلونگین دی چه دیار په سینه ښوری — څه ښه آئینه ده د یار مخ وته چه گوری
ستر گې دې آهو دی یاجادو یادی صیادی — یانرگس بادام دی دبهار په وږمه ښوری
ناست یمه په طمعه دوصال دخپل جانان زه — سرمی هم که غوڅ شی وابه نوړم یاردلوری
ستادهجر غشې می په زړه باندی کوشیردی — روغ دی لېونی کړم سپین می شوه دستر گوتوری

سود او ددنیا زیان ئې په هغه ساعت هېروی
کله چه رستم دخیال آئینه کښې لیلی گوری

کیسي اونکلونه

دالفونس کاراثر :

دښاغلي بینوا ترجمه

ماگدولین

(۷)

ماگدولینه: «استیفن پرمامین نه‌دی ، مگر زړه ئې غواړی زما سره مزاوجت وکړی اوما ځانته وغواړی .»

مولر: «زه نه غواړم چه‌دا کار وشی .»

ماگدولینه : «ولی؟»

مولر : «ځکه چه دا بنه کار او وړ نه بولم چه‌دی ستا مېړه شی .»

ماگدولینه : «تاته دده دفضیلت او اخلاقو مقام څرګند دی اودی دی دځان ګران دوست بللی دی نو په‌دې صورت کښې څنګه امکان لری داسی سړی چه هغه ستا خوږ موافق ملګری وی دخپلی لور دمړوښی اومېړه توب دپاره وړ ونه بولی .»

مولر: «زه له‌ده سره ځکه مینه لرم چه‌دی یو ښه کریم النفس زلمی دی اودده له‌دوستۍ څخه ځکه سر پیچم چه‌بې وزلی اوخواردی ، پرون اتفاقاً له‌ده څخه کوم کاغذ لوېدلی و، ماهغه ولوست له‌مضمونه ئې څرګنده شوه چه‌ډېر فقیر دی اوپه‌دنیا کښې ذومره څه نه‌لری چه خپل ورځنی ګذران پېوکړی ، اودده نور خپلوان اودوستان هم دده په‌شان بې وزلی خواران دی.»

ماگدولینه : «تاویل چه استیفن یو پوه اوساعی زلمی دی ، څوك چه دافضیلت لری هغه پخپل مړنی همت اوحرکت کولای شی چه دژوندون په‌ډګر کښې ډېر تمول څښتن اوبډای شی .»

مولر: «ددې زلمی په اخلاقو کښې یو قسم غرور دنفس لوړوالی موجود دی چه‌دده‌دترقی اوپرمخ تګ مانع لوېږی .»

ماگدولینه: «مینه اوعشق داخلاقو کوږوالی سموی اودمین په‌زړه کښې مړې آرزوګانی ژوندی کوی آه راشه داعشق چه‌ددې زلمی په‌زړه کښې لمبی وهی مه‌وژنه ـ اوپوه شه که‌ته په‌دې اقدام راضی نشی نودا زلمی او دده تولی آرزوګانی وژنی اوفقط ته دده دهلاکت اومرګ باعث کېږې.»

مولر: «لورجانی ! ترهغی اندازې چه‌زه دوګړو په اخلاقو اوخویو پوهېږم ، ته لانه پوهېږی ، که‌زه وغواړم چه‌په‌دې مزاوجت چه‌مفاسدئې ترمحاسنو ډېر دی بلکه‌تول مفاسد دی ، راضی شم ، نو په‌یقین سره تااوستا راتلونکی ژوند په‌خطر کښې اچوم ، اوهغه څه‌چه‌ستا دژوندون دسعادت اونیکمرغۍ دپاره غواړم ، په‌یوه پلاله‌لاسه باسم ؛ یه ـ لورجانی ! داسی قضیې ته باید بې له‌دعشق اومینی له‌سترګو څخه په‌نوروستر ګو وکتل شی ځکه چه‌محبت همیشه احول اودوبین دی .

پوه شه ! کوم پلار چه‌ته‌پرګرانه یې ، اوتاته ئې په‌خپل زړه کښې ښه‌لوړ مقام درکړی ، ممکنه‌نه‌ده چه‌ستا سره خیانت وکړی اویاتاوغولوی .»

تردې خبرو وروسته ماگدولینه د پلار په مخ کښې پرزنګنو شوه اودزاری اوتضرع لاسونه ئې دده خواته پورته کړه ، په ژړا ژړا ئې له‌ده څخه رحم اوزړه سوی غوښت ، مګر له بده مرغه ددې

زاری اوتضرع داسی وه لکه څوك چه له وچی ډ بری اوبه غواړی اویاپه ښوره مځکه کښې دلاله اوسنبل د کرنی خیال ولری .

په آخر کښې ئې دزاریو واك اوقوت زائل شو دپلارپه پښو کښې پرمځکه ولوېده ، مولردا په هم دغه ځای کښې پرېښودله اوپه بې پروائی سره ځنی ولاړ - اووې ویل : -

« ته نن ناپوه اوجاهله یې ، نه پوهېږی ، مگر ژر به دی عقل سرته راشی اوپوه به شې ! »

ماگډ و لینه خبره :

دمولر نوکر داسټیفن اطاق ته راغی ، اسټیفن دیوې کم رنگی ډېوې له څنگه ناست او کتاب ئې کوت دمولر نوکر دخپل بادار مکتوب ورکړ او بیرته ولاړ دادمولرلمړی مکتوب و ، چه تراوسه ئې اسټیفن ته لیکلی و له همدې جهته ئې دستی پاکت څیری کړ ، په ویلو ئې شروع وکړه ، کاغذ ئې لاوپای ته نه و رسولی چه په ټوله قضیه وپوهېد .

که په دې وخت کښې ئې پرزړه باندی دفولادو په غشی ویشتلی وای ، لاهم ددې مکتوب په څېرئی دده زړه نه زخمی کاوه ، او که دزمانې یوه ډېره ناوړه حادثه پرده ناز له شوې وای اودی ئې په یوه بدترین حال کښې اچولی وای دونی نه متأثر کېده - دمکتوب تر لوستلو وروسته ئې وینی په بدن کښې وچی شوې اوحیران پاته شو - نورئې نوستر گو حرکت نه کاوه اونه ئې رگونه غورځېدل اونه ئې دزړه غورځنگ پاته و - که چادی په هغه گړی لیدلی وای یقین به ئې داخیال شوی و - چه دژوند اومرگ په کشمکش کښې اخته دی ، که هر څوئې حواس او مشاعر لادکاره نه وه لوېدلی مگر اعصاب ئې ددماغ له اطاعته وتلی وو ، او دادراك نوره قوه ئې نه وه .

یو ساعت هم داسی تېرشو ، یووار دسر پرېکړی مرغه په شان له ځایه وغورځېد او خپل شاوخواته ئې وکاته ، داسی ښکاریده لکه پخپل ورك شوی پسی چه گرځی ، نابېره ئې دمولر پرمکتوب چه دده څنگ ته پروت و ، ستر گی ونښتې اوبیائې له سره تر پایه ولوست ، خپل تندی ئې وواهه اوپه یوه غمجن آواز ئې وویل : -

« آه - نن زماد آمالو او آرزو گانو رشته وشلېدله :-

دادی هغه مکتوب چه زه ئې وداسی پریشان حال او بدبختی ته راورسولم . . . هو کی ، نه زه بیده یم اونه دا کاغذ جعلی او ساختگی دی ، مولرزه له خپله کوره ویستم او زما په زړگی کښې ئې زما دمینی آرزو گانی رامړې کړې - زما اودماگډولینی په منځ کښې بیلتون واچاوه - یعنی زما جسد ئې دروح پفراق اخته کړ - مولر خبر نه دی چه څه کوی ، اوددونی لویی گناه په داسی آرامی او خون سردی سره مرتکب کېږی چه ته وائې یوم په مځکه منډی اویا داوبو کوم لښتی له یوې خوا څخه بلی خواته اړوی .

کوم دزړه سخت والی چه مولر زما په نسبت څرگند کړی دی په دنیا به ئې هیڅ سړی دبل په مقابل څرگند نه کړی ؛

هو ، مولر پوه شو چه زه بې وزلی فقیریم او څه نه لرم اوفقر هم داسی گناه ده چه بې وژلو اوقتل څخه ئې په بل شی کفاره نه ادا کېږی ، ځکه ئې نو زماد مرگ دپاره ملا وتړله او غواړی چه ما په بیلتون مړ کړی .

تردې وروسته دغضبناك زمری په شان لېونتوره له ځایه وغورځېد اولکه داچه مولر دده په مقابل کښی ولاړ دی پرده ئې حمله وروړه اوناری ئې کړه ؛

اې ناپوه سپین ږیری ! ستا خیال دی چه زه ستا په لاس کښی یو کمزوری وری اویا دمرغه چوچی یم چه هر کله ته وغواړې ماپخپله چاړه حلال او ذبح کړې ؟

یه - تا اشتباه کړې ده ، زه - هو ، زه پوه عاقل انسان او زړور زلمی یم داسی آرزو گانی او آمال لرم چه په دوی ژوندی یم ، اوباید زیار وباسم چه پهره تو گه وی ځان ورورسوم ، اوکه ونه رسېدلای شم په دی لار کښی مړشم .

سپین ږیرې ! تا اشتباه کړې ده ، ته دومره واك نه لرې چه دمینی ودې مقدسی رشتې ته لاس وغځوې اوهغه پرې کړې . ته چه دومره عاجزیې چه د خپل سپین سر څخه یو ویښته پرې کولای نشی ، نودا واك چېری لری چه یو روح له بله جلا کړې - زما و دماگډولینی په منځ کښې داسی تړون اوپیو ندی چه ستا لاس هغه ته نه رسېږی اوستا قدرت هغه ته لار نه لری نه ستا امرونهی پرهغه تأثیر کوی اونه ستا ممانعت او اجازه په هغه کښې کوم کنډو جوړولای شی ته کولای شې چه ما له کوره وباسې ځکه چه اختیار ئې لرې کولای شې چه لوردی پخپل اطاق کښې بندی کړې ځکه چه

پلارئې یې، مګر دانشی کولای چه زما او ددې زړه یوله بله سره جلا او په محبت کښې مو سکته واچوې زه ددې او دا زما ده .

هغه چا چه انسان پیدا کړی اودژوند او روزی نعمت ئې وربخښلی دی ، ددې نعمت په سبب ئې دده په غاړه کښې دبندګی او مرئیتوب پړی نه دی اچولی او نه ئې زړه ددې نعمت په عوض کښې ځنی ګروکړی دی ، بلکه بالعکس ئې مطلقه آزادی ورکړې ده چه هر څوك چه ئې خوښ وی باندی ګران شی او خوښ ئې ولری او دهرچا سره چه ئې زړه غواړی کینه او بغض غوره کړی - اوس نو ته اې سپین زیری! غواړی چه ستا قدرت دخلقو پرزړو باندی دخدای تر قدرت لوړ وبولی او خپله اراده زمونږ ترارادې پورته وګڼی ؟؟

ستا ئې په مونږ څه؟ څه کار او څه رابطه راسره لري؟ دژوند دوره دی اوس وپای ته رسېدلې او زر به له دې دنیا ستر ګی پټی کړې ،زه او ما ګډولین نورستاوجودپرڅه نه شمېرو ، اوستاژوندون څه داهمیت په ستر ګو نه ګورو - که کله کله هم تا ته ګورو کاته به مو داسی وی لکه دفراغت په ساعت کښی چه دزاړه تاریخ صفحې ګورو، ستا عقل زنګ نیولی او د سپین زیر توب توره پر ده باندی غوړېدلې ده نو ځکه داممکنه نه ده چه مونږ خپل صورت دشفافی هنداری په شان پکښې ووینو او خپل راتلونکی سعادت او بدبختی دهغه له رویه محا کمه کړو .

ته سپین زیری حریص او طماع یې ، ځنګه چه ستا فکر شو چه دژوند چینه دی و چیزی اودمرګ تور کارګه ستا پر سپین سر خپل وزرونه غوړ ولی دی نو تصمیم دی وکړ چه زمونږ دانوی سعادتمند ژوندون په غم ولړی اوسره جلا موکړې ستا مثال دهغه ناپوه یا چاپه شان دی چه دخپلو ماشو مانو ، وړو کوونی به ئی چښلی او ځېښلی او خیال ئې کاوه چه په دی وسیله به خپل عمر دېر اوژوند به اوږد کړی .

اې ناپوه سپین زیری ! مانه غو ښته چه تا او ستا لور ته کومه صدمه او آزار ورسوم ، بلکه بالعکس می آرزو درلوده چه ددې را تلونکی ژوند پېر ډول چه وی خوښ ، نیکمرغه او سعادتمند کړم ، زه تر تا، ستا دلور دېر خیر خواه یم ، ځکه چه کوم کار چه نن تاوکړ نتیجه ئې ستا دلور دائمی عذاب او تل بدبختی ده .

تردې ټولولا داعجبه ده چه تا پخپل مکتوب کښې دخپلوی لافی وهلی وی ، اوزه دی خپل اخلاص او ورور ګلوی ته بللی یم - او داخو داسی ده لکه چه تا تصور کړی چه ستا ناپوهی اوسفاهت ماته هم سرایت کړی دی زه نه پوهېږم چه ته څه ټګمار اومتصنع سپین زیری یې ته زما د مرګ او اعدام حکم لیکی او بیا می میلمستیا ته بولی ، حلوا اوخوږی راته وړاندی کوې زهر قاتل پرهغو پاشې زما په احترام خولی له سره اخلې مګر په زړه کښې می خنجر وهې ؟

دلته ئې ستونی له ژړا ډک ډک شو ، او ژړغونی پرخپل ځالی ولوېد ، دشیر خوره کوچنی په خپر ئې په ژړا پیل وکړ ،او بیا پرزنګنو شو داسمان خواته ئې لاس پورته کړوې ویل :

« آه خدایه! ته خپل رحمت او احسان پرما واوروې ته خو پوهېږې چه زه یوضعیف بې یاره بینوا سړی یم بې تاخوك نه لرم ، نو ته زما ملګری شه اوزما سره مرسته وکړه ،او په دی ژور او وژونکی ګرداب کښې لاس ونیسه ،زما خدایه! زه اعتراف کوم چه ما ګناه وکړه پخپل ځان غره شوم ، پخپل واك او قدرت می اعتماد وکړ ،ستا له قدر او قضا اودهغو له نفوذ څخه ستا د بندګانو په سر نوشت کښې غافل شوم، سعادت او نیکمرغی چه دهغو لاس ته راوستل بې ستا له مرستی غیر ممکن و، ما ځانته اختیار کړ- لوی خښتنه ! زما ګناه راو بخښه او زما لاس ونیسه - آه ، زه تر ټولو خلقو بې وزلی بینوایم تر ټولو عاجز او بیچاره یم ، صبر او قرار می په یووار له لاسه وتلی دی . . . . »

تردې وروسته یو عمیق سکوت باندی غالب شو او لاسونه ئې هم هغه رنګه پورته نیولی او د آسمان لور ته یې داسی کتل لکه دملاء اعلی څخه چه ها تفی آواز او ځواب ته منتظر وی . خو دقیقی همداسی تېرې شوی، ناڅاپه ئې داوښکو له ترځه چه دده دستر ګو په کنجانو کښې ولاړی وی، یو نورانی شبح ئې ولیده چه دده په مخ کښې ولاړ وه ، په دې وخت کښې ډېره مړه اودسپوږمۍ وړانګې پنجرې ته ننوتلی وی - په لستونی ئې خپلی اوښکی پاکی کړې چه وئې کتل هغه نورانی شبح ماګډولینه وه .

(نور بیا)

دمطبوعاتونړۍ

ستوری

دوطن په‌جر ایدو کښې به‌مو اوستلی وی چه‌په‌دی پورتنی نامه یو نوی اخبار دمیمنې په‌ښار کښی تاسیس شویدی او په هفته کښی یو ځل خپر یږی ددې اخبار لمړی ګڼه‌مو نږته راورسیدله چه‌فارسی او پښتو ښه ښه‌مضمو نو نه ئی لرل ـ د دی نوی ستوری له‌سترګکو نو څخه داسی معلو مېده لکه چه یوه‌ځلانده رڼا اور وښانه لمر ورپسی‌وی چه دمیمنې شاوخوا به دعلم او عرفان په‌رڼا سپین سبا کړی او دعمو می ذ هنیت دښه والی دپاره به‌ښه خد متو نه وکړی شی، دهمدغی هیلی به‌اثر کښی مو نږ ددی ستوری په ختو ډېر خوښ یواوله لوی څښتن څخه ورته زیات موفقیت غواړو ـ څنګه چه‌ددغې نو موړې جریدی له لمړی ګڼې څرګند یږی په دهغه اخبار کښی پښتو هم برخه لری اویقین لرو چه په دغه نوې رڼا کښی د پښتو رڼا هم ګډه ده.

❀ ❀ ❀

د اصلاح ۱۵ کال

زمو نږ دمملکت نوموړی او مؤقرورځنی اخبار چه څو رازه ښېګڼی او مزیتو نه لری او دهر چا د استفا دې دپاره پکښی څه پیدا کېږی یعنی څنګه چه‌نوی نوی او تازو نه خبرو نه لری همدا رنګه پکښی علمی او اصلاحی او سیاسی مقالات هم وی او ددې لامله‌چه هره ورځ خپر یږی اودعام وخاص لاس‌ته ورځی دملی‌ژبی (پښتو) دپاره هم لوی خدمت کوی پدی‌ورځو کښی ئی څوارلسم کال پوره شو او په ۱۵ کال ئی پیل وکړ د دی کال د نوی کید و صمیما نه تبر یکات مو نږ خپل ښاغلی‌اوفاضل ملګری محمد قدیر خان تره کی‌اودده نورو ملګروته وا یواو له لو ی خدایه ورته نورتو فیقات هم غواړو چه‌د پښتو برخه پدی کال کښی نوره‌هم زیاته کړی.

«دصحافت څانګه»

دکابل دمجلی د (۱٤۹) گڼی غلطنامه

مخ	ستون	کرښه	غلط	صحیح
٤	۲	٦	راښئی	راښیی
»	»	۱٥	قندهار	دقندهار
٥	۲	۳٤	حسن	مسن
٦	»	٦	په حاجی	به حاجی
»	»	۱۰	دستا	ستا
۸	۱	۹	اقتضا	اقتفا
۱۰	۲	۱۳	ژېر	ژېړ
۱۱	»	٦	بړیو	پېړیو
۱۲	»	۱۰	ډېر	ډېری
»	»	۱٥	پړیو	پېړیو
۱٤	»	۱۳	وینا	دنیا
۱۸	»	۹	پېښی	پېښ
۲۰	۱	۳	ډېره	ډېر
»	۲	۷	دقسم	ده قسم
۲٤	»	۲۱	حوادڅو	حوادثو
»	۱	٤	دهنه	دهغو
»	»	۲۰	دزمانه	دزمانې
۲۷	۲	۱٤	بنو	نیبو
۲۸	»	۸	ښو	شو
»	»	۲۰	دنقلی	دنتلی
۳۰	۱	۱٥	ددی کار	دی کار
»	۲	۲۱	خواد	خواو
»	۱	۲٤	پیدا شوی ده	پیداشوی دی
۳۱	»	٤	وده	دوه
»	۲	۱۹	فکر	په فکر
»	»	۳٦	درکوم	ورکوم
۳۳	۲	۲۱	شاخ	ښاخ

مخ	ستون	کرښه	غلط	صحیح
٣٤	٢	١٩	السعد	اسعد
٣٦	١	٥	نمونی	غونی
»	٢	٩	ورته	ورته
»	»	١٦	منی	منی
»	»	٢٢	یعنی ئی دا	یعنی مطلب دا
»	»	٢٣	اسی	داسی
٤٢	١	١٥	مضون	مضمون
٤٥	٢	١١	ددي	دده
٤٦	١	١٨	ورکړه	وکړه
٤٧	»	٢٨	ډېر	ډېری
»	٢	٧	پتی	پتی
»	»	١٨	دیر	ډیر

KJ